
# دویمه سقاوي




سور افغان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه سقاوي

سمسور افغان

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

۱۳۷۷ ل

خیبر بازار پشاور
فون: 212534

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## كتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | دويمه سقاوي. |
| ليكوال | : | سمسور افغان. |
| خپروندی | : | د افغانستان د كلتوري ودې ټولنه-جرمني. |
| د خپرونو لړ | : | (۱) |
| كمپوز | : | ايشياسافت، پېښور - پښتونخوا |
| كمپوزر | : | حفيظ الله. |
| شمېر | : | ۵۰۰ ټوكه. |
| د چاپ وخت | : | ۱۳۷۷ل، ۱۹۹۸ع. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

- اعلیحضرت غازي محمد نادرخان او

ملي اتل محمدګل خان مومند ته

چې لومړۍ سقاوي یې را وپرځوله.

- د هېواد هغو معصومو تنکیو

او ګلالیو زامنو ته،

چې دویمه سقاوي یې ړنګه کړه او

د خپلو وینو او سرونو په قربانۍ یې

هېواد له تجزیې څخه

وژغوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیو لیك


سرلیک ... مخ

دویمه سقاوي، یو تاریخي او سیاسي عبرتناك اثر ........ ۱.

پیلامه ........ ۳.

لومړی سقاوی ته یو لنډ نظر ........ ٦.

په حاکمیت کې محکومیت ........ ۱۴.

اقلیت د اکثریت په رول کې ........ ۲۰.

کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه ........ ۲۲.

پرچم واکې: پښتو او پښتانه ........ ۳۳.

د ډاکټر نجیب الله حاکمیت او د پښتنو محکومیت ........ ۴۴.

طاهر بدخشي او د ستمیانو جوړښت ........ ۵۷.

- "برابر ملیتونه" او د هغو تعبیرونه ........ ٦۵.

- دویمه سقاوي ........ ۷۰.

- رباني د کارمل په فکري او د بچه سقاو په عملي رول کې ........ ۷٦.

- مسعود د یو اتل په څېره کې بو ګوډاګی او د دویمې سقاوی
یو اساسي لوبغاړی ........ ۸۵.

- د هېواد د اقتصاد ویجاړي او د پیسو انفلاسیون ........ ۱۰۳.

- ټولنیز حالات ........ ۱۱۷.

- قومي، سیمه ییز او ژبنی کینه ........ ۱۲۹.

- د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زیانونه ........ ۱۴۰.

- اقلیتونه، سیاستونه او سازشونه ........ ۱۴۸.

- د دریمې سقاوی د مخنیوي او د افغانستان د ملي یووالي
او ځمکنی بشپړتیا د ساتنې په باب څو وړاندیزونه ........ ۱٦۳.

- اخځونه ........ ۱۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويمه سقاوي
# يو تاريخي او سياسي عبرتناك اثر

"د افغانستان د کلتوري وډې ټولنه - جرمني" لپاره دا د خوښۍ خبره ده چې د خپلو ملي او کلتوري هلو ځلو په لومړي ګام کې د هېواد د يو ځوان او تکړه ليکوال "سمسور افغان" يو ډېر مهم تاريخي مستند کتاب، د هېواد دتاريخ او سياست مينه والو او ګرانو دوستانو ته وړاندې کوي.

د ښاغلي "سمسور افغان" دغه اثر له تاريخي پلوه، د ماضي د يوې پاڼې په توګه ارزښت لري او هم د راتلونکي لپاره د يو عبرتناک سياسي، تاريخي درس په توګه پوره پاملرنه ورته پکار ده. ښاغلي ليکوال په تاريخي برخه کې له تحليلي روش څخه کار اخيستی او د وروستيو پينځو کلونو د ډېرو حالاتو خپله له نږدې شاهد پاتې شوی او له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې كتاب د يو لړ مستندو پښتو، لكه كلكسيون داسې دی.

موږ دغه راز ښاغلي حاجي فضل الرحمن، انجينر حبيب رسول، ډگروال حضرت رسول، ډاكټر عبدالرسول، سيد آغا كونړي، ډگروال حضرت عمر او شېرولي شېر څخه هم د زړه له كومي مننه كوو چې د دغه مهم كتاب د چاپ د لگښتونو له برابرولو سره يې د "افغانستان د كلتوري ودې ټولنه" د دې جوگه كړه چې دغه اثر چاپ كړي.

باور لرو چې د دغه كتاب مطالعه به د افغانستان د اوسنيو پښتو له څېړونكو، مينه والو سره د پښتو په ښه څېړنه كې پوره مرسته وكړي.

په درناوي

د افغانستان د كلتوري ودې ټولنه

جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پېلامه

د افغانستان د وروستيو شلو کلونو تاريخ ډېر په وينو لړلی او غم لړلی دی. (۱۳۷۱-۱۳۷۵) کلونه د دې غم لړلو پېښنو يو بل باب دی چې بايد نه وای راغلی، خو راوستل شو. په دې کلونو کې هغه مانيزه او مادي شتمني هم لوټ او تالان شوه چې زموږ ولس لا هغې ته هيلې لرلې او د تيرې قربانۍ داډ او تسل يې پر همدې کاوه.هيله يې وه چې څه د خپل والک او خپل اختيار يو ملي او اسلامي حکومت به جوړ کړي، د توري په زور ګټلې حيثيت به يې خوندي پاتې شي او د متمدنو ملتونو په څېر به په نړيوالو چارو کې خپله برخه او ونډه ولري. له همدې کبله يې د نړۍ په تاريخ کې د قربانۍ او اتلولۍ داسې بې ساری ريکارډ ټينګ کړ چې نه د نړۍ په جګړه نيز تاريخ کې ساری لري او نه د ملتونو په قربانۍ کې؛ يو تش لاسي ولس يو اتومي او ذروي زبرځواك سره ډغره ووهله او هغه يې اتم بم په لاس د نړۍ له سياسي صحنې څخه ګوښه کړ، خو هغوی هم په آرامه کښېناستل، د خپلو پوځي ماتو د جبران او خسمانې لپاره يې يو ځل بيا هغه اصل او وسلې ته مراجعه وکړه چې له دوی څخه پنځوس کاله دمخه انګرېزانو کارولې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ د انګرېزانو په باب لیکلي چې "هغوی له افغانستان نه په پوځي ډګر کې مات، خو په سیاسي برخه کې بریالي ووتل." یوازې څو کاله وروسته انګرېزانو د یوې ملي توطئې (لومړی سقاوی) له لارې د افغانانو ځوان حکومت له پښو وغورځاوه او د یو متمدن دولت نوې راټوکېدلې هڅې یې ټولې شنډې کړې.

روسان هم د انګرېزانو په شان له افغانستانه په پوځي ډګر کې مات، خو په سیاسي برخه کې بریالي ځکه ووتل چې نه پرې چا د ملامتۍ پړه واچوله او نه ترې چا د جګړې د زیان جبران وغوښت. هغوی د "جهاد" په لیکو کې ځان ته داسې استحکامات کړي وو چې هغه د دوی له ښکاره لاسپوڅو حکومتونو او پلویانو څخه هم وفادار وو او په زیاته ګټه ورته تمام شول. روسانو پر افغانانو د دویمې سقاوی په بڼه یو بل ناورین او ناتار تحمیل کړ، چې په ورانۍ او ویجاړۍ کې لا تر هغه بل څو چنده زیات دی. روسان سره له دې چې د افغانستان د جګړې له امله په نړۍ کې له سیاسي او پوځي پلوه ګوښه شوي، خو اوس یې هم افغانانو ته پام دی او د یو داسې دښمن په سترګه ورته ګوري چې ټول شان او شوکت یې ورته له خاورو سره برابر کړی دی. روسانو د دغې عقدې غچ د خپلو څو تنو پټو او اوس د ښکاره لاسپوڅو په واسطه له افغانانو واخیست او لا یې اخلي.

په دې اثر کې ځینې هغو ټکو او مسایلو ته اشاره شوې چې د دغه وروستي (۱۳۷۱-۱۳۷۵) پنځه کلن ناورین د رامنځه کېدو سبب شوي او هم د دې ناورین په څرنګوالي، د هغه په لوېغاړو او له هغه څخه د را پیدا شویو زیانونو په اړه یو لړ مسایل او حقیقتونه بیان شوي دي.

دا چې ولې دا اثر "دویمه سقاوي" ونومول شو، وجه یې دا ده چې د پېښو د تکرار ورتوالی سره زیات دی. دا نوم "دویمه سقاوي" په قصدي توګه د رباني او مسعود د اداري لپاره نه دی کارېدلی، بلکې هغوی په خپله هم په دې نوم افتخار کاوه، او ویاړېدل پرې. کله چې یو څوک پر یوه خبره ویاړ ي، نو روح او روان یې د هغې له مانا سره پوره اړخ لګوي. زموږ عام ولس او زیات روښنفکران هم د رباني - مسعود جنجالیزه واکمنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دویمې سقاوی) په مانا یادوي. خپله مسعود او رباني هم د حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) د لارې لاروي دي او د هغه پر نامه ویاړ کوي، نو ځکه مې د اکثریت له غوښتنې سره سم دې اثر ته "دویمه سقاوي" نوم غوره وباله.

که په دې اثر کې څه داسې حقیقتونه او ناویلې خبرې بیان شوي وي چې هغه زموږ د ولس د ذهن په روښانتیا او د خپل هېواد په وړاندې د هغو د ویښولو په برخه کې څه اغېز او ګټه وکړي، نو دا به زما لپاره د خوښۍ سبب او لامل شي. ژوندی او سرلوړی دې وي افغانستان، مړه او سپېره دې وي د هغه دښمنان.

په درنښت

سمسور افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی سقاوی ته یو لنډ نظر

کله چې انګرېزانو لسـه افغانانو څخه په درېو سترو جنګونو کې د ماتې مزه وڅکله او نړیوال پرستیژ او حیثیت یې کمزوری او پیکه شو، نو له افغانانو نه د یو ډول غچ اخیستلو په لټه کې شول. په افغانستان کې هغو د لاسوهنې او کور ورانی ښه پخه تجربه لرله. پر ۱۹۱۹ کال چې انګرېزانو په رسمي ډول په نړیواله کچه خپله ماتې ومنله او د افغانانو بری یې تصدیق کړ، نو په افغانستان کې د یو نوي، ښکلي او ښېرازه تمدن د زرغونېدو او ټوکېدو هیلې پیدا شوې، په نړیواله کچه د افغانستان نوم او نښان څرګند شو، په ټوله نړۍ کې زموږ هېواد د یو ځانګړي حیثیت، ویاړ او پرتم خاوند شو. افغانستان په ډېرې چټکۍ سره د تمدن او پرمختګ په لور ګامونه واخیستل.

انګرېزانو سره له دې چې په رسمي ډول د افغانانو سیاسي خپلواکي او خپله ماتې منلې وه، خو بیا یې هم له لاسوهنو څخه لاس نه اخیسته. دا ځل د یوې بلې تجربې د ازمېښت په لټه کې شول. دوی د دې کار لپاره دا وار داسې یو شخص وټاکه چې هم ساده او امې و او هم یو لږکي قوم ته منسوب و، انګرېزانو دا ټینګ کاوه چې د لږکیو د حکومت ظرفیت څومره دی، ایا دوی هم په راتلونکي کې د واك د یو کاندید او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکتور په توګه مطرح کېدای شي او که نه؟

د انګریزانو ګټې تضمینولای او پاللای شي او که نه؟ د حکومت کولو او د هېواد د کنټرول ظرفیت یې څومره دی؟ په ټولنیز ثبات او بې ثباتۍ کې یې ونډه څومره ده؟ همدغو پوښتنو ته د ځواب موندلو، د یو نوي تمدن د پر شا تمبولو او په یوه بله بڼه له افغانانو څخه د غچ اخیستلو لپاره انګرېزانو (حبیب الله کلکاني [بچه سقاو]) انتخاب کړ. په خپلو مرستو او د کورنۍ ارتجاع په ملتیا یې هغه د دې جوګه کړ چې لومړی ګړ و بړ جوړ کړي او بیا نوی راټوکېدلی تمدن له سقوط سره مخامخ کړي.

"حبیب الله کلکاني د امین الله زوی پر ۱۸۹۰م کال زېږېدلی دی"(۱). "هغه د شمالي د کلکانو د ډکو د کلي اوسېدونکی و، پلار یې څه مهال مالونه پول بیا یې سقاوي غوره کړه، غوښتل یې چې زوی یې څه درس مکتب ووایي، خو ویې نه وایه، له بدو او اوباشو هلکانو سره یې ناسته ولاړه شوه، په غلا، قماربازۍ ور روږدی شو، پر۱۹۲٦ کال په شاهي پوځ کې عسکر شو او د یوه عادي عسکر په توګه یې دنده سرته رسوله، یو ځل یې د لسو ورځو لپاره رخصت واخیست او کور ته لاړ، له ځان سره یې سرکاري وسله هم په پټه یوړه، کله چې له کابل څخه نهه میله لرې د حاجي کلا کوتل ته ورسېد، درې غله په لار کې پرې راپورته شول، [د چا خبره پر غله، غله پېښ شول] له هغوی سره یې مقابله وکړه او یو غل یې وواژه، کله چې له رخصتۍ وروسته بېرته کابل ته راغی، نو بیا په پټه د وسلې په وړ لو او د غله د وژلو په تور تر پوښتنې لاندې راغی، له پینځو میاشتو سزا وروسته خوشې شو، او پېښور ته راوتښتېد، د قصه خوانۍ په بازار کې یې له محمد صدیق بوټ خرڅوونکي سره مزدوري کوله. پر ۱۹۲۷ کال یې له سماوارچي سره کار کاوه، د ۱۹۲۷ کال د دسمبر پر شلمه ده ته له کابله خبر راغی، په پرده او بدله څېره خپلې سیمې ته ورسېد او په داړه مارۍ یې پیل وکړ."(۲)

ځینې نورو څېړونکیو د هغه په باب ویلي چې هغه یو ډېر کورمغزه وګړی و، د حافظې ځواک یې نه درلود، څکه خو یې "په دریو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو کې له څو ملایانو څخه د بغدادۍ قاعده هم زده نه کړای شوه، کله چې یې پلار د هغه له زده کړې څخه بیخي مایوسه شو، نو هغه یې له ملك محسن خان کلکاني سره چې د کلکانو یو غټ خان و، مزدور کړ، خو له یو څه ځنډ وروسته یې دا کار هم پرېښود او د سیمې د داړه مارانو له ډلې سره یو ځای شو، وروسته یې د افغانستان په ځینو نورو سیمو کې هم په چور او چپاول لاس پورې کړ، کله چې پوه شو نور نو د خلکو حوصله تنګه ده، او دولت د ده نیولو په هڅه کې دی، پر ۱۹۲٦ کې له محمد اعظم خان سره د افغانستان خاوره پرېښوده او د پښتونستان پولې ته داخل شو، څو میاشتې یې هلته چور و چپاول وکړ او د غلا بازار یې ګرم کړ، وروسته د ده او د ده د صمیمي ملګري محمد عظم خان تر منځ مخالفت پیدا شو، د سقاو زوی پېښور ته راغی او دلته له محمد صدیق بوټ خرڅوونکي سره مزدور شو. ځرنګه چې د غلا په وجه دی دلته هم تر څارنې لاندې و، نو د محمد اعظم خان بېلتون او خپګان ده ته ډېر ګران تمامېدل، نو ځکه خو پاړه چنار ته لاړ او هلته له هغه سره پخلا شو."(۳)

ځینې کتونکي او څېړونکي په دې نظر دي چې د سقاوی زوی په پېښور کې د اوسېدو په وخت کې "د برتانیې له استخباراتو سره تماسونه لرل، مثلاً پر ۱۹۲٦م (۱۳۰۵ل) کې یې په پېښور کې د سرحدونو د پولیسو له رئیس پیراون سره اوږدې لیدنې کتنې لرلې. ځینې نور څېړونکي نظر څرګندوي چې د کابل د اشغال په لومړیو هڅو کې د سقاویانو د فعالیت په ساحو کې برتانوي استازي هم موجود وو او د سقاو زوی د برتانیې له نماینده ام فرنیس سره شخصي تماسونه درلودل."(۴)

میر غلام محمد غبار لیکي: "بعد از آنکه در ماورای خط دیورند به دزدی در پاره چنار متهم و محکوم به یازده سال حبس گردید، دفعتاً بطور مرموز رها شد و به افغانستان برگشت."

کله چې افغانستان ته را وستول شو، نو د شمالي د کوهدامن په سیمه کې یې نور غله او داړه ماران هم پر ځان را ټول کړل، د لارې په شکولو، لوټ او تالان یې لاس پورې کړ، له خپلو غلو سره د مرکزي دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وړاندې ودرېد، کورنۍ ارتجاع، ځینې تنګنظره روحانیون او انګلیسي استخبارات ټوله سره یو ځای شول او د کابل د نیولو پلان یې جوړ کړ.

د ۱۹۲۸ کال په نوامبر (۱۳۰۷ل کال دعقرب په پای) کې یې د کابل او هېواد د شمال ولایتونو لاره قطع کړه، د ۱۳۰۷ل کال د لېندۍ پر ۲۲مه یې دسرای خواجه سیمه ییز حکومت له منځه یوړ، حبیب الله کلکاني د۱۹۲۸ کال د ډسمبر پر ۱۳مه (۱۳۰۷ لیندۍ) د برید لپاره د کابل شمال ته راغی او د خیرخانې له کوتل نه را واوښت او په شهر آراء کې ودرول شو.

د ۱۹۲۹م کال د جنورۍ پر ۱۳مه غازي امان الله خان له سلطنت نه خپله خلع اعلان کړه او د جنورۍ پر ۱۵مه سردار عنایت الله خان په داسې حال کې چې د سقاو زوی د ده کېپک سیمه نیولې وه او کابل یې محاصره کړی و، د پادشاهۍ اعلان وکړ، د جنورۍ پر۱۷ بېرته خلع او واك د سقاو زوی ته ورسېد، د جنوري پر ۱۸مه د مازیګر ۵ بجې (۱۳۰۷هـ ش د مرغومي ۲۸) د سقاو زوی هم ارګ ته راغی او د ګلخانې په ماڼۍ کې کېناست او په دې ترتیب د افغانستان د تاریخ یوه توره دوره پیل شوه.



د سقاو زوی د واکمنۍ پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام محمد غبار په دې اړه ليکي: "شخص حبيب الله طبعاً از اداره يك كشور نى از اداره حسابي يك قريه هم عاجز بود."

"اينها چون از عصر و حتى محيط كابل عقب مانده افتاده تر بودند و هر جا سرى مى يافتند در صدد بريدن ان مى شدند، تا دريك عرصه در شده هيچ سرى باقى نماند و آنها به تنهايى سر افرازند، پس به شمشير و زنجير و اعدام تكيه مى كردند."

"انقراض سلطنت شان امان الله با استقرار حكومت اغتشاشى بچه سقاو توام بود، و اين واقعه در افغانستان به حيث يك "فاجعه" تلقى گرديد، مخصوصاً در بين طبقه روشنفكر. وحدت ملي افغانستان به واسطه توليد نفاق عمومى بنامهاى پشتون و تاجك هزاره و ازبك، سنى و شيعه و امثال ان برهم خواهد خورد، و بالاخره فضاى ديگر و قشر ديگر ايجاد خواهد گرديد كه بامنافع و مصالح مردم افغانستان ارتباط نداشته و بساز ديگران خواهد رقصيد."(٥)

د سقاو زوى په واكمنۍ سره په ټول هېواد کې يوه سراسري انارشي رامنځته شوه، نوى را ټوکېدلى تمدن په شا وتمبول شو، د خلكو عزت، حيا، سر او مال په خطر کې شو، پوهې او كلتور او د پرمختګ دروازې وتړل شوې، ان تر دې چې بچه سقاو لومړى كار چې وكړ دا و چې: "په خپله كابينه کې يې د معارف او عدليې وزارت ته ځاى ور نه كړ."(٦)

نو هغه حكومت چې نه پكې عدل وي او نه هم د علم ډيوه، سړى خپله اټكل كولاى شي چې هغه به څومره دجهل، تيارو او فساد سرچينه وي.

سردار فيض محمد خان زكريا وايي: "من شخصاً بچه سقاو را از نقطه نظر اينكه پسر يكنفر سقاو بود انتقاد نمى كنيم {باشد متاع نيكواز هر دكان كه باشد} ليكن اعمال بچه سقاو، ظلم و ستمگارى بچه سقاو، جهالت و وحشت بچه سقاو را ننگ وعار بشريت ميدانم و در عصر بيستم سلطهٔ جهل و وحشت در افغانستان يك حادثه بس ناگوار و انفعال انگيز است.(٧)

مارشال شاه ولي خان وايي: "اگر اين شورش دوام ميكرد، شيرازه

وحدت کشور بهم می خورد."(۸) څکه خو د هېواد غازیان د جهل او تیارو د واکمنۍ د له منځه وړلو لپاره خپل ملي مسوولیت او رسالت ته متوجه شول او د هغو د راپرځولو په لټه کې شول. سپه سالار غازي محمد نادر خان د دغو غازیانو او هېوادپالو سرلښکر و چې دا انارشي او سراسري ګډوډي یې و نه شوه زغملی نو څکه یې د هغې را پرځولو ته ودانګل، غازي محمد نادر خان په هغه وخت کې د دې سقاوي انارشۍ په باب وایي: "اگر این حالت دوام کند، مملکت ویران، اوضاع خطرناك و ستقلال که با قرباني های متوالی بدست امده از دست خواهد رفت، انگاه زندگی برای ما چه معنی خواهد داشت؟"(۹)



د سقاو زوی تر واکمنی وروسته

محمد نادر خان او نورو افغان مشرانو او غازیانو دغه د جهالت، وحشت واکمني د افغانستان او زموږ د خلکو لپاره یوه خطرناکه ناروغي وبلله چې هم یې د هېواد ژوند تهدیداوه او هم د ولس ژوند، نو ملي لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې را ټول کړي. سره له دې چې په دې وخت کې د ده د کورنۍ ځينې غړي له سقاو زوی سره اسيران وو او د محمد نادر خان د مبارزې له کبله ورته هره شېبه د مرگ خطر و او د سقاو زوی به همدا اخطارونه ورکول "من از سلطنت دست نمی بردارم، ملتفت باشید که اگر بکابل نیاید و امر مرا نشنوید عایله شما تااکنون در کمال احترام میباشد امر میدهم که بصورت بسیار فجیع کشته شوند". (۱۰) خو غازي محمد نادر خان د دې خبرو او اخطارونو پروا و نه کړه، ځای پر ځای يې سقاويانو ته ماتې ورکړه.

د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر پر ۱۵مه غازي محمد نادر خان د ارگ سلامخانې ماڼۍ ته ورسېد، د سقاو زوی (۹) مياشتنۍ واکمنۍ يې ختمه کړه. هغه او د هغه ځينې نږدې ياران يې په دار وځړول او افغانستان يې له دې ناروغۍ څخه وژغوره.



د سقاو زوی او د هغه څو تنه ملگري د دار ځړولو پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**

١- دوکتور خلیل اله وداد بارش، امیر حبیب الله کلکاني مردی در حریق تاریخ، پېښور، ١٣٧٧ل کال، ٦٦ مخ او نور بېلا بېل مخونه.
٢- کابلي والا، دمولانامحمد صادق حسین صادق صدیقي اثر،د پوهندوی عبدالخالق رشید تبصره، هیله مجله، ١٣٧٦ل کال، ٦مه ګڼه، ١١٠ مخ.
٣- مولانا اغا رفیق بلند شهری، رویداد های بغاوت افغانستان، مترجم آراکوزیاوال، کراچی، ١٣٧٤ کال، ۴ مخ، ٦ مخ.
۴- تاریخ معاصر افغانستان،از استرداد استقلال تاانقلاب ثور،کابل،٦٦مخ.
۵- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ١٣۴٦ل کال، کابل، بېلا بېل مخونه.
٦- دوکتور خلیل الله ودادبارش، هماغه اثر، ١١٦ مخ.
٧- مارشال شاوه ولي خان، یاداشت های من، کابل، د سردار فیض محمد خان زکریا سریزه. ج مخ.
٨- مارشال شاه ولي خان، پورتنی اخځ، ٢ مخ.
٩- سپه سالار محمد نادر خان، // // ٣٩ مخ.
١٠- حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) // // ۴٧ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په حاکمیت کې محکومیت

له کلونو راهیسې او په تېره بیا په دې تېرو دوه درې لسیزو کې ډېر ځله دا خبرې اوربدل شوې، تحریك شوي او یا په شعوري او ناشعوري ډول ورته لمن وهل شوې چې ګنې "له سوونو کلونو راهیسې پښتنو پر افغانستان حکومت کړی، تول "حاکمیت" د دوی و او واړه قومونه او لږکي ترې محروم وو."!؟

ظاهراً خو دا خبره د ځینو ذهن تېر ایستلای شي ځکه چې د پښت (نسل) له پلوه له لوی احمدشاه بابا څخه رانیولې بیا تر اوسه پورې د بچه سقاو، ببرك کارمل او برهان الدین رباني له نیمواکو اوترینګلو حکومتونو پرته چې کارمل یې کشمیری او دوه نور یې تاجـکان دي، بل چا حکومت نه دی کړی، خو که لږ ځیر شو خبره داسې نه ده. په حقیقت کې په یوه وخت کې دوو متوازي حکومتونو د یوه حکومت په نوم حکومت کړی. یو حکومت هغه و چې سیاسي، دفاعي، تولنیزې او نورې چارې یې سرته رسولې او ظاهراً اکثره پښتانه یې په حساسو پوستونو کې مقرر وو. بل دفتري او ژبنی حکومت و چې هغه تولې چارې یې په دفتري قلمرو کې شاملولې، د کتابت او نورې چارې یې سمبالولې. په دویم حکومت کې پښتانه هم وو تاجیکان هم، قزلباشان او نور واړه قومونه هم، خو که هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوك وو هغو ټولو دفتري چارې په فارسي ژبې سرته رسولې. له عملي پلوه دا حکومت د فارسي ژبو په لاس کې و، دا چې د پښت له پلوه هر چا په دې حکومت کې کار کړی دی او یا یې کاوه که هر ځوك وو خو ځرنګه چې ټول د فارسي ژبې د پرمختګ او حاکمیت سبب کېدل، عملاً فارسیوانان یا فارسي ژبي ګڼل کېدای شي. له همدې کبله زیاتو فارسي ژبو ورو ورو دربارونو ته مخه وکړه او له ډېرو هغو ستونزو څخه ځه ناڅه بېغمه شول چې د هېواد لوی اکثریت ورسره مخ و.

په دې کې شك نه شته چې ځینې وختونه به ځینو شاهانو او دربارونو پښتو ژبې او پښتني فرهنګ ته هم ځه ناڅه پاملرنه کړې وي لکه شاه حسین هوتك، امیر شېرعلي خان، امیر عبدالرحمن خان، غازي امان الله خان او غازي محمد نادرخان خو هېڅکله هم د اکثرو دربارونو له خوا د فارسي ژبې له حاکمیت او هغې ته له پاملرنې سره پرتله کېدای نه شي. د ساري په توګه "امیرشېرعلي خان د یوه فرمان په ترڅ کې عسکري چارې، اصولنامې، نومونه او نور له انګریزي څخه په پښتو کړل"(۱) چې تر ننه پورې دوام لري، خو له احمدشاه بابا څخه وروسته په دې دومره کلونو او واکمنۍ کې هېڅبا هم داسې دربار ونه لید چې د فارسي په شان دې بشپړ پښتو وي.

همدغې فرهنګي او ژبنۍ جفا، بښکېلاك او زېښناك له پښتنو شاهانو او واکمنو څخه د پښتنو د ابدي ګیلې او خواشینۍ یو ناسور زخم او تپ پرې ایښی دی. دغه کار په افغانستان کې د یو واحد ملت د جوړونې په برخه کې هم یو لړ ستونزې راولاړې کړې دي.

د همدغو واکمنو د دې عمل په پایله کې پښتو ژبه او پښتانه له دربار او دفتري چارو څخه لرې کړای شول او فارسي ژبو یې ځای ونیو. دې عملیې ډېر کلونه دوام وکړ او داسې وخت هم راورسېد چې د محمدګل خان بابا په خبره له درباره د پښتو "مړستون" (قبرستان) جوړ شو. په دې مانا چې پښتون به په دریم نسل له معنوي (ژبني) پلوه ختم شو. هر پښتون به چې په دربار کې کوم غټ مقام ونیو نو په خپله خو به یې پښتو زده وه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکلو امکانات یې نه و، خو بیا به یې هم څه ناڅه د وینا خپلمنځي ژبه وه. د هغه زوی به چې رالوی شو نو د هغه به ګوډه ماته پښتو زده وه، په دې ډول به پښتو له لیکه په بشپړ او له وینا نه په نیمه ډول ولوېده او کله چې به د هغه د زوی زوی (لمسی) رالوی شو نو هغه به په بشپړ ډول فارسي ژبی شو او په دې ډول به پښتو هم له وینا اوهم له لیك څخه ولوېده.

اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد د یو یادښت په ترځ کې د دې ډول اشخاصو یو څو بېلګې وړاندې کوي وايي "متین خان اندړ راته وویل: یو وخت زه د کابل په چهاردهي که جبارخان کلا ته ولاړم چې له رئیس تمیز عبدالرب خان اندړ سره ووینم، کلا ته نژدې د ده زوی په مخه راغی، د پلار پوښتنه مې څنې وکړه، ده راته وویل: "او کتی قومایش درمهمان خانه ششته" تاسې وګورئ د پلار قومیان د ده قومیان نه شول، څکه چې هغه په پښتو خبرې کوي، دی پارسي وايي او په پښتو نه پوهېږي، یاني نه یې وايي. ده درېشي اغوستې ده او هغو خپل پښتني کالي - هغو پګړۍ تړلي دي او دی لوڅ سر دی."

پوهاند رشاد زیاتوي: "یو وخت زه په لېننګراد کې وم، د ختیځ پېژندنې له پوهنځي څخه ټیلیفون راته وشو: ((یو ډاکټر د عالي تحصیلاتو په نیامت له افغانستان (کابل) څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کې دی)) ما چې په ټیلیفون کې له نوي مېلمه سره خبرې وکړلې و مې نه پېژانده خو د وطنداری په خاطر مې ورته وویل: "دغه دی دستي دررسېږم زما لاره څاره" زه چې پوهنځي ته ورغلم له نوي راغلي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شي ژیت (لیلي) ته مې بوته، ځای مې ورونیوه ښاغلي ډاکتر... چې خدای پاماني راسره کوله، تر کور وداني وروسته یې دا هم راته وویل: "مادرکلان مه نورزایي بود"(۲) دغه راز په سلګونو او زرګونو بېلګې شته.

د پښتو ژبې یو وتلي لیکوال او څېړونکي (پریشان خټك) یوه ورځ په پېښور کې د احمدشاه بابا په یاد د جوړ شوي سیمینار په ترځ کې د پښتنو پورتنی نیمګړتیا او د نورو ژبني ښکېلاك ته اشاره وکړه او ویې ویل: "دا پښتون پر دریم نسل ختم دی، میرویس نیکه، شاه محمودهوتك

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په شاه اشرف ختمه شوه، احمدشاه بابا، تيمورشاه او په شاه زمان ختمه شوه. عبدالرحمن خان، حبيب الله خان او په امان الله خان ختمه شوه. نادرخان، ظاهرخان او په داودخان ختمه شوه." د ده په نظر د دې خبرې څېړنه پکار ده چې ولې پښتون په دريم نسل ختمېږي؟ دا رنځ په دې دوه دونيم سوو کلونو کې روان دی، په همدې بهير کې پښتانه فارسي ژبي کېږي. دا ناروغي هغه وخت لا پسې زياتېږي چې تيمورشاه مرکز له کندهاره کابل ته رالېږدوي او دلته قزلباشان او نور فارسي ژبي د هغه پرشاوخوا راټولېږي او دفتري چارې پرمخ وړي. دا لړۍ همداسې په لړ او ډېر زور سره تردې نژدې لسيزو راورسېدله. بيا به هر پښتون په کابل کې په درېيم نسل ختمېده، نو ځکه خو وزير محمدګل خان مومند بابا کابل ته د "پښتنو مړستون" نوم ورکړ.

د دې ژبنۍ غميزې په بهير کې يو شمېر پښتانه هم فارسيوانان شول او ځينو نورو نافارسي ژبو وړو قومونو هم خپله ژبه هېره او فارسي ته مخه کړه. دغه راز د تزار له ناتار او د روسيې (اکتوبر) انقلاب له برې وروسته له مرکزي اسيا څخه يو زيات شمېر خلکو افغانستان ته پناه راوړه او د فارسي ژبو د شمېر په زياتوالي کې يې برخه واخيسته. څرنګه چې دربار او دفتري چارې دوی خپل حق ګڼه نو هر چا ان که واکمنو هم د پښتو ژبې د رسمي کولو او يا دفتري کولو هڅه کوله دوی پرې د نشنليست، ژبپال او فاشيست ټاپې لګولې.

د پښتونپر ځای په فارسي ژبه تعليم او تحصيلي بهير هم د ډېرو پښتنو ژبه پرې کړه او د فارسي ژبو په ليکه کې يې ودرول. "يو الماني څېړونکي په خپله يوه اوسنۍ څېړنه کې څرګنده کړې ده چې په افغانستان کې د لوړو تحصيلاتو احصائيه ښيي چې تاجکيان ۳۹٪ ونډه لري او پښتانه چې د نفوسو له مخې ۵۰٪ دي په دويم رديف کې راځي، يانې په لوړو تحصيلاتو کې د دوی برخه ۳۳٪ ده. دغه څېړونکی وايي چې که ژبه په نظر کې ونيسو، نو دا توپير افراطي بڼه غوره کوي. په هرو شپږو پښتنو کې چې د لوړو تحصيلاتو خاوندان دي، څلوېښت يې له پښتو ژبې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشنايي نه لري. ۱۴٪ د عالي تحصيلاتو خاوندان نورو قومونو ته منسوب دي او ۱۴٪ نور يې له ساداتو سره تعلق لري.دا علمي څېړنه ښيي چې پښتنو په افغانستان کې مطلق حاکميت نه درلود، بلکې په اقتدار او بيروکراسۍ کې يې له نورو څخه ونډه کمه وه. دا ټولو ته معلومه ده چې د اقتدار هغه خاوندان چې پښتنو ته منسوبېدل، د ژبې او فرهنګ له مخې يې له پښتنو سره فاصله څرګنده وه. بايد ووايو په هره ټولنه کې بيروکراسي د يو جلا قشر په شکل تبارز کوي. که هغه د يو ملي يا واقعي اسلامي دولت ماشين وچلوي خيرېږي ټولنو ته رسېږي او که د مستبدو حکومتونو په لاس کې ولوېږي نو د يو ملت د افرادو د مشکلاتو بار درنوي.(۳)

د دغه ژبني ښکېلاك په بهير کې ځيني پښتانه فارسيوانان شول. د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په وينا "د ملګروملتو د يو رقم له مخې په افغانستان کې په سلو کې لس پښتانه فارسيوانان شوي دي." ځينو خپلواکو او مستقلو څېړنو هم د ملګرو ملتونو دا احصائيه واقعيت ته نژدې ګڼلې ده. په پېښور کې د "واك فونډېشن د افغانستان لپاره" يوه سروې چې د شپږو کلونو په موده کې يې کړې ده ښيي چې د افغانستان په ټول نفوس کې له ٦٢,٧٣ فيصدو پښتنو څخه ۵۵ فيصدو خپله ژبه ساتلې او ٧,٧٣ فيصده پښتانه فارسيوانان شوي دي، چې دا د هېواد د ټول نفوس په سلو کې ۸,۷ فيصده په شاوخوا کې نفوس جوړوي، ياني د پښتنو په سلو کې ۱۲,۷ فارسي او په سلو کې ۸۷,۳ پښتو وايي. دا ستم يوازې پر پښتو نه دی شوی، بلکې پسرنورو لږکيو قومونو هم شوی. "د واك فونډېشن د افغانستان لپاره" د خپلې سروې په ترڅ کې د افغانستان د قومي او ژبني جوړښت څرنګوالی په دې ډول په ګوته کوي:

| ګڼه | قومونه | دختې په نسبت دقومونوفيصدي | دژبې په نسبت دقومونوفيصدي |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | پښتون | ٦٢,٧٣ | ۵۵ |
| ۲ | تاجك | ۱۲,۳۸ | ۳۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | هزاره | ۹,۰۰ | ۰,۰۰ | |
| ۴ | ازبك | ٦,۱۰ | ۵,۸۰ | |
| ۵ | ترکمن | ۲,٦۹ | ۱,۴ | |
| ٦ | ایماق | ۲,٦۸ | ۰ | |

(۴)

په دې ډول د ژبې پر بنسټ دې جوړ شوي تشکل د دولتونو حساس پوستونه اشغال کړل او بیا یو وخت داسې هم راغلی چې نور یې د "اقلیتونو د حقوقو" په نوم بیرغونه ورپول او ځان ته یې د حکومت د جوړېدو غوښتنې پیل کړې، دا خبرې یې هم له خولو څخه راووتې چې "پښتنو پر افغانستان دوه نیم سوه کاله حکومت کړی او نور نو زموږ (اقلیتونو) نوبت دی." په همدې نیت یې خونړۍ جنګونه پیل کړل او په اصطلاح د اقلیتونو د حقوقو(!) خبره یې د هر چا تر غوږونو ورسوله، خو د هغه ژبني نري رنځ خبره د هېچا له خولو و انه وریدل شوه چې په مرموز او تدریجي ډول یې د پښتون قام هویت او پېژندنه تحدیدوله. په هر ځای او د هر چا په خولو د هغه د حاکمیت خبرې تاوېدې خو د محکومیت خبره یې هېچا هم ونه کړه.

**اخځونه:**

۱) پوهنوال ډاکتر زبورالدین زبور، د پښتو معاصر ادبیات، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه.

۲) د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه، محمد اسمعیل یون، ۱۳۷۳ل کال، پېښور چاپ، ۳٦-۳۷ مخونه، د پوهاند رشاد یادښت.

۳) عبد الجلیل وجدي، افغانستان د لویې لوبې سټېج، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷٦ل کال، ۱۰۰-۱۰۱ مخونه.

۴) د افغانستان قومي جوړښت، واك فونډېشن د افغانستان لپاره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۷۷ل کال، پېښور، ۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اقلیت د اکثریت په رول کې!؟

کله چې په افغانستان کې "د پښتنو په حاکمیت" کې د پښتو ژبې پر ځای فارسي ژبې پرمختګ او بډاینه وموندله نو په اساسي مانا د دولت رګونه هم د دغې ژبې ویونکو لاسته ورغلل او دا یې د ژبې د حاکمیت په وجه او پلمه دومره محکم کړل چې بیا یې نو نور دربار او دفتر خپل مال ګاڼه. دې حالت په پټه له ډېرې پخوا دوام درلود، خو کله چې د اعلیحضرت محمد ظاهر خان د وخت لومړي اساسي قانون کې د ژبې مساله مطرح شوه او د افغانستان د اکثریت خلکو هیله دا وه چې نور نو باید د خپل هېواد د اکثریت او ملي ژبې خبره مطرح شي دا مسأله یو ځل بیا له پردې راووته او ځینو لنډ فکرو په ښکاره ډول د پښتو ژبې مخالفت وکړ.

سره له دې چې د دنیا په هېڅ ملك کې د زیات وخت لپاره څوك د دې ببلګه نه شي پیدا کولی چې د اقلیت ژبه دې رسمي او دفتري وي، خو پر پښتنو باندې له سوونو کلونو راهیسې د دې ژبني ظلم ژرندې ګرځېدلې دي. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د وخت اساسي قانون کې له پښتو ژبې سره د (ملي) کلمه هم یو ځای شوه او تر یوه ټاکلي وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې پښتو د دفتر ژبه پاتې شوه خو دې حالت بيا هم د ځينو کورنيو او بهرنيو توطئوله امله دوام و نه موند او بېرته فارسي ژبه دربار او دفتر ته رادننه کړای شوه بيا نو له هغه راهيسې په وقفه يي توګه ځينې وختونه پښتو ژبې ته پام را اړول شوی او بيا له نظره غورځول شوې ده.

په دې توګه دربار او حکومت د هغه چا په لاس کې کېوتل چې د هغو ژبه دفتري وه. په دې کې شك نه شته چې د قوم، ختې، پښنت او يا د تذکرې له مخې به ځينې داسې پښتانه هم وو چې د وخت د حکومت په حساسو او يا هم په لومړيو پوستونو کې مقرر وو، خو دا ټولو ته ځرګنده ده چې د هغو د اکثريت نه پښتو زده وه او نه يې پښتو ژبې ته پام کاوه. له دې څخه دا ځرګندېږي چې اصلاً حکومت،خصوصاً فرهنګي او ژبنی حکومت بل چا کاوه او د پردې پر مخ بل څوك و. يو وخت نو بيا داسې هم راغی چې د ژبې پر بنسټ همدې تشکل د پښتو د اکثريت واقعيت او حقيقت دروغ وګانه. په اخبارونو، رسمي او نارسمي غونډو کې يې د پښتو ژبې - او د پښتنو د تاريخ د تحريف او ړنګونې هڅې پيل کړې او دا خبرې يې له خولو را ووتې چې نور نو زمونږ نوبت دی، ځانونه يې د اکثريت په رول کې ودرول، د غلطو احصائيو او ارقامونو په خپرولو يې پيل وکړ. د دې هڅو او عملونو په نتيجه کې د توطئو او سازشونو له لارې ښاغلی احمد شاه مسعود او ښاغلی رباني د "اسلامي دولت"(!) په نوم د يوې جنجاليزې او طاعونيزې ادارې د مشرانو په توګه کابل ته راننوتل او نېغ په نېغه يې د "اقليتونو د حقوقو" او د "اقليتونو د حکومت "انګازې پورته کړې. کله چې دوی د کابل د ترينګلې نيمواکې واکمنی پر ګدی کېنول شول، نو بيا يې د غلطو احصائيو له لارې ځان اکثريت ته قريب کړ، دولتي او سياسي چارو پر مخ بيول يې خپل طبيعي حق(!) وګانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه

هره تولنه او ولس څانته د وياړونو، پرتمونو، نېکمرغيو، بدمرغيو، غميزو او کړاوونو شپې او ورځې لري. دا پېښې او يادونه د ولس په ذهن کې انځور شوي وي او له يوه نسل څخه بل ته انتقالېږي. څرګنده خبره ده چې پېښې په خپل سر نه رامنځته کېږي. هغه اشخاص چې د ذهني، فکري، اخلاقي، ټولنيزو او نورو نېګڼو له پلوه کمزوري وي او لويو کارونو ته لاس اچوي نو نتيجه يې ډېره کرغېړنه راوځي. دا ډول اشخاص د منفي کرکټرونو په توګه د ولس په ذهن کې ځای نيسي او ولس ته دوراړول شوي زيان او درد له کبله د هغو د سختې کرکې سبب ګرځي. زموږ د هېواد د معاصر تاريخ تر ټولو بدمرغه ورځ د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي شپږمه نېټه ده. د دې غميزې مرکزي کرکټر ببرک کارمل و چې په نوموړې نېټه د شوروي اتحاد د "۸٦"(۱) زره کسيز پوځ په زور د کابل پر تخت کېنول شو.

"ببرک کارمل د جنرال محمد حسين خان زوی د بګرامي د کمريو اوسېدونکی و. د ببرک کارمل د نيکه محمد هاشم پلرونه هندوستانيان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له کشمیرنه پنجشیر ته راغلي دي. د بهرتیو چارو د پخواني وزیر عبدالوکیل نیکه د نوموړي پلار (محمدحسین) حربي ښوونځي کې شامل او وروسته یې خپله لور هم ورته ورکړه. ببرک کارمل د کابل پوهنتون له حقوقو پوهنځي څخه فارغ شوی او بیا یې د پلان په وزارت او ځینو نورو دولتي ارګانونو کې کار کړی دی. نوموړی د ۱۹٦۵ - ۱۳۴۳ کال د (خلکو ډیموکراتیك ګوند) د لومړۍ کنګرې له غړو څخه و. وروسته یې د (پرچم) په نامه یوه بېله سیاسي ډله جوړه کړه."(۲)

ده د خپل سیاست ډپیل له کلونو څخه د شوروي اتحاد له سفارت سره لار درلوده په همدې وجه خو روسانو تر بل هر چا پر ده زیات باور درلود. دی د شوروي سفارت کارکوونکو ته دومره نژدی و چې د هغوی په ډېرو خصوصي غونډو او مېلمستیاوو کې هم د ګډون بلنه ورکول کېده.

د (پلوشې) جریده په خپله یوه ګڼه کې د سردار محمد داودخان د وخت د کابینې د یوه غړي له خولې لیکي: "موږ په کابل کې د شوروي سفارت له خوا رسماً د ځینو خبرو لپاره نوموړي سفارت ته بلل شوي وو، کله چې سفارت ته ورننه شوو نو د سفارت کارکوونکو موږ ته هرکلی ووایه، دی (کارمل) هم لکه د سفارت د یوه غړي په توګه د هرکلي ویونکو په ډله کې ولاړ و."(۳)

جنرال اکساندر لیاخوفسکي په افغانستان کې جنګېدلی روسی جنرال په خپل کتاب (د افغانستان غمیزه او مېړانه) کې د ببرک کارمل په باب لیکي: (... هغه د کې، جي، بي سړی و. د خپلې (واکمنۍ) په وروستیو کلونو کې یې د شرابو څښل ډېر کړل. ان د کې، جي، بي مشر یوري اندروپوف چې د کارمل حامي او ملاتړ و په ډې هکله هغه ته ډېر نصیحتونه وکړل خو ګټه یې ونه کړه. ورځ تر ورځې جوتېده چې کارمل په روغه لار د تګ وس نه لري خو بیا هم چا د هغه د ګوښه کولو تکل نه کاوه. ځکه چې ترشا یې کې، جي، بي ولاړه وه." (۴)

د کې، جي، بي په سازمان کې د غړیتوب خبره خپله کارمل هم نه ده پټه کړې. پر ۱۳٦۴ ل کال په کابل کې د کارمل د رژیم له خوا د (کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جي بي سازمان) د تاسیس کالیزه نمانځل کېده. د هغه وخت د "دولت" د دولتي خدمتونو د لوی ریاست (خاد) د سیاسي چارو په ریاست کې چې (عارف صخره) یې رئیس و، یوه ډېره لویه او ځانګړې غونډه جوړه شوې وه، کارمل تر غونډې دمخه (عارف صخره) ته په شفاهي او خصوصي خبرو کې په ډېر غرور او افتخار سره دا خبره وکړه. "من افتخار میکنم که در افغانستان اولین شخص بودم که عضویت پر افتخار این سازمان نجات بخش را حاصل کرده بودم".

"جګړن ولادیمیر کوزیچ کین چې په ایران کې د افغانستان په ارتباط د کې جي بي مامور و د ۱۹۸۲ کال د نومبر پر ۱۱ نېټه یې له بي بي سي سره د یوې مرکې په ترڅ کې دی (کارمل) د کې جي بي یو لوړ رتبه مامور وباله"(۵) د همدغو روابطو نتیجه وه چې دی په چکوسلواکیا کې د افغانستان له سفارت څخه په مخفي ډول مسکو ته بوتل شو.

د کې، جي، بي د جاسوسي ضد مشر تورنجنرال لوکین وایي: "کې، جي، بي کولای شول چې د ټولنو او افرادو په خصوصي او عمومي تاریخ کې دلون راولي او د کماندو داسې افراد یې په واك کې وو چې د شوروي له پولو د باندې هم په هرډول تهاجمي او تروریستي عملیاتو لاس پورې کړي چې له همدې قطعي نه یوه ډله چې په مستعار نامه (زینت) یادېدله، د سفارت د ساتنې په پلمه کابل ته ولېږل شوه او د جنرال ویکتورپاپوتین قوماندې ته ورکړل شوه."(٦)

جنرال لیاخوفسکي هم په خپل کتاب (د افغان غمیزه او مېړانه) کې قدرت ته د کارمل د رسېدو او د جدي د شپږمې نېټې په باب لیکي: "که څه هم افغانستان ته د شوروي لښکرو د منظمو فرقو د لېږلو لپاره د دسمبر ۲۵ (د مرغومي خلورمه نېټه) تاکل شوې وه خو یو شمېر ضربتي ټولګي د امین د وژلو لپاره مخکې په شوروي سفارت کې ځای پر ځای شوي وو. د دسمبر ۲۵ نېټه د کابل د خواجه رواش په هوایي ډګر کې د افغانستان د وسلوال پوځ ټول روسي سلاکاران پټ جرګه شول، همدلته دوی ته امر وشو چې د افغانستان پوځ دې خنثی او د شوروي د لښکرو خلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنګېدو ورتیا دې ترې سلب شي.

د (تاج ببک) په غونډۍ کې د امین د استوګنځي د نیولو عملیاتو ته د (شتورم ۳۳۳) مستعار نوم ورکړ شو او مشري یې د کې، جي، بي د افسر بایارینوف پر غاړه وه. د همدې مقصد لپاره بګرام نه د جګړن خال بایف په مشرۍ او شوروي مسلمانو وګړو نه جوړ په اصطلاح (مسلمان کنډک) هم په دارالامان واټ کې ځای پر ځای شو. د عملیاتو وخت د جدي د شپږمې نېټې د شپې لس بجې ټاکل شوی و. خو وروسته د شپې نهو او په پای کې د. ماښام اوه نیمو بجو ته راښکته کړای شو)) د لیکوال په عقیده د دې تغیر علت دا و چې امین د کې، جي، بي د نقشې خلاف په زهرو مړ نه شو او په کار وه چې بې ځنډه د عسکرو په زور له منځه یوړل شي. لیاخوفسکي لیکي چې "افغاني عسکرو سخت مقاومت وکړ او سره له دې چې درندې وسلې یې (مشاورینو) له کاره غورځولې وې ترپایه د شورویانو خلاف وجنګېدل. حفیظ الله امین د خپلو دوو صغیرو زامنو او نورو خپلوانو سره یو ځای ووژل شول. د دوی مړي د تاج ببک غونډۍ ته څېرمه په کندو کې تر خاورو لاندې کړای شول."(۷)

تورن جنرال لوکین وایي: "د مرغومي په پینځمه نېټه د کې، جي، بي له مشر اندروپوف سره ناست وم چې له کابل نه د کې، جي، بي نماینده د امین د وژلو او د عملیاتو د بریالیتوب خبر ورکړ. اندروپوف احساساتي شو او وې ویل چې کارمل ژر پیدا او د بیانیې متن ورته جوړ کړئ!"(۸)

"بیا له تاشکند راډیو نه د حفیظ الله امین د وژلو اعلان له یو اشنا ستوني نه راووت او دا اعلان د مفصلې وینا په ترځ کې د هغه له خوا د تاشکند د راډیو په څپو کې څو ځلې تکرار شو، چې وروسته یې خپلې غلطۍ ته پام شو، کابل راډیو یې قطع او خپله خپرونه یې د کابل راډیو په نامه کړله."(۹) کله چې کارمل د امین له مرګ نه پوره ډاډمن شو نو د کې، جي، بي، له مېلمستون نه له خپلو تښتېدلو ملګرو سره بېرته کابل ته راوستل شو او پر تخت کېنول شو. برژنیف او روسي مشرانو ده ته د یو تلګرام په ترځ کې د بریالیتوب مبارکي ورکړه.(۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان دخلك دموكراتيك گوند د مركزي كميتي عمومي منشي ، دافغانستان د دموكراتيك جمهوريت دانقلابي شورا رئيس او صدراعظم ببرك كارمل د شوروي اتحاد د كمونيست گوند په شپږويشتمه كنگره كې دوينا كولو په وخت كې .

متن سخنراني ببرك كارمل در بيست ششمين كنگره حزب كمونيست اتحاد شوروي:

.....

رفيق گرامي ليو نيد ايليچ بريژنف !

رفقا و دوستان عزيز !

از همه اولتر اجازه د هيد تا بمناسبت دعوتيكه از هيات نماينده گی حزب ما براى شركت در كنگره حزب پر افتخار لنين كبير بعمل آمده است از صميم قلب اً بسر از سپاسگزاری نمايم .

رفقا ودوستان عزيز !

ماحامل صميمانه ترين و پر شور ترين شادباشها و سلام ها ، احساسات پساک ، دوستي واحترام عميق كميته مركزي حزب دموكراتيك خلق افغانستان ، تمام اعضاى حزب و ز حمتكشان افغانستان بشما و از طريق شما به تمام كمونستها ی شوروی وبه همه خلق كبير كشور شوراها هستيم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې کارمل د کابل پر تخت کېنول شو بیا نو ده په زغرده د شوروي پر دوستۍ او اړیکو ویاړ کاوه، ان دا چې د یوه محفل په ترڅ کې یې د ګرمو احساساتو په وجه خپل هر څه په ډاګه کړل.

نوموړی د روسپالنې په مینه کې دومره ډوب و چې ان د خپل زوی نوم یې (واستوك) ایښی و او د شوروي اتحاد دوستي یې تلپاتې او خلل نه منونکې بلله.

سره له دې چې ده د جدي ٦ نېټې پېښه (د انقلاب نوی بشپړتیایي پړاو باله) خو د دې پړاو په بري کې یې د شوروي له رول څخه په خپله پرده اوچته کړه، دی وایي: "هرگاه کمکهای بی شایبه و برادرانه اتحاد شوروی سوسیالیستی نمیبود انقلاب پیروزمند ثور وارد مرحله نوین خود نمیگشت و امروز نه تنها در افغانستان بلکه در منطقه یك فاجعه عظیم تاریخ رخ میداد."(١١)

نوموړي د ګران هېواد د ویاړونو، پرتمونو او رمزونو د ماضي پاڼې نه وې لوستلې، د هېواد ژوند، بقا او پایښت یې په "ستر شوروي اتحاد" پورې تړلي ګڼل. په سلګونو ځله به یې په رسمي او خصوصي غونډو کې دا خبرې تکرارولې "که د شوروي اتحاد د محدودو قواوو شته والی نه وای نو زموږ هېواد به د امپریالیزم خولې ته لوېدلی وای".(١٢)

"درحالی که استقلال ملی کشور ما را خطر جدی ناشی از تجاوزات امپریالستی تحدید می کرد یکبار دیگر دوست بزرگ و آزموده شده مردم افغانستان اتحاذ شوروی در کنار ما قرار گرفت."(١٣)

ده د خپل هېواد عظمت غیرت او همت ته نه کتل، یوازې جغرافیایې حدود او نفوسو د شمېر ځرنګوالي او ځینو مادي وسایطو یې د ذهن سترګې وړیتې کړې وې ځکه یې نو په خپلو خبرو کې خپل هېواد (ډېر کوچنی) او خپل دوست هېواد یې (ډېر لوی) معرفي کاوه.

"کمك بلاعوض خلقهای شوروی به مردم افغانستان نمونه برجسته است در مناسبات بین المللی در رابطه کمك حسنه یك کشور بزرگ و کبیر با یك کشور کوچك".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده زيات زيار ايسته چې د ژوند په ټولو چارو کې د شوروي اتحاد له تجربو او کړنونه ګټه پورته کړي که د افغاني ټولنې له ژوند چارو سره سمون خوري او که نه؟ دا نو بېله خبره ده خو د ده هڅه دا وه چې د دوو بېلابېلو ټولنو ژوند هماهنګ وښيي او په اصطلاح د شوروي اتحاد له تجربو څخه استفاده وکړي نو ځکه به يې په زياتو غونډو کې د شوروي اتحاد پر تجربو ټينګار کاوه. د ښځو يوې غونډې ته د خبرو په ترڅ کې د دې تجربو يادونه او د ځوانانو يوې غونډې ته د تجربو د يادونې تر څنګ د شوروي اتحاد د ځوانانو د کمسمول له سازمان څخه مننه څرګندوي:
"بشريت مترقي تجارب ارزشمندی در ارتباط با جنبش زنان اندوخته است درزمينه بيش از همه تجربه تاريخی کشورهای سوسيالستی و در درجه اول اتحاد شوروی ارزش والا و بزرگی دارد".(۱۴)

"اجازه راکړئ چې د هېواد د ځوانانو د دغې سترې غونډې او پيوستون په کار کې د زړه له کومې د ښو او لويو برياليتوبونو هيله وکړم او يو ځل بيا د سوسيالستي هېوادونو د ځوانانو د بين المللي سازمانونو په سر کې د شوروي اتحاد د لېنني کمسمول سازمان مخکښو استازيو ته خپلې منني څرګندې کړم"(۱۵)

ده به تل دخپلو خبروپه ترڅ کې پرڅو خبروباندې ډېر ټينګار کاوه:
"د افغان شوروي دوستي او دانقلاب نوی پړاو"، ده په دې يادونو کې د افراط تروروستي بريده ځان رسولی و. "اګر مرحله نوين انقلاب صورت نمی ګرفت اکنون افغانستان در نقشه سياسی جهان وجود نميداشت"(۱٦)
"دورنمای دوستی افغان شوروی خلل ناپذير و خدشه ناپذير است و از يك پيروزی به پيروزی دګر موج به موج به طرف تکامل و استحکام خود پيش ميرود"(۱۷) .

دی د جدي ٦٦ نېټې وروسته شوروي ته د خپل سفر اهميت داسې څرګندوي: "د ثور انقلاب د نوي پړاو له برياليتوب څخه وروسته په بين المللي لحاظ زموږ لپاره ستره سياسي پېښه هماغه شوروي اتحاد ته زموږ د ګوندي او دولتي لوړې رهبرۍ د هيئت سفر او په مسکو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان اوشوروي اتحاد د خبرو بريالي سرته رسول وو. د دغو خبرو اهميت د اوسني شيبې د خبرو له چوکاټ څخه ډېر لوړ دی او ځينو برخو کې د دوه اړخيزو اړيکو له چوکاټ څخه هم لوړ ځي."(۱۸)



ببرك كارمل د سياسي او علمي پوهنې په خبرونه او دافغانستان ددموكراتيك جمهوريت او شوروي اتحاد ترمنځ دوستانه اړيکو په پياوړتياکې دخپلې برخې اخيستنې په و يا ړ د شوروي اتحاد سياسي وعلمي پوهې د خپرولو د ټولنې لوړ مډال(واويلوف) ترلاسه کړ. عکس ببرك كارمل ته ددغه مډال دورکولو د مراسمو يو کوښه چې دشوروي اتحاد د پوه باسوف له خوا و د کرولګيرژنې .

که په پورته عبارت کې د (چوکاټ) کلمې ته ځير شو ډېرې سپورې مانا وې ځنې راوځي؛ په عادي ورځينی محاوره کې هم له (چوکاټه وتل) په منفي مانا کارول کېږي خو ده د کلمو پر ځای کارونې ته هم پام نه دی اړولی، هغه دوستي چې له چوکاټه ووځي نو طبيعي ده چې نور څه ترې راولاړيږي. بله خبره چې ده د هغو په باب بېلابېل متضاد نظرونه څرګند کړي هغه د شورويانو د راتګ مسئله وه. سره له دې چې موږ پورته يادونه وکړه چې ده به ويل: "هرگاه کمك های بې شايبه و برادرانه اتحاد جماهير شوروي سوسيالستی نميبود انقلاب پيروزمند ثور وارد مرحله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوین خود نمیگشت"(۱۹) خو بیا به هم کله کله ده ویل چې د شوروي پوځیان د افغانستان - شوروي د ۱۹۷۸ کال د دسمبر او د ۱۳۵۷ کال د قوس د ۱۴ نېټې د تړون پر اساس چې د ده په قول د دواړو هېوادونو د حکومتونو تر منځ شوی و راغلي دي. کله به یې ویل چې د ملګرو ملتونو د منشور د ۵۱ مادې پر اساس راغلي خو کله چې به پرې د هېواد په دننه او بهر کې انتقادونه او فشارونه له حده زیات شول نو بیا به یې ویل چې دا خو "امین راوستي"(!) دا خبره ده هغه وخت کوله چې نور نو پر خپل او د روسانو پر بري ورته شك پیداشوی و. د خپل قدرت پر لومړي کال خو یې ځان د شوروي اتحاد یو وجود باله او دا ویاړ(!) یې چا ته نه ورکاوه او همدا به یې ویل: ((دراین دوستي و در این روابط میتوانیم بگویيم که هیچ قدرت در جهان اعم از ارتجاع سیاه، امپریالیزم جهاني، شؤونیزم چین و دگر نیروهای طاغوتي هرگز نمیتوانند کوچکترین خدشه وارد سازند"(۲۰)

"زنده باد دوستي خلل ناپذیر جمهوري دموکراتیك افغانستان و اتحاد شوروی دوست و برادر جاودان و همیشه گی ما"(۲۱)

د اسوشتیدپرېس خبریال له ده څخه پوښتنه وکړه. "قسمیکه جلالتماب شما فرمودید و قبلاً گفتید که امین ایجنت امپریالیزم امریکا بود پس اوچرا قشون شوروي را در افغانستان دعوت کرد؟"

ځواب: "حفیظ الله امین ایجنت امپریالیزم امریکا از تحاد شوروی طلب کمك قطعات محدود نکرده بود بلکه این کمك به اراده و تصویب نزدیك به اتفاق ارای شورای انقلابی جمهوری دیموکراتیك افغانستان صورت گرفته است.(۲۲)


دلته که له انقلابي شوری څخه مقصد د نور محمد تره کي "انقلابي شوری" وي نو دهغه په ژوند خوروسان رانغلل نو دهغه له مرګه وروسته روسانو د هغه تړون عملي کاوه؟ او که د امین د وخت له "انقلابي شوری" څخه مقصد وي نو هغه خو دی خپله ردوي چې امین نه دي راغوښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله عجیبه خبره خو دا ده چې راغوښتې هغو دي(!) خو قدرت ته یې دی ورساوه؟(۲۳)

د کارمل د ګوډاګیتوب او د هغه د منفي شخصیت په باب خورا زیات اسناد اولیکنې خپرې شوې دي خو موږ دلته یوازې د ده د خپلو خبرو او څرګندونو په څو بېلګو بسنه کوو.

د افغانستان د معاصر تاریخ دا توره او ذلیله څېره په پای کې د خپل بادار په غېږه (مسکو) کې ساه ورکړه او مړی یې د افغانستان د بلخ ولایت د حیرتانو په سیمه کې خاورو ته وسپارل شو، خو د افغانستان سپېڅلې او غیرتي خاورې د ډېر وخت لپاره و نه شو زغملی او تر یوه ټاکلي وخت وروسته د ځینو په قول کله چې د طالبانو داسلامي تحریك سرتېري سیمې ته ورسېدل نو د ده مړی یې له قبره را وویست او د امو په دریاب کې یې ګوزار کړ، د امو دریاب هغه له خپلې کرغېړنې ماضي او بدرنګیو سره د خپلو اوبو تل ته ښکته کړ او په دې ډول د تاریخ یوه توره څېره د تل لپاره د تورو اوبو په تل کې ورکه شوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**

۱) وفا جریده، د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال، کال ګڼه.

۲) ۱، هارون، داود خان د کې جي بي په لومو کې، پېښور، ۱۸۵ مخ.

۳) پلوشه جریده، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳ګڼه.

۴) ډیوه لندن، ۱۹۹۵ کال، د لیندۍ ګڼه، ۱۸ مخ.

۵) ا. هارون، هماغه اثر، ۱۸٦ مخ.

٦) پورتنی اثر، ۱۸۳ مخ.

۷) ډیوه، لندن، هماغه ګڼه، ۱۷ مخ.

۸) ا. هارون، هماغه اثر، ۱۸۳ مخ.

۹) // // . ۱۸۴ مخ.

۱۰) وفا جریده، ۱۳۷۴ ل کال، ۴۷ - ۴۸ ګڼه، ۹ مخ.

۱۱) دافغانستان کالنی،کابل، ۴۵-۴٦ (۱۳۵۸-۵۹ کال) ګڼه، ۱۵ مخ.

۱۲) پورتنی اثر، ۱۱۷ مخ.

۱۳) // // ، ۱۸۹ مخ.

۱۴) // // ، ۲۱۹ مخ.

۱۵) // // ، ۲۱۲ مخ.

۱٦) // // ، ۲۸۳ مخ.

۱۷) // // ، ۳۱٦ مخ.

۱۸) // // ، ۲۸۷ مخ.

۱۹) // // ، ۱۵ مخ.

۲۰) // // ، ۴۳۳ مخ.

۲۱) // // ، ۴۵٦ مخ.

۲۲) // // ، ۳۲۵ مخ.

۲۳) وفا جریده، ۱۳۷۴ ل کال، کال ګڼه، ۱۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرچم واکي: پښتو او پښتانه

روسانو د خپلو هيلو د پوره کولو لپاره په ډېرو ټولنو کې د لږکيو (اقليتونو) له استعمال سره ډېره مينه درلوده، د خپل برياليتوب راز يې په همدې کې لټاوه. دوی فکر کاوه چې لږکي له سياسي پلوه بې ثباته وي، ژر استعمالېږي او (د خوړو ترخو) زور ته ژر غاړه ږدي. نو ځکه يې په افغانستان کې له عامه ذهنيت نه پټ يو نامعلوم او د څرګند قومي هويت نه لرونکی شخص (ببرك کارمل) د خپلو هيلو د پوره کولو لپاره وروزه. څرنګه چې د افغانستان اکثريت ټولنه له پښتنو نه جوړه وه نو پرده يې هم د پښتون ماسك وواهه او يو کشميری مهاجر شخص يې د (پښتون) په نوم معرفي کړ، خو د قلم خاوندان او ځيرمن سياسي اشخاص پر دې خبره ډېرښه پوهېدل. کله چې کارمل قدرت ته ورسول شو، نو نه ده او نه د ده بادارانو له پښتو ژبې او پښتنو سره خپله دښمني پټه کړه. د شوروي کمونيست دربار ته نژدې ليکوال او د ببرك کارمل نژدې شخصي او عقيدتي دوست (اوليانوفسکي) په ډاګه دا خبرې څرګندې کړې: "موږ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان ته لښکرکښي وکړه چې د اکثریت (پښتنو) د یکتا توري ختمه او دولتي ځواك اقلیتونو ته انتقال کړو."(*) د اولیانوفسکي په قول کله چې دولتي ځواك اقلیتونو ته انتقال شو، نو د کارمل په شاوخوا یې په زیاته کچه (تاجك) اقلیت او ځیني نور واړه لږ کي ورتاو کړل.

سمدستي ورسره "رژیم های فاشیستي گذشته"، "ملیت های برابر و برادر"، "اقلیت های ستمدیده و محروم"، "اقلیت های برپاخاسته" او نورې... نومونې هم دود شوې.

اکثره خپرونو په ځانګړي ډول ورځپاڼې او جریدې که په فارسي ژبه وې، هغه خو پر خپل ځای پاتې شوې او که پښتو وې هغه په فارسي واړول شوې او پښتو د ژباړې یا ترجمې ژبه شوه. په لومړي سر کې زیات خلك په دې رمزنه پوهېدل ځکه چې د روسانو یرغل د عامه ذهنیت سترګې نیولې وې، خو وروسته وروسته ډېر خلك پر دې وپوهېدل چې روسانو څنګه د افغانستان د اکثریت قوم پر ضد خپلو ناوړه هلو ځلو ته دوام ورکاوه. روسانو په دې فکر کې وو چې پښتانه د هند سمندر ته د رسېدو په لویه لار کې د یو ځواکمن قوم په توګه پراته دي نو که چېرې دوی منسجم، د یو محکم او بډای فرهنګ خاوندان وي نو د هند بحر ته د دوی د رسېدو په لار کې اساسي خنډ ګرځېدای شي نو ځکه یې د پښتنو د تجزیې، کمزورۍ، د فرهنګي ارزښتونو او ټولنیزو بنسټونو د له منځه وړلو ماهرانه هلې ځلې پیل کړې. دا هڅې د روسي مشاورینو په لارښوونه او د کورنیو ناپښتنو لویغاړو په مرسته تر سره کېدې، یو وخت یې د دولت ټولې ساحې ونیولې، خو په لاندینو برخو کې زیاتې منسجمې وې:

۱ - په نشراتي او خپرنیو برخه کې: لکه چې یادونه وشوه د

---

*- اولیانوفسکي د شوروي د کمونست ګوند تیورسن و. ده په خپله رساله کې چې (در بارهٔ حقیقت انقلاب ثور) په نامه ترجمه شوې وه دا څرګندونې کړي دي. نوموړې رساله د بیهقي د کتاب خپرولو موسسې خپره کړې وه او له یوه ټاکلي وخت وروسته بېرته ټوله شوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارمل له راوستو سره سم د دولت په خپرنې پالیسۍ کې یو څرګند بدلون راوستل شو. اکثره ورځپاڼې لکه هېواد، انیس او نورې چې تیراژ یې لسګونو زرو ګنو ته رسېده په فارسي واړول شوې او د دې تر څنګ "حقیقت انقلاب ثور" ورځپاڼه په ډېر لوړ تیراژ سره هم بشپړه په فارسي ژبه خپرېده. "حقیقت سرباز" او دې ته ورته د ځینو نورو خپرونو هم دا حال و. دا ورځپاڼې به له فارسي ژبې څخه په پښتو ترجمه کېدې او بیا به چاپېدلې. داسې هم شوي چې د هرې فارسي ورځپاڼې او بیا د هغې د پښتو ایډېشن تر منځ څو ورځې واټن و. په داسې حال کې چې ورځپاڼه باید پر همغه ورځ چاپ او ووېشل شي. داسې هم لیدل شوي چې فارسي برخه په ښار کې وېشل شوې او بیا څو ورځې وروسته یې پښتو چاپ شوې ده. دا پښتو برخه یې بیا نه چا ته ښووله او نه یې وېشله دا ځکه چې دوی خو "کابل د فارسي ژبو ښار"(!) ګاڼه او د پښتو ورځپاڼو د ویش ضرورت یې هسې یو عبث کار(!) باله. هغو ولایتونو ته چې ټول پکې پښتانه استوګن وو، هغو ته هم دا اخبارونه نه رسېدل او د پښتو اخبارونو پر ځای فارسي اخبارونه استول کېدل. یو وخت له ننګرهار نه رسماً په دې برخه کې ((د خلکو ډیموکراتیک ګوند)) مرکزي کمېټې ته اعتراضلیك راغی، خو بیا هم چا د دې خبرې غم ونه خوړ. له دې پرته د پښتو او فارسي ایډېشنونو په تیراژ کې هم ډېر زیات توپیر موجود و. د ساري په توګه (درفش جوانان) یوه اوونیزه وه چې په (۸) او کله هم له هغو نه په زیاتو مخونو کې یې په ډېرو زیاتو امکاناتو سره د "ځوانانو ډیموکراتیك سازمان" د مرکزي کمېټې د ارګان په توګه نشرات کول. په یو وخت کې له فارسي ایډېشن څخه پښتو برخه (۸) ګڼې (دوه میاشتې) وروسته پاتې وه. د فارسي ایډېشن تیراژ (۵۸) زره ګڼې خو پښتو تیراژ یې (۸) زره ګڼې وې(۲).

د دې خپرونو اکثره پښتو برخه په پوره ډول نه وېشل کېده، له چاپ وروسته به یې اکثره ګڼې ګودامونو کې ساتل کېدې او بیا به وروسته د قصابانو او دکاندارانو لاسته ورتلې.

له دې کارونو څخه د دوی هدفونه دا وو چې له یوې خوا به پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژباړې ژبه شي او دا خو د يوه پوه په وينا څرګنده خبره ده چې ((ژباړه د ژبې پښتې ماتوي)) نو دوی په دې نيت چې پښتو ژبې ته يې زيان اړولی وي او تل يې د فارسي تر اغېز او نفوذ لاندې ساتلې وي دا کار کاوه.

دغه راز په دې چار سره په هېڅ توګه پښتون ليکوال ته د دې چانس نه پيدا کېده چې هغه دې مستقيماً او نېغ په نېغه په خپله په اول لاس ورځپاڼې ته مطلب وليکي. نو له عادي ژورناليستيک نه نيولې تر لوړ تخليقي مطلب پورې هر څه بايد لومړی فارسي وای او بيا پښتو ژباړل شوي وای. څکه نو سوازې فارسي ژبې ليکوال ته د ودې لاره چاره برابرېده او هم هغه مادي امتياز چې له دې خپرونو څخه تر لاسه کېده هم د هغوی لاسته ورته. پښتون ليکوال ته د غوړېدو لږ امکان برابرېده، پښتون کولای شو يوازې ژباړن شي. د ژباړې له مخې هم د دې اخبارونو او خپرونو کيفيت ډېر خراب و څکه چې داسې ژباړونکي ورته ټاکل شوي وو چې نه يې په دې برخه کې پوره علمي لاس درلود او نه د کار ډېرښت دې ته پرېښودل چې دوی دې کره، ذوقي او درسته ژباړه وکړي. هر ارګان او خپرندويې موسسې چې ګډ نشرات کول د فارسي ژبې برخه پکې له ورايه ډېره زياته درنه معلومېده. "د ځوانانو ډيموکراتيک سازمان" چې د فريد احمد مزدك تر مشرۍ لاندې يې ستمي او کمونيستي فعاليتونه کول په يوه وخت کې پنځه عنوانه (درفش جوانان اوونيزه، محصل امروز {جوانان امروز} مجله، ستوری جريده، پيشاهنګ (مجله) چې دوه وروستۍ يې "د مخکښانو سازمان" خپرونې وې وروسته کلونو کې يې "قبايلي ځلميان" په نامه يو څلور مخيزه پنځه لس ورځينۍ پښتو جريده خپروله. په دې کې "درفش جوانان" جريده لومړی فارسي او وروسته بيا په ناسمه پښتو ژباړه کېدله او له ډېر څنډ او وقفې وروسته خپريده، د ستوري او پېشاهنګ او د جوانان امروز، په خپرونو کې په سلو کې لس برخې پښتو وه.

دغه راز فريد احمد مزدك د خپلې واکمنۍ په دوره کې په سلګونو عنوانه بېلابېل سياسي، عقيدوي، ذوقي او نور کتابونه د همدې سازمان له لارې چې تيراژ لکونو ټوکو ته رسېده خپاره کړي دي خو په دې اکثرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د دوی له خپلې کړنلارې او ځینو نورو محدودو کتابونو پرته نور ټول په فارسي ژبه وو "د ځوانانو سازمان" د یوه کارکوونکي په وینا "زموږ د یو ټاکلي وخت د ۱۳۰ عنوانونو خپرو شوو کتابونو له جملې څخه یو عنوان کتاب پښتو و."(۳)

کابل پوهنتون د پرچمواکۍ په بهیر کې ګڼ شمېر لیکنې، رسالې، لکچرنوټونه درسي کتابونه او نور مستقل اثار خپاره کړي دي چې په مجموعي ډول یې شمېر له لسګونو عنوانو او زرګونو ټوکو څخه زیاتېږي. په دې کتابونو کې د پښتو څانګې له لکچرنوټو، ځینو درسي کتابونو او د ځینو سیمینارونو له پښتو کتابونو پرته نور اکثره په فارسي ژبه خپاره شوي دي. دغه راز کله چې "پرچمیان د قدرت پر کرسۍ کېنول شول نو لومړی کار یې دا و چې د پښتو فلمونو ریکلامونه یې وشکول. دوی استدلال کاوه چې په دغو فلمونو کې (بې حیایي) وه او بل دا چې د دښمن هنرمندانو جوړ کړي وو. دا خو هسې یوه پلمه وه، دوی کولی شول د فلمونو ځینې برخې سانسور کړي خو د دوی اصلي مقصد دا و چې د پښتو فلمونو بازار سوړ کړي او بل دا چې په ځینو فلمونو کې د انګریزانو په مقابل کې د پښتنو جهاد تمثیل شوی و... روسان پوهېدل چې اوس د دوی پر ضد جهاد روان دی تر کومه چې د بې حیایي خبر ده پرچمیان د ایراني، عربي نڅاوو په ښودلو او په تلویزیون کې د افغاني نجونو په نڅولو سره په خپله د بې حیایي تشویق کوونکي وو."(۴)

د افغانستان یو نومیالی پوه کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي لیکي:

"پرچمیانو د "ملیتونو" په نامه مساله وپرسوله او داسې یې ښووله چې په افغانستان کې د "ملیتونو" مساله د شوروي اتحاد د ملیتونو له مسالې سره هېڅ توپیر نه لري. دوی غوښتل د قومونو تر منځ د برابرۍ د اصل پر اساس د اکثریت او اقلیت طبیعي توپیرونه په عادلانه توګه له منځه یوسي. د مثال په توګه پښتو (ژوندۍ) مجلې د کتونکې ډلې (هیئت تحریر) په غړو کې له پښتنو سره باید د تاجیك اوزبك، بلوچ، پشه یي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومونو غړي هم تاکل شوي وای که څه هم هغوی د پښتو مقالو د ارزیابی صلاحیت نه درلود ځکه چې په پښتو چندان نه پوهېدل. همدارنګه خارج ته د هیات لېږلو په برخه کې به یو پښتون، بل تاجیک بل هزاره، بل ترکمن او داسې نور په مساوي تعداد تاکل کېدل. که څوك به له بهر څخه یوې موسسې ته ورتلل نو د هغه شخص نوم او "ملیت" به یې لیکه او له چا سره چې به یې کار و د هغه نوم به یې هم لیکه. زه په لومړي سر کې د دې خبرې په منطق نه پوهېدم. وروسته راته معلومه شوه چې دا یو ډول جاسوسي وه. که کوم پښتون ته به چې زیات کسان ورغلي وو هغه به د ګوند د مشرتوب له خوا تر تهدید لاندې نیول کېده او یا به په مرموزه توګه تنزیل ورکول کېده.

پرچمیانو کوښښ کاوه چې په مختلفو بهانو د "ملیتونو" له نامه څخه په ناوړه استفاده د یو ډول تجزیې زمینه برابر کړي. یو څل یې افغاني بدخشان د تاجیکي بدخشان تر قیمومیت لاندې راوست. یو ځل یې د شمال لس ولایتونو ته انکشافي پروژې منظورې کړې. د سیاسي بیرو یو تن غړي په یوه محفل کې وویل چې په دغو نومړو لسو ولایتونو کې به سوسیالیزم راشي او د افغانستان په جنوب کې به ډیموکراتیك جمهوریت وي. د شمال سوسیالیستي جمهوریت به د جنوب ډیموکراتیك جمهوریت لپاره یوه پشتوانه وي. همدارنګه دوی د "غرجستان" په نامه هم کومه نقشه درلوده خو د عملي کولو فرصت یې ونه موند ځکه چې رژیم د سقوط ګړنګ ته نژدې شوی و. په دې لړ کې یوه ـ جالبه قصه داده چې په بلغاریا کې د روسانو په سپارښت داسې نقشه چاپ شوې وه چې افغانستان یې د شوروي د شپاړسم جمهوریت په توګه ښنلی و.

د پرچمیانو د حکومت په دوره کې د پښتنو پر ضد سپکې سپورې په کتابونو او نورو خپرونو کې پیل شوې.

نور شخصیتونه خو پر ځای پرېږده حتی احمدشاه بابا او وزیر اکبرخان هم تحقیر شول او هغه هم په دې سبب چې هغوی پښتانه وو. احمدشاه بابا یې له چنګیزخان سره مقایسه کړ او وزیراکبرخان یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انگریزانو گوډاګی وباله، پښتانه یې د خراسان اشغالګران وګڼل. په دې وخت کې یو داسې تیسس منځته راغی چې ګویا پښتانه، د سلیمان له غرونو څخه، شمال ته راغلي او خراسان یې چې د تاجیکانو او هزاره ګانو اصلي وطن و اشغال کړ او د هغوی فرهنګ یې له منځه یوړ. پرچمیانو دغه تیسس ته رسمیت ورکړ او په پوهنتون کې یې تدریس کاوه. البته دغه تیسس په غلطه توګه طرح شوی دی.

پښتانه له اسلام نه مخکې د افغانستان په شمالي سیمو کې آمو دریاب ته نژدې اوسېدل. د اروپا مشهورو پوهانو لکه جمیز دارمستتر، ګایګر، امیل بنومینیست، مارګن سترن او نورو دا خبره ثابته کړې ده چې پښتو ژبه له اوستا، پامیري ژبو، خوارزمي او اسیتي ژبو سره د فارسي ژبې په نسبت ډېر نژدېوالی لري او په لرغونو زمانو کې باید پښتوله اوستا له پامیري ژبو او نورو خویندو ژبو سره یو ځای اوسېدلې وي. په دې حساب پښتانه په افغانستان کې نه د مهاجر حیثیت لري او نه د مهاجم، بلکې د دې هېواد پخواني اوسېدونکي دي. البته کوم وخت چې پښتانه له دغه ځایه لېږدېدلي دي، د دوی ځای تاجیکیانو اشغال کړی دی. پرچمیان په دې خبره نه شرمېدل چې د روسانو پر ځای پښتانه د افغانستان اشغالګران وبولي."(۵)

استاد روهي زیاتوي ((ما یوه ورځ د څو تنو په مخکې یوه غټ پرچمي ته وویل: تاسې څنګه اجازه ورکوئ چې په کابل پوهنتون کې داسې کتاب تدریس شي چې هېڅ علمي ارزښت نه لري خو یوازې په دې خاطر تدریس کېږي چې پښتنوته ښکنځل پکې راغلي دي. د مثال په توګه پوهاند جلال الدین صدیقي لیکي چې "پښتانه قبأیلي خلك دي او قبایل ننګ او ناموس نه پېژني" البته واقعیت د دې په خلاف دی، پښتنو ته له ناموس ساتنې څخه بل شی زیات ارزښت نه لري او دا یو څرګند حقیقت دی او یا دا خبره چې پښتانه ننګ او ناموس نه پېژني، کوم علمي ارزښت لري؟

همدارنګه دا خبره به څوك ومني چې پښتنو کې څوك شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمن نه دی تېر شوی او که امیرامان الله خان څه ښه صفتونه درلودل علت یې دا و چې اصیلو تاجیکانو روزلی و. ایا دا خبره علمي بنیاد لري چې په یوه قوم کې دې هېڅ بد سړی نه وي تېر شوی او په بل قوم کې دې ټول خلك بد وي؟ ده په ځواب کې وویل :(زه پوهاند جلال الدین صدیقي ته په دې درناوی کوم چې تر اوسه پښتنو ته څه ویل ټابو (ممنوع) ګڼل کېدل خو ده د لومړي ځل لپاره پښتانه د تقدس له حریم نه راوېستل او د دوی غرور یې ورمات کړ."(٦)

همدا راز پرچمیانو په بېلابېلو موسسو او مهمو فرهنګي بنسټونو کې د پښتنو او د هېواد د ملي فرهنګ او سیاسي جوړښت پر ضد بېلابېلې ډلې جوړې کړې او د زیات واك او اختیار خاوندان یې کړل. دا ډلې او ګروپونه د کابل پوهنتون، د بهرنیو چارو وزارت، راډیو ټلویزیون، د ژورنالیستانو، لیکوالو، هنرمندانو انجمنونو، د ټولنیزو علومو په انیستیتوت، "د ځوانانو سازمان" په مرکزي کمیټې، "د خلق ډیموکراتیك ګوند" په مرکزي کمېټې د یونیسکو په سازمان، په ګڼ شمېر خپرنیو ارګانونو، د ښځو سازمان"، د ځوانو کادرنو په انستیتوت، د هېواد د شمال په ځینو ولایتونو، د دولتي امنیت (خاد) په ریاست او نورو ګڼ شمېر ځایونو کې په ناوړه فعالیت مصروف شول، خبره تر دې راورسېده چې په ډاګه یې خپرونې کولې، ځینو یې شپې پاڼې (شبنامې) او ځینو یې له ګړنې تبلیغ سره ناوړه لیکنې تبلیغ ته هم ادامه ورکوله.د دې ډلو مرکزي کرکټرونه چې عملاً یې لیکنې او وینا وې لیدل شوي او ډېرزیات دې مسایلو ته اړم وو دا دي: لومړی، کټکتوري: محمود بریالي، اناهیتا راتب زاد، فرید مزدك، نجم الدین کاویاني او ځینې نور. اناهیتا خو یو وخت دومره سپین سترګې شوې وه چې یوه ورځ یې له خولې څخه په ډاګه پښتنو ته سپکې سپورې راوتلې وې.له پښتنو سره یې ورځ په ورځ کینه زیاتېدم خو له پردیو سره مینه. دا لاندې دوه تصویرونه د هغې د شخصیت او له پردیو سره د صمیمیت ښکارندویي کولای شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی دي لاندې کسانو ته دستور ورکاوه: پوهاند جاوید، اسدالله حبیب، داود کاویان، عبدالله شادان، ظاهر طنین، جلال رزمنده، نورالله تالقاني، جلال الدین صدیقي، رهنورد زریاب او ځني نور. دوی بیا په خپل وار نورو ارګانونو او اشخاصو ته دا نظریات رسول. آن تر دې چې یوه ورځ محمود بریالي د بهرنیو چارو وزارت د کنفرانسونو په تالار کې داؤد کاویان ته په ډاګه وویل: "رفیق کاویان اعلان کو (کنید) که زبان رسمي کنفرانس ما دری است". دې ته ورته خبرې د اناهیتا له خولې هم راوتلې دي. د "یك صدوپنجاه سال اپارتائید شاهان پشتون"، "دانشگاه کابل و دانشجویان لبخشك تاجیك آن" او دې ته ورته نورې لیکنې هم شوې دي.

د دې ترڅنګ د پرچمیانو په وخت کې د افغاني فرهنګوله منځه وړلو لپاره بله اساسي هڅه همغه د پښتو ملي ترمینالوژي له منځه وړل وو. دوی هڅه وکړه چې عسکري نومونې او اصطلاحات په فارسي واړوي، په ځینو برخو کې بریالي نه شول، خو بیا یې هم ځینې عسکري اصولنامې او نظامنامې په فارسي واړولې. ان د افغانستان د نوم د اړولو لپاره هڅې پیل شوې. د کابل پوهنتون د نوم اړولو لپاره زیاتې هڅې وشوې او دې ته ورته نورې هلې ځلې. ایران پالنه او فارسي پالنه، د خپل هېواد غندنه او د ایران لوړونه د همدې د ورې یو بل چلند دی. په تولیز ډول پښتو ژبه له اکثرو دفتري چارو، ادارو او فرهنګي مرکزونو څخه وکښل شوه، یوازې د مکتوبونو او رسمي پاڼو په سر کې چې عنوان یې له پخوا نه په پښتو لیکل کېده همغه پاتې شو خو هغه هم دوی و نه شو زغملی او د له منځه وړلو لپاره یې هلې ځلې پیل کړې. د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټې، د لیکوالو ټولنې، کابل پوهنتون او ټولو خپر نیو ارګانونو له خوا چاپ شوي کتابونه په هېڅ ډول فارسي او پښتو یو بل سره د پرتله کېدو وړ نه دي. په تقریبي ډول په سلو کې ۳۰ هم په پښتو نه وو او په ځینو ځایو کې خو دا سلنه (فیصدي) لسمه برخه هم نه وه. په مجموعي ډول یوازې په کابل کې په هره میاشت کې تر (۱۰۰) عنوانو څخه زیاتې خپرونې کېدلې. په دې کې داسې خپرونې هم وې چې ۵ فیصده یې هم پښتو نه خپروله.

۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**

۱) افغان ملت جریده، د ۱۳۷۴ل کال د تلې د ۲۵ نېټې ګڼه.
۲) "د افغانستان د ځوانانو ډیموکراتیك سازمان" د مرکزي کمېټې د یو تن غړي څرګندونې.
۳) پورتنی اخځ.
۴) افغان ملت جریده، پورتنی ګڼه، ۲ مخ.
۵) کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي، افغان ملت جریده، همدا ګڼه. ۲ مخ.
٦) پورتنی اخځ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ډاکټر نجیب الله حاکمیت
# او د پښتنو محکومیت

کله چې د ۱۳۶۵ کال د ثور پر ۱۴ نېټه ډاکټر نجیب الله واک ته ورسول شو، ځینو سره داسې فکر پیدا شو چې کېدای شي په دولتي اداره کې د لرکیو او د هغو د مدعیانو هغه واك چې د روسانو د مستقیم یرغل په نتیجه او د کارمل په راوستلو سره هغوی ته ورکړل شوی و څه ناڅه راکم شي، خو نه یوازې داسې ونه شول بلکې د روسانو هغه پلان چې غوښتل یې په افغانستان کې د اکثریت قوم، اداري، سیاسي او پوځي ظرفیت کمزوری او د افغانستان سیاسي واك لرکیو ته محول کړي لاپسې وغځېد. د روسانو د پلان یوه برخه د ببرك کارمل د واك او دلته د روسانو د شتوالي په زماني واټن کې عملي شوه، پاتې برخه یې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ تر پایه پورې ورو ورو عملي کېده.

۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر وخت

د برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي په وینا "د ۱۹۸۰ لسیزې په نیمایي کې په شوروي اتحاد کې د رهبرۍ د بدلون له کبله په افغانستان کې هم د مشرتوب د بدلولو جبره مطرح شوه، د ګورباچف د ټینګار په وجه ډاکټر نجیب الله د مشرتوب لپاره غوره شو."(۱) د ډاکټر نجیب الله په منځته راتګ سره د افغانستان د اکثریت په وړاندې د روسانو په عمومي ستراتیژۍ او پالیسۍ کې کوم بدلون رانغی. روسانو ډاکټر نجیب الله له فکري، عقیدوي، او ذوقي پلوه ښه ازمویلی و. هغه د شوروي او ببرک کارمل په پښتني ضد ښوونځي کې روزل شوی و. له پښتو او پښتونوالۍ سره یې څه ځانګړې لېوالتیا نه لرله. شورویانو د افغانانو د وسلوالې مبارزې د فشار له کبله او د خپلو ستونزو او مجبوریت له مخې د خپلو سرتېرو د وتلو هیله لرله او د دې کار لپاره په افغانستان کې داسې یو شخص ته اړتیا وه چې د روسانو تر وتلو وروسته د روسانو اساسي ګټې تضمین او هېواد تر یو وخته پورې کنټرول او اداره کړي. روسان پر دې پوهېدل چې دا کار د لږکیو په مشرتوب کې نه شي تر سره کېدای نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ډاکټر نجيب الله چې هم د پښتون پرده پرې غوړېدلې وه او هم تر يو حده غوره اداره چي و، د دې کار لپاره غوره وباله. د عام پښتون ولس د ذهني تېر اېستنې لپاره هم داسې يو شخص ته اړتيا وه.

روسانو د خپلو استخباراتي شبکو په وسيله د بېلابېلو فورمو له لارې چې هلته د "مليت" څرنګوالي ثبت و د افغانستان په دولتي دستګاه کې د کار کوونکيو او کادرونو شمېر ځانته معلوم کړی و. دوی په دې پوهېدل چې دولتي اداره کې کوم کسان په کومو حساسو، منځنيو او ټيټو پوستونو کې کار کوي او کوم قوم ته منسوب دي. هغه کسان چې پښتون قوم ته منسوب دي د هغوی د قوم پالنې څرنګوالي څومره دی؟ ژبه يې هېره شوې او که نه او د ملي احساس کچه يې څنګه او څومره ده؟

روسانو د خپل شتوالي په وخت کې د دولتي دستګاه په ملکي ادارو کې د پښتنو فيصدي ډېره راټيټه کړه. په ډېرو حساسو پوستونو کې يې په شوروي کې نوي روزل شوي کادرونه چې اکثريت يې افغان لړکيو ته منسوب وو ځای پر ځای کړل. يوازينی ځنډ چې د دوی په مقابل کې پاتې و هغه وسلوال پوځ و چې په دوديز ډول پکې د پښتنو ونډه زياته وه. د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ په نيمايي کې "د شهنواز تني د کودتا" په نوم يوه سنجول شوې توطئه جوړه شوه او په همدې نامه يې ګڼ شمېر پښتانه صاحب منصبان له پوځ څخه وايستل. د وسلوال پوځ د يو صاحب منصب په وينا يوازې د "شهنواز تني کودتاه" په نوم شپږ زره تکړه مسلکي صاحب منصبان له وسلوال پوځ څخه وکښل شول او زنداني شول.

د دې لپاره چې د وسلوال پوځ دوديز او قانوني واک ختم کړي، د بېلابېلو قومي غونډونو په جوړولو لاس پورې شو. په شمال کې د عبدالرشيد دوستم او سيدکيان په مشرۍ د ازبکو او هزاره اسماعيليانو لپاره بېلابېل قومي غونډونه او فرقې جوړې شوې او هم هزارګانو ته د ګڼ شمېر قومي غونډونو د جوړولو امکانات برابر شول.

د جګړې دروند بار بيا د پخوا په څېر د پښتنو سيمې ته متوجه شو. د سکارټ هغه په سوونو توغندي چې په افغانستان کې استعمال شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سلو کې (۹۹) يې پر پښتون مېشتو سيمو ويشتل شوي دي.

د ډاکتر نجيب الله شپاړس ورځې کم پنځه کاله واکمني په افغانستان کې د لږکيو (اقليتونو) د ودې، خوځون، کورني او بهرني لمسون لپاره مساعدې شېبې او ورځې وې. ده لکه چې په خپله يې هم‌واد د يوې لويې تباهۍ کندې ته ټېلواهه، پر خپله د لږکيو د را پاړولو لپاره لاره چاره برابروله. د دولت له پانګې او شتمنۍ څخه يې ملي ضد ډلو ټپلو ته پيسې او امکانات ورکول. په ځينو برخو کې يې د ملي مسايلو په وړاندې له سختې بې تفاوتۍ څخه کاراخيست. په پوځ کې يې نور ځانګړي تشکيلات هم جوړ کړل. "د دولتي امنيت وزارت" او "ملي ګارد" تشکيلات يې ملي ضد اشخاصو ته وسپارل او هم يې په ځينو پوځي قطعاتو کې داسې اشخاص په حساسو پوستونو کې ځای پر ځای کړل چې افغاني ضد روحيه يې لرله.

هغه ملي ضد ډلې ټپلې چې کارمل او روسانو د هغو د روزنې، پالنې او هڅونې بنسټ ايښی و د ډاکتر نجيب الله په وخت کې دواک حساسو پړاوونو ته ورسېدې. د پوځي برخې ترڅنګ په ملکي ادارو کې هم دا ډلې زياتې فعالې وې. د دولت په ملکي ادارو کې ځينې داسې ادارې وې چې هغه په بشپړ ډول د دې ډلو او اشخاصو تر واک لاندې وې. په دې ادارو کې د کارمل د وخت په شان د کابل پوهنتون، د بهرنيو چارو وزارت، راډيو ټلويزيون، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ژورناليستانو اتحاديه، د ځوانانو سازمان او ځينو نور شامل وو. د ډاکتر نجيب الله تر واک د مخه د کارمل ورور محمود بريالي او اناهيتا راتب زاد، د دې هڅو لارښوونه کوله. وروسته د هغو ملګرو دې کار ته دوام ورکړ. نجم الدين کاوياني، داود کاويان، فريد مزدك، عبدالله شادان، اسدالله حبيب او ظاهر طنين د دې کړۍ فعال غړي وو. تر دې وروسته بيا دوی نورې ډلې او کړۍ هم جوړې کړې وې چې دوی ورته لارښوونه کوله.

دې اشخاصو د دولت له امکاناتو نه په ګټې اخيستنې سره ځينې داسې ليکنې، اثار او ان شپې پانې خپرې کړې چې په ډاګه ترې دافغان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان دښمني بوی راته. دوی د هغو ملي ارزښتونو، اتلانو او غوره تاریخي پېښنو پر ضد لیکنې کولې او جعلیات یې خپرول چې هغه زموږ د ولس په ذهن کې دسپېڅلو ملي ارزښتونوپه توګه منل شوي اودمنلو وړ وو.

د ډاکټر نجیب الله په واکمنۍ کې د "وطن ګوند" د مرکزي کمیټې له خوا د افغانستان د معاصر تاریخ په باب څو داسې لکچرنوټونه چاپ شول چې د هر یو، تیراژ (۵۰) زره ټوکو ته رسېده. دا لکچرنوټونه د پوهاند جلال الدین صدیقي تر لارښوونې لاندې لیکل شوي او د ګوند د مرکزي کمیټې د تبلیغ او ترویج د څانګې له خوا خپاره شوي وو. په دې رسالو کې په قصدي ډول د افغانستان معاصر تاریخ تحریف شوی او د ملي اتلانو پر څلنده څېرو د دروغو او تهمت جال خپور شوی دی.

دلته به د دې هڅو د بېلګې په توګه د پوهاند جلال الدین صدیقي د یو لکچرنوټ یادونه وکړو، دا لیکنه: "افغانستان در قرن جدیده" نومېږي چې په ۱۳۶۹ ل کال ... د (۷۰) زرو ټوکو په تیراژ د "ا.خ.د.ګ" د مرکزي کمېټې د "تبلیغ ترویج و اموزش" او "سکتور اموزش حزبی" له څانګې څخه خپور شوی دی. دی د خپلې دې رسالې په یوه برخه کې وایي: "در زمان امیر عبد الرحمن خان بود که رهبران فیودالی محمدزایی توانایي یافتند تا تمام اراضی واقع در میان دریای امو و کوه هندوکش را تصرف نمایند و ازین تاریخ به بعد خانات ازبك بحیث یکی از ولایات سلسله محمدزایی متمرکز گشت.

در طي مدتی که ازبکان مورد تاخت و تاز فیودالان و سرداران محمد زایی و اتحادیه قبیلوي ان قرار داشتند، بخش بزرگ نفوس ازبك نشین از مناطق مسکونی مجبور به ترك مناطق شان گشتند و به نواحی راست کنار دریای امو یا دامنه های کوه هندوکش اجباراً نقل مکان کردند، بعداً این عملیه انتقالات شدت یافت زیرا که مالیات ... از سوی سلسله محمدزایی افزایش یافت و نیز اراضی وسیع بدست فیودالها و سرداران محمدزایی و قبایل متحده آن به زودی از مالکان اصلی ازبك غصب شد.

در طی مدت امارت عبدالرحمن محمد زایی و به دنبال قیامهای

(c) ketabton.com: The Digital Library

در قطغن، مزار شریف و میمنه علیه تصرف و غصب اراضی دهقانان ازبك افزایش یافت و سرداران و خوانین قبیلوی محمدزایی و متحدین دیگر انان که ماهیت تك ملیتی داشتند که از نواحی جنوبی باین مناطق سرازیر شده بود از معافیت های مالیاتی و سایر تسهیلات لازم مملکتي برخودار بودند که در نتیجه سرداران محمد زایی و خوانین قبیلوی متحده شان توانستند بر بهترین زمین های ازبکان دست یابند و عده زیادی از زحمتکشان ازبکها را به عنوان دهقان و بذرگر بخدمت زراعت و کشمندی خود در اورند."(۲)

د ډاکټر نجیب الله د واك په بهیر کې په کابل کې د "مرکز انسجام ملیت هزاره" په نوم د هزاره ګانو د تمرکز لپاره یوه ځانګړې اداره جوړه شوه. دې مرکز د "غرجستان" په نوم یوه مجله هم خپروله. د مجلې د کتونکې ډلې غړي دا وو: "اکادمیسین عبدالواحد سرابي، کاندید اکادمیسین شاه علي اکبر شهرستاني، ډاکټر محمد اسمعیل قاسمیار، محقق حسین نایل، عبدالحسین توفیق، محمد عوض نبي زاده کارګر، عبدالله کشتمند، سیدسعدي نادري، سید محمد علیشاه سجادي، محمدیونس طغیان"(۳)

دې مجلې زیاتره افغاني ضد لیکنې خپرولې. دې مرکز د هزاره ګانو لپاره په اوږده ستراتیژۍ کې د یو ځانګړي هیواد د جوړېدو غوښتنه کوله او په دې وخت کې د افغانستان په دننه کې د فدرالي جوړښت په بڼه د "غرجستان" په نوم د یو مستقل سیاسي - جغرافیایي تشکل د جوړېدو غوښتونکي وو. دوی غور د هزارګانو اصلي ټاټوبی باله او ویل یې چې پښتنو دا سیمه په زور اشغال کړې ده. دغه راز د هزاره ګانو د حقوقو مدعیان د افغانستان په ټول دولتي جوړښت او په بهر کې د افغانستان په سیاسي نمایندګیو کې په سلو کې د پنځه ویشت برخو د حق غوښتونکي وو. ډاکټر نجیب الله د هزاره ګانو دې ډول غوښتنو ته بڼه په اخلاص غوږ اینښی و او په ځینو برخو کې یې د دوی غوښتنې عملي کړې هم وې.

د "مرکز انسجام ملیت هزاره" او "غرجستان" مجلې د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکوونکو معاش او لګښت د دولت له بودجې څخه ورکول کېده. همدې مرکز په یو لړ نورو هڅو هم لاس پورې کړ. ایران پلوه تحرکات یې راپارول او د ډاکټر نجیب د حکومت تر رنګېدو وروسته حالاتو ته یې ځان چمتو کاوه. په کابل کې پر همدې مهال د هزاره ګانو یو لړ زیات سپورتي کلپونه جوړ شول، چې په زرګونو هزارګان پکې روزل کېدل. دې کلپونو ځینو یې له "مرکز انسجام ملیت هزاره" سره هم اړیکي لرل او داسې څرګونه هم شته چې د ایران د حکومت له خوا هم پالل کېدل. له دې کلپونو څخه مقصد دا و چې دلته دا اشخاص د عسکري تولګیو او سرتېرو په شان وروزل شي، کله چې اړتیا احساس شي بیا به ورڅخه کار واخیستل شي. د قومي غونډونو، د ایران د لاسوهنو او نورو امکاناتو په واسطه مخکې تر مخکې د دې ډول اشخاصو لپاره د وسلې غم خوړل شوی و.

له هزاره ګانو پرته اساسي ګوند چې په ډاګه یې پښتني ضد او افغاني ضد مسایلو ته لمن وهله هغه د ستمیانو سازمان چې د "سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان (سازا) " په نامه یادېده هم د نجیب الله د واکمنۍ پر وخت په ډاګه میدان ته راووت. او هم یې په دولتي کابینه کې څو مهم پوستونه اشغال کړل. محبوب اله کوشاني (د صدارت مرستیال)، بشیر بغلاني (د عدلیې وزیر)، اسحق کاوه (د معدن او جیولوژۍ وزیر) او ځینو نورو نور مهم دولتي پوستونه اشغال کړل.

ستمیانو د نجیب د وخت په پارلمان کې هم د یاد وړ برخه درلوده. دوی د ((میهن)) په نامه یوه اونیزه جریده خپروله چې اکثره لیکنې یې افغاني ضد او ملي ضد وې. په پیل کې د دې جریدې مسوول مدیر (سخي غیرت) و. وروسته د ستمیانو د داخلي اختلاف له امله له دې دندې لرې شو. دې جریدې په خپلو اکثرو پاڼو کې د افغانستان پر ځای د "خراسان" او د افغانانو لپاره د "خراسانیانو" نومونه (اصطلاح) کاروله. د ستمیانو سازمان په ځینو دولتي فرهنګي او تعلیمي موسسو له هغې جملې نه په کابل پوهنتون او د کابل طب په انستیتوت کې هم څانګې جوړې کړې وې.

دا خبره هم له چا نه پټه نه وه چې ستمیانو نېغ په نېغه له روسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره اړیکي لرل او د تخار په ولایت کې د هغوی ځینې پوځي غونډ
مستقیماً د روسانو له خوا اکمالېدل. ځینو پرچمیانو دا حالت نه شو
زغملای چې پرته له دوی دې نورې ډلې هم له روسانو سره پټ او خواره
اړیکي ولري. له همدې کبله د ډاکټر نجیب الله د دولت پارلمان په یوه
غونډه کې د ستمیانو د یو استازي او د پرچمیانو د یوې استازې (جمیلې
پلوشې) د دواړو ډلو د کوډاګیتوب پر مسئله سخت لفظي جنګ پېښ شو.
(جمیلې پلوشې) له ستمیانو سره د روسانو د هغه منظم سیستماتیك پوځي
کومك یادونه وکړه چې په تخار او بدخشان کې د هغوی له خوا دوی ته
ورکول کېده. دغه راز یې دګوند په رهبرۍ کې دستمیانو سازمان د راپورته
کولو او پاللو په برخه کې هم د ګوند اسناد په ډاګه کړل. د جمیلې پلوشې
د خبرو ځینې برخې همغه وخت له راډیو افغانستان نه هم خپرې شوې.

د ډاکټر نجیب د واکمنۍ بل توند پښتني ضد شخص (نجم الدین
کاویانی) دی، چې "د وطن ګوند" د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو غړی و.
ده په ښکاره او پټه پښتني ضد دښمني سرته رسوله. تل به یې د میز پر سر
د افغانستان نقشه پرته وه او هغو سیمو - په ځانګړي ډول د هېواد د شمال
هغو ځایونو ته چې هلته پښتانه او نور قومونه استوګن وو په خیر خیر کتل.
ده د روسانو او کارمل پر هغې ستراتیژۍ کار کاوه چې څنګه د هېواد د
شمال په سیمو کې د پښتنو شمېر راکم کړي. داپروژه دروسانو په راتګ سره
پیل شوه. روسانو پرهغو سیمو دزیاتو جګړو میچنې وګرځولې چې زیاتره
یې پښتانه مېشت وو. دوی غوښتل د جګړو په واسطه پښتانه دې ته
اړکړي چې په شمال کې له خپلو استوګنځیو څخه مهاجرت وکړي. د کارمل
په ټوله دوره او د روسانو په شتوالي کې دې هڅو دوام وکړ. د ډاکټر نجیب
الله په وخت کې هم په دولت او پوځ کې واکمنو ملي ضد ډلو دې لړۍ ته
دوام ورکړ. دوی په دې ډول غوښتل چې هېواد د تجزیې له خطرسره مخ کړي.

بشیر بغلانی چې د ستمیانو د ګوند د مرکزي کمیټې غړی و د
نجیب په واکمنۍ کې د عدلیې وزیر و، ده "درفش جوانان" اوونیزې سره
چې د فرید مزدك "د ځوانانو سازمان" له خوا خپرېدله د یوې مرکې په ترځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د افغانستان لپاره د یو فدرالي حکومت د جوړېدو طرح وړاندې کړه او د ده په اصطلاح "که فدرالي حکومت جوړ شي نو د محرومو ملیتونو حقوق چې پخوا تلف شوي دي نور به تلف نه شي". دا مرکه د نوموړې جریدې د ۱۳۶۸ کال د وروستیو میاشتو په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.

د فدرالي حکومت له جوړېدو څخه د ستمیانو موخه او هدف هماغه د افغانستان تجزیه وه خو څرنګه چې په عامه ذهنیت کې د تجزیې لپاره هېڅ ډول شرایط برابر نه وو نو دوی د تجزیې د لومړي ګام په توګه د فدرالي سیستم د جوړېدو هیله لرله.

د ډاکټر نجیب الله تر حاکمیت دمخه د کارمل په پړاو کې اکثره اخبارونه او جریدې په فارسي واړول شول او پښتو د ژباړې ژبه شوه، خو د ډاکټر نجیب الله په وخت کې یو نسبتاً ښه کار دا وشو چې په اخبارونو کې پښتو تر یوه بریده له ژباړې خلاصه شوه. دا کار پښتو ته د پاملرنې له مخې نه و بلکې د کاغذ د زیات لګښت او د دوه ځلي چاپ مخنیوی و. په دې کار سره پښتون لیکوال ته هم د دې امکان برابرېدای شو چې مستقیماً اخبار ته پښتو لیکنه ولېږي او د ژباړې لړۍ تر یوه حده کمه شي.

د همدې آر په رڼا کې پیام، هېواد، انیس ورځپاڼو او ځینو نورو خپرونو یو ځای په یوه وخت کې په پښتو او فارسي ژبو په خپرونو پیل وکړ.

هغه اساسي قانون چې د ډاکټر نجیب الله په وخت کې د هغه له خوا د جوړې شوې لویې جرګې له خوا منظور شو او دی ورته خپله ژمن و په هغه کې لیکل شوي وو "د افغانستان د ملي ژبو له جملې څخه پښتو او دري رسمي ژبې دي"(۴) اول خو په دې جمله کې هم یو حقوقي او ژبنی ظلم او ابهام پروت دی، دوی په قصدي ډول غوښتي د پښتو ژبې حقوق له ورو ژبو سره برابر وښيي، خو دې سره سره عملاً هېڅکله هم دې اصل ته درناوی و نه شو او نه پرې عمل وشو. لومړی شخص چې د اساسي قانون دا اصل یې مات او تر پښو لاندې کړ، په خپله ډاکټر نجیب و.

د ده په واکمنۍ کې د ده تولې ویناوې او بیانیې تقریباً په سلو کې پینځه نوي په فارسي ژبه وې. د ده فارسي ژبي اراکین خو لا په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلو مکلف نه وو.

بشیر رویگر یې د پښتنو په نمایندګۍ(!) د اطلاعاتو او کلتور وزیر ټاکلی و،خو هغه خپله په پښتو نه پوهېده او نه یې چا په رسمي چارو کې له خولې څخه پښتو اورېدلې وه.

له خپرونو پرته په دې وخت کې یو شمېر "فرهنګي ټولنې" چې ژبني او ملي مسایل یې تعقیبول هم جوړې شوې. لومړی د ناپښتنو له خوا پېنځه فرهنګي ټولنې جوړې شوې. داسې ښکارېدله چې له دې ټولنو سره د "امنیت وزارت" او په حکومت کې ځینو واکمنو اشخاصو لکه عبدالحمید محتاط، فرید مزدك، نجم الدین کاویاني، سید کیان او ځینو نورو په پټه او ښکاره مرستې کولې. دغه راز خپله "جمهور رئیس" هم له دوی سره په پټه او ښکاره یو څه نقدي او د ځای مرسته کوله.

کله چې پښتنو د ناپښتنو دا ګڼ شمېر فرهنګي ټولنې ولیدلې نو یو شمېر ځوان زړونو اندي او پوهان سره راټول شول او "دخوشال فرهنګي ټولنه" په نوم یې یوه فرهنګي ټولنه جوړه کړه. "دا ټولنه د ۱۳۶۹ کال د لړم په ۲۵ نېټه رسماً د کابل په انترکانټیننټل هوټل په تالار کې پرانیستل شوه.(۵) د غونډې لګښت د فرهنګیانو او فرهنګپالو له شخصي مرستې څخه برابر شوی و. هیله وه چې "جمهور رئیس" به لکه د نورو ټولنو په شان دې ټولنې ته هم نقدي مرسته او د مبارکۍ پیغام راولېږي خو داسې ونه شول. کله چې د غونډې برخوالو د دود خلاف د (خوشال فرهنګي ټولنې) په وراندې د "جمهور رئیس" دا چلند ولید نو ډېر خواشیني شول. "جمهور رئیس" تر پایه دې ډول کارونو ته دوام ورکړ.

په فرانسې کې د یونیسیف له خوا یو نړیوال کنفرانس جوړشوی و. په دې کنفرانس کې د هر هېواد جمهور رئیس د خپل هېواد په ملي ژبه یانې د اکثریت په ژبه خبرې وکړې خو ډاکټر نجیب الله هلته هم پښتو هېره کړې وه، په فارسي ژبه او هغه هم په داسې ایراني لهجه وغږېده چې هلته دا معلومه نه شوه چې د افغانستان او ایران د استازو تر منځ څه توپیر و او که نه؟ د ډاکټر نجیب الله دا وینا د کابل له ټلوېزیون څخه هم خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې یوګوسلاویا ته د ناپیلو هېوادو د غونډې په نیت روان و،
نو د لنډ وخت لپاره جلال آباد کې تم شو. د جلال آباد د خلکو غونډې ته
ده وویل چې په فارسي خبرې وکړم که په پښتو؟ ټولو وویل په پښتو. خو
ده وویل ښښنه غواړم چې هلته څوك په پښتو نه پوهېږي او زموږ پښتو
ترجمانان نه شته. بیا یې د جلال آباد بېلابېلو قومونو ته په فارسي وینا
وکړه. تر کومه ځایه چې د ترجمې خبره ده نو د پښتو ژبې د فونولوژیك
(غږیز) جوړښت او بډاینې په برکت ان د نړۍ په کچه دا څرګنده ده چې
پښتانه د نورو ژبو په زده کولو کې تر هر چا زیات استعداد لري. تر کومه
ځایه چې په بهرنیانو پورې اړه لري هغوی خو هسې هم نه په پښتو پوهېدل
او نه هم په فارسي. همدارنګه په کابل او د هېواد په نورو ولایتونو کې هم
د پښتو او فارسي خپرونو توازن برابر نه و. د اصولو له مخې خو باید پښتو
خپرونې زیاتې وای او د نورو لږکیو قومونو ژبو ته هم حق ورکړ شوی
وای، خو د نورو وړو ژبو حقوق هم فارسي ژبې ته ورکول کېدل.

ځینو ګډو خپرونو کې د پښتو ونډه په سلو کې څلوېښت ځینو کې
دېرش، ځینو کې لس او په ځینو کې یو دوه فیصده وه. هغه کتابونه چې
دې وخت کې چاپ شوي د فارسي تله پکې په څرګند ډول درنه وه؛ په ځینو
برخو کې دوه برابره او په ځینو کې څو برابره وه.

په لنډیز سره ویلی شو هغه پلانونه چې روسانو د کارمل په واسطه
غوښتل پر پښتنو باندې عملي کړي د هغو پاتې برخه د ډاکټر نجیب الله
په وخت کې عملي شوه.

د ده په واکمنۍ کې د هېواد په پوځ کې ملي توازن ګډوډ او
وسلوال پوځ د لږکیو تر منځ ووېشل شو.

د اکثریت دنده او حقوق لږکیو ته انتقال شول. پښتو ژبې او
پښتني فرهنګ ته په بې تفاوتۍ او ان په مخالفه سترګه وکتل شول.
بېلابېل پښتنې ضد سازمانونه جوړ او وده ورکړای شوه.

پښتون مېشته سیمې له پوځي، اقتصادي او فرهنګي پلوه وځپل
شوې او خپل حقه حقوق یې تلف شول. په هېواد کې ملي انډول خراب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېواد د ساتنې او يووالي اساسي فکتور او ځواك ته زيان ورسېده او هېواد د يوې انارشۍ په لور روان شو.

په پای کې همغو لړکيو چې ده په خپله نازولي او راپورته کړي وو، د ده پر ضد په خپلو منځو کې ائتلاف وکړ او د جبل لسراج او مزار شريف د ترونونو پر اساس يې د ۱۳۷۱ کال د وري پر ۲۸ نېټه د ملګرو ملتو د سولې پلان شنډ کړ، دی يې د کابل له نړيوال هوايي ډګرنه بېرته راوګرځاوه او په کابل کې يې د ملګرو ملتو په دفتر کې پناه واخيسته. وروسته همدغو لړکيو او د هغو د حقوقو مدعيانو دی د "ديکتاتور" او "فاشيست" په نوم ونوموه. په پايله کې د ۱۳۷۵ ل کال د ميزان پر ٦ مه نېټه د کابل ښار د اريانا په واټ کې د طالبانو د اسلامي تحريك د سرتېرو له خوا په دار وځړول شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**

۱) برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي، دیوه مجله، لندن، ۱۹۹۵ع کال، دسمبر، ۱۹ مخ.

۲) جلال الدین صدیقي، افغانستان در قرن جدیده، د "ا.خ.د.گ" مرکزي کمېټه، کابل، ۱۳۶۹ ل کال، ۱۱-۱۲ مخونه.

۳) غرجستان مجله، "مرکز انسجام ملیت هزاره" کابل، ۱۳۶۸ل کال، ۹ گڼه.

۴) د افغانستان اساسي قانون، د ۱۳۶۹ ل کال، تعدیل او تصویب لومړی فصل، ۸ ماده، ۳ مخ.

۵) شمشاد مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۲ گڼه، ۹۰ مخ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# طاهر بدخشي او د ستميانو جوړښت



روسانو په افغانستان کې د قومي انډول د **ګډوډولو او** ملي یوو ـي ته د زیان رسولو په نیت د خپلې کمونیستي ایډیالوژیکي لیکې تر څنګ د یوې بلې ډلې د جوړولو هدف او موخه دا وه چې په افغانستان کې قومي نفاق ته لمن ووهي او د افغاني ټولنې د واك دوديز جوړښت ته زيان ورسوي. کله چې په افغانستان کې د واك اصلي سرچينې او څواك ختم شي، نو د روسانو د لاسوهنې لپاره به شرايط لا ښه برابر شي. روسانو يوازې په کمونيستي ليکې کې د افغانستان ضد عناصرو په پاللو او وده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولو بسنه و نه کړه، بلکې د همدې ډلې په ګډه کې يې د يو بل تشکل لپاره هم لاره اواره کړه. روسانو طاهر بدخشی د دې کار لپاره مناسب شخص وګاڼه. لومړی يې هغه ته کمونيستي ايډيالوژي ور تزريق کړه او بيا يې د کمونيستي فکر تر څنګ په افغاني ټولنه کې د ملي نفاق او دښمنيو د راپارولو لپاره وګماره. د ستميانو د خپلو سرچينو له مخې: "طاهر بدخشی در ماه جدی سال ۱۳۴۳ به مثابهٔ یکی ار عمده ترین کادرهای حزب دیموکراتیك خلق افغانستان و مسوول تشکیلات حزب و شخصیت درجه سوم حزب وارد کازار سیاست گردیده و مسئلهٔ ملی را در مقامات رهبری حزب مطرح کرد."(۱)

طاهر بدخشي لا "د افغانستان د خلق ډيموکراتيك ګوند" کې پښې ټينګې کړې نه وې، چې ملي نفاق ته يې په لمن وهلو پيل وکړ او په دې ګوند کې يې د ملي مسئلې په باب لمسونې پيل کړې. ده خپله دا هڅه د ګوند د ۱۳۴۳ل کال له لومړۍ کنګرې څخه را پيل کړه. کريم ميثاق ليکي: " طاهربدخشی اعضای کنگره از نگاه ملی هم گروپ گروپ تنظیم کرد و عکس گرفت."(۲)

بدخشي په ګوند کې دننه خپلو دې هڅو ته دوام ورکاوه، خو څرنګه چې د ګوند تګلاره ظاهراً کمونيستي وه او ښکاره هدف يې د يوې سوسيالستې ټولنې جوړول(!) وو، نو طاهر بدخشي نه شو کولای په افراطي ډول قومي مسايلو ته لمن ووهي. دغه راز په دې وخت کې په ګوند کې ځينې داسې اشخاص هم وو چې هغوی د ملي مسايلو په وړاندې د بدخشي تګلاره نه شوه زغملای. لنډه دا چې په ګوند کې د پښتنو اکثريت د طاهر بدخشي د زياتو فعاليتونو مخه ونيوله او د هغه د هڅو ساحه تنګه شوه. په پايله کې يې له روسانو سره په تفاهم کې د [۱۳۴۷ل کال د اسد پر ۱۵مه نېټه]د ملي ستم ډله "سازمان انقلابی زحمتکشان افغانستان (سازا) تاسيس کړ."](۳) "طاهر بدخشي خپل ګوند د روسانو تر ملاتړ او د مارکسېزم د ايډيالوژۍ تر پردې لاندې د قومي او قبيلوي بې اتفاقۍ د راپارولو په منځي کې ودرولی.و. دې ډلې د افغانسان د شمال په سيمو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاجيك، ازبك، ترکمن او هزاره لږکيو قومونو په منځ کې د پښتنو پر ضد د "جهاد" د مفکوري پر مخ بيولو سره سياسي کار کاوه."(۴)

طاهر بدخشي او د ده پلويانو په يوه وخت کې دوه فکري ليکې تعقيبولې؛ له يوې خوا يې "کارگر و دهقان" شعارونه ورکول او د مارکسېزم او لېننيزم لاره يې تعقيبوله او له بلې خوا يې د پښتنو په وړاندې لمسوونکي اعمال تر سره کول. دا هغه دوه تگلارې وې چې په يوه وخت کې يې د روسانو له خوا لارښوونه کېدله. نه مارکسيستي او لېننستي ايډيالوژي او نه هم د پښتنو په وړاندې لمسوني کورني پديدې وې، بلکې دواړه له بهر نه د ځانگړو موخو د تر لاسه کولو لپاره ځرگندې تگلارې وې. طاهر بدخشي به په خپلو خبرو کې کمونيستي فکر ځلوه او په دې توگه يې غوښتل چې د روسانو په شان د کمونيستي تگلارې تر پردې لاندې د افغانستان د اکثريت په وړاندې د دښمنۍ اعمال تر سره کړي. ده به ويل: "بهترين ضمانت مصؤن بودن از ضربهٔ دشمن پناه بردن در اغوش گرم کارگران و دهقانان است."(۵) طاهر بدخشي او د ده پلويانو په افغانستان کې د نورو وړو قومونو د پارولو او د دوی په اصطلاح د هغوی د حقوقو د تر لاسه کولو لپاره په افغانستان کې د يو فدرالي حکومت د جوړولو هڅه کوله. له فدرېشن څخه د دوی مقصد دا و چې په لومړي گام کې به په افغانستان کې د مرکزيت رول ختم شي او دوی به په نيمه ډول په اصطلاح خپلواک شي او په دويم گام کې به بيا د هېواد د بشپړې وېشنې او تجزيې مسئله زامنځته کړي. په دې برخه کې د روسيې او ايران د حکومتونو تگلاره هم همدا ډول وه. دا چې له عملي، سياسي، جغرافيايي، مذهبي، اقتصادي، ژبني او قومي پلوه په افغانستان کې د فدرېشن امکان شته او که نه؟ دا دوی ته مطرح نه وه. د افغاني ټولنې په برخه کې سياست پوهان او ټولنپوهان په دې نظر دي چې په افغانستان کې قومونه داسې سره اوبدل شوي اويو بل سره تړل شوي چې دلته د هيڅ ډول فدرېشن د جوړولو امکان نه شته او بل په هېواد کې د پښتنو زيات اکثريت د هر ډول فدرېشن د جوړېدو او تجزيې د مخنيوي تضمين کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاهر بدخشي له خپلې مېرمن سره

روسيه او ايران پر دې واقعيت هم تر يوه حده پوهېدل، خو هغوی دا خبره هم په ذهن کې ساتلې وه چې که په افغانستان کې د فدرېشن او يا د تجزيې امکانات برابر نه شي، نو لږ تر لږه خو له دې اشخاصو او ډلو څخه د تولنيزې او سياسي بې ثباتۍ په توګه کار اخيستلی شي، نو څکه ستميانو په خپلو خپرونو او شعارونو کې تر هر څه دمخه د افغانستان له جوړښت او نامه سره حساسيت وښود او د خپل تشکل او مشر د رامنځته کېدو علت يې د "خراسان" "دوزخي جغرافيه" وګڼله. "سرانجام بدخشی و انوار فروزان و انکار ناپذير موجوديت او در متن اندوهگين تاريخ و جغرافيايی دوزخی خراسان تنديس جاويدانه نمودار شد."(٦)

"عاقبت اين آفريده بزرگ و بی هتمای تاريخ معاصر خراسان زمين از ما گرفتند."(٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستميانو، د قومي نفاق، د افغانستان د تجزيې او فدرېشن په باب د طاهر بدخشي لاره تعقيب کړه. محبوب الله کوشاني چې ډېر کلونه د ستميانو ډلې "سازا" مشر پاتې شوی و په خپله يوه ليکنه کې داسې څرگندونې کوي: "ما جداً متعقديم که به کاربستن نظرگاههای بدخشی درباره تاسيس و ايجاد دولت فدرالی، طرح مشخص او در باره جبهه متحد ملی و چگونگی ترکيب اين طيف وسيع و داشتن قضاوت و پيروی از سياست عدم دنباله روی در پهنهٔ جهانی و تامين وحدت راستين ميان نيروهای ميهن پرست ميتواند بسياری از دشواريهای و نابه هجاريهای وضع کنونی را از ميان بردارد."(۸)

سخي غيرت د ستميانو د ډلې د رهبرۍ يو بل غړی چې ډېر وخت د ستميانو د نشراتي ارگان "ميهن" جريدې مسوول و، وايي: "موجوديت تسلط سياسي و نظامی نوع تك مليتی، آنچه در کشوری باساختار يك پارچهٔ ملی نعمتی ميتواند بود، در شرايط کثيرالمليت بودن افغانستان مصيبت واقعی بود. محافل حاکمه در تمام عرصه ها و طی تمام تاريخ تسلط خود کامه تك مليتی خود به تعرض همه جانبه اقتصادی، اجتماعی، سياسی و فرهنگی پرداخته بودند، آنها ميخواستند پروسه همانسازی مليتها و گروهای اتنيکی را با مليت حاکم به زور و ضرب شلاق تسريع کنند.

ستم ملی که بنياد سياست حکومت تك مليتی را تشکيل ميدهد بايد از بين برود و جای آنرا برابری، همکاری و برادری مليتها و گروهای اتنيکی ساکن کشور بگيرد."(۹)

طاهر بدخشي او نورو ستميانو په خپلو ليکنو، ويناوو او تگلارو کې دا هڅه کوله چې د افغانستان نور قومونه خصوصاً تاجکان "ستم ځپلي" وښيي، دوی پښتانه د دې "ستم" عاملين گڼي، چې د سخي غيرت په وينا: "به تعرض همه جانبه اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی پرداخته بودند." خو بدخشي له دومره هلو ځلو سره سره بيا هم ستم نه و پېژندلی چې اصلي ستم کوم و؟ ده لا د خپل ژوند تر پايه پورې هغه ستم و نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پژانده چې د ده ژبه یې ... وڅه کړې او ترلې وه او د ده قوم یې ورو ورو له معنوي پلوه ځان کې محو ... کاوه او هویت یې ورته ختموه. خپله طاهر بدخشي ته به وګورو چې پر ده باندې چا ستم کاوه؟ او ده چا ته داستم راجع کاوه؟ طاهر بدخشی اصلاً د ختې له مخې ازبك دی او په بدخشان کې زېږېدلی دی. خو په غالب ګومان د ده ازبکي ژبه ... نه وه او نه یې د هغې د پرمختګ او بډاینې لپاره څه هڅه کړې ده، بلکې دی د خپلو ځینو نورو قومیانو په شان یو ځای د فارسي یا تاجك پالنې په خم کې لمبېدلی و. هم یې خپل قوم هېر کړی او هم خپله ژبه.

د احصایو او ارقامو له مخې ګڼ شمېر ازبکان په فارسي ژبو چې تاجکان یې استازولي کوي اوښتي دي. د یوې احصایې له مخې د افغانستان په ټول نفوس کې د (٦،١٠) فیصدو ازبکو په شمېر کې (٥،٨٠) فیصده ازبك (١٠) په خپله ژبه ګړېږي پاتې (٠،٣٠) یې فارسي ژبي شوي دي. طاهر بدخشی هم په همدې ازبکانو کې راځي. خو ده یوازې د ستم نوم اورېدلی او محسوس کړی یې نه و. اوس نو بناغلي سخي غیرت ته هم سوال راجع کېږي چې چا ... "تعرض همه جانبه اقتصادی، اجتماعی، سیاسی و فرهنگی پرداخته بودند؟"

لکه څنګه چې ببرك کارمل د خپل ناڅرګند قومي هویت له کبله خپله بشپړه رسمي پېژندنه تر پایه چاپ نه کړه، همدا کار بدخشي هم کړی دی. د ده له مرګه وروسته نورو ستمیانو هم د ده د قومي هویت او بشپړې قومي پېژندنې په باب چندان معلومات نه دي خپاره کړي. یوازې سخي غیرت په یوه لیکنه کې په ضمني توګه ویلي چې "طاهر بدخشی فرزند خلق ازبك بود"(١١) نو کله چې هغه "فرزند خلق ازبك" وي، نو لږ تر لږه خو باید هغه د ازبك لړکیو د ژبنو، فرهنګي او قومي حقوقو غږ پورته کړی وای، نو اصلي ستم خو همدې ته وایي، چې د طاهر بدخشي له مرګه وروسته هم د ستمیانو سازمان یوازې د تاجکانو په انحصار کې و. نه نورو قومونو له دې سازمان سره چندان لېوالتیا درلوده او نه هم دوی دومره علاقه درلودله چې د خپل سازمان په تشکیل کې دې هغوی ته څه اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رول ورکړي. يوازې يې د تبليغاتي کمپاين لپاره "د مليت ها محروم و ستمديده، اقليت هاى ستم کشيده و برپاخاسته" شعارونه ورکول.

طاهر بدخشي د همدغسې ادعاوو او نارو سورو په پورته کولو او د روس پلوه سياستونو د تعقيبولو له کبله لومړى ځل پر ۱۳۵۶ل کال زنداني شو. تر خلاصون وروسته هغه بيا هم د حقيقي ستم پرځاى خپلو دې ډول هلو ځلو ته دوام ورکړ. پر ۱۳۵۷ل کال په هېواد کې سياسي فضا بدله شوه. د طاهر بدخشي او ببرک کارمل پخواني سياسي رقيبان د واک پرګدۍ کېناستل، کارمل په چکوسلواکيا کې د افغانستان د سفارت له لارې د شورويانو غېږې ته پناه ور وړه، خو "حفيظ الله امين د طاهر بدخشي او د هغه د مرستيال قومي او سياسي حساب ته ځان ورساوه او دواړه يې د مرګ کندې ته تېل وهل."(۱۲) ستميانو د شورويانو په راتګ سره خپلې ليکې پراخې کړې، له روسانو سره د مستقيمو اړيکو په نتيجه کې د هغوى له زياتو سياسي، پوځي او اقتصادي مرستو څخه برخمن شول. په تخار او بدخشان کې يې زيات "قومي غونډونه" جوړ کړل. د شورويانو او د هغوى له پوځي ټولګيو سره يو ځاى يې د مجاهدينو خلاف په وسلوالو او تبليغاتي جګړو کې برخه واخيسته. وروسته د دولتي دستګاه په دننه کې هم زيات فعال کړاى شول. د روسانو د پخوانۍ ستراتيژۍ له مخې پرچميانو هم چې پخوا يې د کمونيزم پرده پر مخ غوړولې وه، خپله پرده له مخې لرې کړه، په ښکاره ډول د ستميانو له تګلارې سره يو ځاى شول. په جهادي ليکو کې د جمعيت او شورا نظار ډله چې مخکې تر مخکې د روسانو له خوا په افغاني ضد روحيې سمبال شوي. وي هم ستمي لاره خپله کړه. په نتيجه کې جمعيت، پرچم، ستم او نور ملي ضد ګروپونه سره په داخل کې متحد شول او په بهر کې د روسانو او ايرانيانو په مستقيم، ښکاره او ځرګند ملاتړ د سازشونو، ائتلافونو او توطئو له لارې د ملکرو ملتو د سولې پلان او د واک سوله ييز لېږد سبوتاژ کړ او په نتيجه کې پر ټول هېواد يوه توره انارشي راخپره شوه چې د دويمې سقاوۍ پيلامه ګڼل کېداى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**


۱) يادنامهٔ محمد طاهر بدخشي، د"سازا"خپرونه، کابل، ۱۳٦۹ل کال، ۷ مخ.

۲) د کريم ميثاق يادښت، همدا اثر، ۱۰۵مخ.

۳) همدا اثر، ۷ مخ.

۴) پوهنوال ډاکټر م. روستار تره کی. د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۴۰ مخ.

۵) يادنامه طاهر بدخشی، ۲۷ مخ.

٦) همدا اثر، الف مخ.

۷) د جهادن ګل ضميري مقاله، // ، ۱۱۷مخ.

۸) د محبوب الله کوشاني مقاله، // ، ۱۰-۱۱ مخونه.

۹) د سخي غيرت مقاله، // ، ۹۸-۹۹ مخونه.

۱۰) د افغانستان قومي جوړښت، د افغانستان لپاره د واك فونډېشن، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۴۸مخ.

۱۱) د سخي غيرت مقاله، يادنامه محمد طاهر بدخشی، ۹۹ مخ.

۱۲) ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، ياد شوی اثر، ۴۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "برابر ملیتونه" او د هغو تعبیرونه

کله چې روسانو پر افغانستان مستقیم یرغل وکړ، نو ورسره یو ځای په کابل او د هېواد په نورو سیمو کې د افغانستان د قومي او اتنیکي جوړښت د بېلا بېلو ځانګو لپاره ډول ډول اصطلاحګانې وکارېدې. "ملیت های برادر و برابر"، "اقلیت های ستمدیده و محروم" او نورې. دوی د افغانستان د بېلا بېلو قومونو لپاره د "ملیتونو" نومونه وکاروله. دا اصطلاح د روسانو له یرغل څخه دمخه په رسمي مطبوعاتو او حقوقي چارو کې د یو قومي تشکل لپاره نه ده کارېدلې. د ډاکتر محمد نادر عمر په اند دا اصطلاح روسانو دود کړې ده. "این اصطلاح ساخته و پرداخته شورویها است که هفتاد سال پیش بااشغال آسیای میانه بغرض تفرقه بین اقوام مختلف ان سرزمین به کار بردند.

شوروی ها متعاقب تجاوز با افغانستان بهمین منظور نفاق افگنی بین ساکنین ان اصطلاح ملیت ها را رایج نمودند و کمونیست ها در تصمیم و گسترش ان تلاش کردند.

اصطلاح ملیت ها نزد افغانها مردود است؛ افغانها ملت واحد را تشکیل میدهند. کسانیکه تابیعت افغانستان را دارند، بهر قومیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منسوب باشند، ملیت ان افغان است و دارای حقوق مساوی هستند. پشتون، تاجك، هزاره، ازبك، ترکمن، قرغز، و غیره همه متعلق بیك ملت واحد بوده و افغان میباشد. در شناسنامۀ هر کسیکه تابیعت افغانستان را دارد، برای شناخت وی افغان نوشته شده است."(۱)

ډاکټر محمدعثمان روستار تره کی لیکي: "در حقوق سوسیالیست ملیت به گروه افرادی اطلاق میگردد که دارای اوصاف مشترك نژادی، کلتوری و زبانی باشند به نحویکه اوصاف متذکرد ارزومندی گروه موصوف را برای داشتن یك دولت اختصاصی یا لا قل دولت خود مختار داخلی، برانگیزد. مشخصات جداگانه گروه مذکور احتمال دارد توسط قانون دولت متبوع شناخته شود. گروه را که دارای اوصاف مشترکه نژادی، کلتوری وزبانی باشند. درحقوق لیبرال بنام قوم یاد می کند، نه بنام ملیت.

بلې ! اصطلاح ملیت به مفهوم قوم بار اول توسط لینن در اعلامیه مردم کارگر و دهقان مورد استفاده قرار گرفت. (Parcal Vennessom مقدمه یی بر آثار لینن چاپ بروکسل، سال ۱۹۹۲، ص ۲۵٦).

در افغانستان عناصر عقده بدل از شکست کمونیستها در بخشی از مطبوعات هجرت اصطلاح ملیت را به همان محتوی کمونستی نشخوار می کنند. گویا این عناصر به قوم بودن ملیت های نژادی در افغانستان قانع نیستند."(۲)

روسانو دا اصطلاح په ټولو دولتي چارو، سیاسي مسایلو او حقوقي برخو کې د خپلو ځانګړو اهدافو لپاره وکاروله. د هغوی ګوډاګیانو د دې اصطلاح په تبلیغ او کارونه کې لا ډېر ګړندي ګامونه واخیستل. په کابل کې د دې لپاره یوه ځانګړې اداره "ریاست امور ملیت ها" جوړه‌شوه په همدې بهیر کې یې د "ملیت های برادر" په نوم یوه مجله خپروله. په دې مجله کې له فارسي،پښتو پرته په نورو ژبو لکه ازبکي، پشه یي... هم لیکنې خپرېدې، د مجلې په کتونکې ډله کې دا کسان شامل وو: "محمد عوض نبي زاده، غلام حضرت ابراهیمي، عبدالله بختاني، حسین نایل، عبداله مهربان، اشرف عظیمي، عبدالرحمن، عبدالکریم نظر، سلیمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سونارانورستانی، محمدزمان نیکرای او غلام صدیق شینګلینګ(مدیر)(۳).
په مجله کې به زیات مطالب په فارسي ژبه خپرېدل، په نورو ژبو پکې زیاتره یوه یا دوه لیکنې راتلې. د "تاجك ملیت" پکې په اصطلاح د مشرۍ رول درلود، پښتانه ... له نورو قومونو سره په "مساوي" تله کې ودرولي. وو. له "ملیت های برادر و برابر" اصطلاح څخه دوې ناوړه ګټه پورته کوله.
روسانو او د پرچم ډلې د دې اصطلاح په کارولو سره ولس تېر ایسته؛ دوی به تل له راډیو - ټلوېزیون او خپرنیو وسایلو څخه دا تبلیغ کاوه: "تمام ملیت های ساکن افغانستان با هم برابر و برادر اند". د دوی په دې هڅه کې یو متضاد مانیز رمز پروت دی چې د دې شعار او نومونو له باطني مانا سره پیوستون لري. دوی دا خبره نه کوله چې (د افغانستان ټول خلك سره ورونه او برابر دي او د قانون په وړاندې یو شان مسوولیت او حقوق لري.) دوی یوازې "ملیتونه" "برابر او برادر" ګڼل.
په دې هڅه کې اصلي هدف دا و چې د اکثریت او اقلیت تر منځ طبیعي پوله له منځه یوسي او د اکثریت حقوق د "برابرۍ او برادرۍ" تر نامه لاندې تر ستوني تېر کړي. د قانون په وړاندې د افغانستان د ټولو وګړو په ورورۍ او برابرۍ کې خو هېڅ شك نه شته، خو کله چې په یوه هېواد کې په ټولیز ډول د قومونو سیاسي حقوق مطرح کېږي، نو هلته هر قوم د شومره والي له پلوه خپل حقوق اخلي. په دې کار سره د هېواد د ټولو خلکو فردي حقوق مساوي کېږي، خو قومي حقوق یې د شمېر په انډول د محاسبې وړ دي. دوی د دې لپاره چې د اکثریت (پښتنو) حقوق د اقلیتونو ترمنځ ووېشي او د وېش تله هم د یو لږکي (تاجك) قوم د حقوقو د مدعیانو په لاس کې وي، له دې اصطلاح نه یې ګټه پورته کوله. د نجیب الله د واکمنۍ پر وروستي کال په کابل کې "د افغانستان د لیکوالو ټولنې" له خوا په اریانا هوټل کې د "بازتاب صلح در ادبیات" تر نامه لاندې یو سیمینار جوړ شوی و. دا سیمینار په افغانستان کې د "ملیت های برادر و برابر" د پالیسۍ د چلوونکیو د هغو سلګونو بېلګو یوه بېلګه ده چې دوی په خپل وخت کې پلې کوله. کله چې د سینمار لپاره د مشرتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیئت ټاکل کېده، نو له هر "ملیت" څخه یو یو تن غوره شو. البته د سیمینار د چارو واګې د لومړي اقلیت د استازو په لاس کې وې. دوی یو تاجک، یو ازبك، یو هزاره، یو بلوڅ، یو پشه یي، یو نورستاني او یو هم پښتون د مشرتابه لپاره غوره کړل" د سیمینار د چارو د سمبالښت ټول کارونه او واك د تاجك "ملیت" پر غاړه و او د سیمینار د چارو ژبه فارسي وه. یوازې دغو ښاغلیو استازیو یوه یوه مقاله په خپله ژبه ولوسته او د سیمینار پرېکړه لیك په فارسي ولوستل شو، نور سیمینار خلاص شو. پښتانه د لږکیو په شمېر حساب شول او پښتو ژبه هم د هغو وړ ژبو په څېر کې راوستل شوه چې د افغانستان په ځینو سیمو کې ویل کېږي. دوی د "ملیتونو" دغسې برابري غوښتله. خارج ته په سفرونو، ځینو دولتي پوستونو، غونډو او ان د علمي رتبو په ورکړه کې دا "معیار" په پام کې نیول کېده. کله چې د ډاکټر نجیب الله د دولت په وخت کې د "اکاډمیسن او کاندید اکاډمیسن" علمي رتبې ورکول کېدې، نو هلته هم دا معیار مطرح نه و چې څوك دې د خپل علمي ظرفیت په پام کې نیولو سره د دې رتبې مستحق وي، بلکې معیار د دولت خوښه او "د قومي انډول او برابرۍ" له مخې د رتبو ورکړه وه. دوی "د برابرۍ" تر پردې لاندې یوه سخته نابرابري رامنځته کوله. دوی غوښتل د اکثریت پښتنو حقوق په دې ډول پر اقلیتونو ووېشي او په دې توګه لږکي د پښتنو په وړاندې ودروي. دا منطق به چا لیدلی وي چې د یو فیصد او ٦٥ فیصدو حقوق دې له قومي پلوه مساوي وي او دواړه دې په حکومت او دولت کې مساوي حقوق ولري. ایا په افغانستان کې د ۴۰ زرو هندوانو چې ځانته د دوی په اصطلاح یو "ملیت" جوړوي او د افغانستان د زیات اکثریت چې په سلو کې ٦٥ فیصده وګړي جوړوي، حقوقو مساوي دي؟ ایا د همدې تاجك لږکي مدعیان چې "د ملیتهای برابر و برادر" شعارونه یې پورته کول، حاضر دي، چې د افغانستان په سیاسي چارو کې له هندوانو او نورستانیانو سره برابر او مساوي حقوق ولري؟ او که نه په هر هېواد کې د اکثریت ونډه اکثریت او د اقلیت، اقلیت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی هېڅکله دا شعار نه ورکاوه چې (په افغانستان کې د ټولو خلکو فردي حقوق مساوي او برابر دي)، ځکه چې په دې کار سره په حقیقي بڼه د حقوقو د تساوي خبره رامنځته کېدله او هر چا ته د خپل حق د امکان چاره برابرېدله، خو دوی له هغه شعارونو او نومونو ګټه پورته کوله چې ظاهري مانا یې برابري خو اصلي او مقصوده مانا یې نابرابري وه.

روسانو د همدې غرض لپاره د "قومونو" لپاره د "ملیتونو" نومونه وکارول. دوی دا نومونه د یو بل قومي تشکل په مانا کاروله. دوی د (قوم) او (ملت) تر منځ یو بل تشکل ته قایل و، نو ځکه دوی د (قوم) نومونه د افغانستان د لږکیو لپاره کسر شان(!) ګاڼه، نو پر ځای یې د "ملیت" نومونه وکاروله.

دوی د "ملیتونو" مجموعې ته (ملت) وایه، نه د قومونو مجموعې ته! په داسې حال کې چې "ملت له قومونو څخه جوړېږي، نه له ملیتونو څخه، د عربي ژبدود له مخې ملیت د ملت جوهر بللای شو، لکه انسانیت چې د انسان جوهر دی، یا حیوانیت د حیوان خاصیت او ځانګړنه او په هېڅ ډول ملیت د ملت او قوم په منځ کې یو بل حالت نه شو ګڼلای. د قوم پر ځای د ملیت د کلمې عامېدل د روسي کمونیستي استعمار یوه ښکېلاکي او وېشاکي هڅه وه.(۴)

**اخځونه:**


۱) ډاکټر محمد نادرعمرڅعوت جرید، ناروې، ۱۳۷٦ل کال، پرله پسې ګڼه ۷۹-۸۰، لومړی مخ.

۲) ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، همدا ګڼه، ۲ مخ.

۳) ملیت های برادر مجله، کابل، ۱۳٦۸، د دلوې - حوت ګڼه، پرله پسې ګڼه، ۴۰مه.

۴) حبیب الله رفیع، خلافت مجله، کندهار، ۱۳۷۷ل کال، پرله پسې ګڼه، ٦-۵، ٦۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه سقاوي

کله چې رباني - مسعود له نورو افغان ضد ډلو ټپلو سره د کابل
ښار ته رادننه کړای شول، نو ټول ښار د وینو او لمبو په سیند کې ولمبول
شو او ټول هېواد له یوې سختې بې ثباتۍ سره مخ شو. په فغانستان کې
د واك په زرګونو مختلفې سرچینې رامنځته شوې او یوه عمومي انارشۍ
چې لومړۍ سقاوۍ ته یې ورته والی درلود، خو په کیفیت، ظرفیت او
کمیت کې له هغې څخه درنه او خطرناکه وه رامنځته شوه، ځینو نړیوالو
راډیوګانو او ځینو خبریالانو هم دې خبرې ته ډېر تاو ورکړ چې دا دی په
افغانستان کې د پښتنو دودیز واك ختم شو او د حبیب الله کلکاني له وخت
وروسته دا دویم ځل دی چې تاجیکیان واك ته رسېږي. خپله مسعود هم د
یوې مرکې په ترڅ کې څرګنده کړه چې "۱۵۰ کاله پښتنو حاکمیت درلود
او اوس چې زموږ نوبت دی، موږ سره مخالفت کېږي." دوی په همدغه فکر
او نیت کابل ته راننوتل، خو ظاهراً یې اسلامي انقلاب، جهاد او د اسلامي
فکر پرده پر ځان غوړولې وه. دوستم، مزاري او نورو ملي ضد اشخاصو او
ډلو ټپلو هم له دوی سره په دې وخت کې یوه تګلاره تعقیبوله. دوی له
حضرت صبغت الله مجددي څخه هم هغه مذهبي ګټه واخیسته چې لومړي
سقاو (بچه سقاو) د شوربازار له ملا څخه پورته کړې وه. دوی ظاهراً
صبغت الله مجددي د دوو میاشتو لپاره د اسلامي دولت د "ممثل" په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمثيل ته وړاندې کړ، خو اصلي واك حضرت صاحب سره نه و، ځکه چې ده خو يوازې "تمثيل" کاوه، واك خو بل چا سره و. تمثيل همدې ته وايي چې څوك د يو اصلي او اساسي شخص، پېښې وکړي. دوه مياشتې يې د حضرت مجددي له نامه نه ګټه پورته کړه چې جهادي افکار پرې ساړه کړي، لکه څنګه چې د شور بازار ملا د غازي امان الله خان پر ضد د مذهبي فتوی له لارې د سقاو د زوی بغاوت او واك ته زمينه برابره کړه، داسې حضرت صاحب هم د اسلامي انقلاب(!) د يو لويغاړي په توګه د پردې تر شا د مسعود او رباني د واك لپاره زمينه برابره کړه. صادق مجددي هم چې د امان الله خان په وړاندې يې د سقاو زوی پلوي کړې وه، وروسته بيا پېښمان و او حضرت مجددي هم وروسته له رباني او مسعود څخه سخت خوابدی شو او د حکمتيار خوا يې ونيوله.

کله چې رباني او مسعود د کابل پر تخت او خزانو خېټه واچوله نو د خپلو پخوانيو تحرکاتو تر څنګ يې خپلې ملي ضد هلې ځلې او فعاليتونه نور هم ډاګيز کړل، دوی خپلو قوماندانو او همژبو ته وويل چې همدا مو نوبت دی، بايد زموږ تر څنګ ودرېږئ!. دا تبليغات او لمسونې په عام ډول په ډېرو ځايونو خو په ځانګړي ډول په شمالي سيمه کې ډېرې زياتې محسوسې وې .

دوی د شمالي خلکو ته داسې تبليغ کاوه چې د دوی ملا وتړي او که نه دا ځل چې پښتنو پاچاهي ونيوله نو دا وار د شمال د خلکو سر، مال او ناموس ټول په خطر کې دي(!؟) د شمالي ځينې خلك هم د دوی پر دې ملي ضد تبليغ تېر وتل او د دوی ملاتړ يې وکړ.

په کابل کې يې د کوهدامن د قوماندانو يوه ځانګړې اتحاديه جوړه کړه او "شوری بازسازی کوهدامن زمين" په نوم يې يوه بله شوری چې اکثره افغان ضد اشخاص پکې راټول شوي وو جوړه کړه.

رباني په يوه خصوصي غونډه کې خپلو تنظيمي او ژبنيو ملګرو ته وويل: "ما بايد هر گز اشتباه امير حبيب الله كلكانى را تكرار نه نمايم"، يانې واك بايد پرې نه ږدم. دوی له حبيب الله بچه سقاو سره دومره مينه درلوده چې د هغه په نوم يې پوځي ټولګي او ملېشايي ځواك هم جوړ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او پر ځينو عسکري ځايونو باندې يې د سقاو زوی نوم هم ايښی و. د کابل د خيرخانې مينې د درېيمې حصې سينما ته ور ځېرمه، د شمال د دپسو يوه قرارګاه وه، پر هغې ليکل شوي وو، "قرارګاه شهيد امير حبيب الله کلکانی" د استخباراتو په لوی رياست چې رباني د امنيت رياست باله، د هغه دننه دفترونو کې د سقاو زوی د خولې خبرې د يو شعار په ډول ليکل شوې وې. دې سقاويانو تېر سقاو ته د درناوي لپاره د کابل د کلکانو په سيمه کې يوه لېسه هم د هغه په نامه نومولې وه، دا لېسه د کابل - سالنګ په عمومي سړک جوړه وه، په لوحه يې داسې ليکل شوي وو: "ليسه شهيد امير حبيب الله کلکاني."

يوه ورځ مسعود د شمالي د کوهدامن د سيمې څو سپين ږيري او ځوانان په جبل السراج کې سره راټول کړي وو او د سقاو زوی د واکمنۍ د وخت پر يوې کلا يې ودرولي وو. هغوی نه يې پوښتنه وکړه چې دې ځای ته څه وايي؟ هغه وويل: "دې ته قلعه سوخته"

- ولې ورته قلعه سوخته وايي؟

- ځکه چې دا د سقاو زوی جوړه کړې وه، کله چې د سقاو زوی ماتې وخوړه د نادر خان لښکرو هغه وسېزله."

نو مسعود ورته يوه زهرجنه خندا وکړه:

- ښه نو چې داسې ده که دا ځل هم پښتانه راغلل نو همداسې به کوي او دا ټولې کلاګانې به سوځوي. اوس مو نو خوښه چې ما سره ودرېږئ او که نه؟

د رباني مسعود د همدغې سقاوي پاليسۍ له مخې هغوی په خپله واکمنۍ کې د سقاو زوی لپاره په پراخ ډول تبليغات پيل کړل. هڅه يې وکړه چې هغه د ښوونځيو په نصاب کې د يو مثبت شخصيت په توګه شامل او زده کوونکو ته معرفي شي. داسې هڅې هم کېدلې چې بچه سقاو د افغانستان د يو قانوني واکمن او پاچا په توګه معرفي کړي. کله چې د ۱۳۷۵ ل کال د ورې په مياشت کې د حبيب الله کلکاني پرې ايښې ښځه په حق ورسېده، نو دا موقع د کابل د نويو سقاويانو لپاره د خپلو احساساتو د ښودلو ډېره ښه موقعه وه. په ډېر شان او شوکت يې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ خبر له کابل راډيو نه خپور کړ. عجيبه خبره خو دا وه چې دا د حبيب الله کلکاني لومړنۍ ښځه وه، چې ده ورسره د خپله واکمنۍ په وخت کې اړيکې پرې کړې وو. هغه له همغه وخت راهيسې په مزار شريف کې اوسېدله، خو اوسنيو سقاويانو هغې ته د "ملکې" خطاب وکړ او د هغې د فاتحې مراسم يې په خپل سقاوي شان و شوکت په اصطلاح په دولتۍ بڼه واخيستل. کابل راډيو د هغې د مرګ خبر داسې خپور کړ: "نسبت وفات ملکه سنګری خانم پاچا شهيد، شاه سابق افغانستان امير حبيب الله کلکانی خادم دين رسول الله در مزارشريف داعيه اجل را لبيك گفت. فاتحه ملکه سنگری از طرف اتحاديه بازسازی کوهدامن در مسجد حضرت علی کرم الله وجهه به تاريخ ۱۳۷۵/۱/۱۴ اخذ ميگردد".

دا سقاويان نه يوازې له فکري پلوه له تېرو سقاويانو سره يو شان وو، له عملي پلوه هم د هغو په شان وو، خو په افراط کې تر هغو هم زيات وو. دلته به د يو بهرني ليکوال د ناول يوه برخه راوړو چې د لومړۍ سقاوۍ د لوټ، تالان او نادودو په باب يې ليکلې ده. کله چې لوستونکي دا ليکنه ولولي، نو و به وايي چې د دواړو ماهيت يو شان دی.

"د دغه اثر دوه ويشتم څپرکی چې سرليك يې "د کابل تباهي" ده ستاسې خوږو لوستونکو پر مخ پرانيزم، ويې لولئ، ويې ګورئ او د کابل له اوسنۍ تباهۍ سره يې پرتله کړئ!

"د سقاو زوی پر ارګ ور ننوت، خپل وحشي پوځ ته يې د ښار د لوټولو حکم ورکړ، سقوي لښکرې د ښار په څلورو خواوو کې خورې شوې، تر هر څه دمخه يې ښار لوټ کړ، واړه او لوی دکانونه، کارخايونه او کارخانې دا هر څه يې وتښتول، دوکاندارانو په مخکې يې د هغوی د دکانونو شته او شيان ترې وړل او روان وو، هغوی د دوی په مخکې د ټولو قيمتي شيانو د لوټ حکم کاوه، خو دوی به په پوره صبر او پټې خولې د خپلې خونې د ورانۍ ننداره کوله، وايي چې د مال د سولو ننداره هم لوی غم وي، په پيل کې چې ډاکوانو په لوټ لاس پورې کړ يو شمېر زړورو خلکو به د مخنيوی بندوبست ورته کاوه، خو ډاکوانو به ډېر ژر پر دغو کسانو ټوپك را واړاوه او ځای پر ځای به يې کړل، بيا ېچا جرأت و نه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې و به ډار شول،دکانونه به يې پرېښودل او هلته په يوه گوښه کې به لرې ودرېدل. سقوي پوځ به يو پر بل پسې ټول لوټ کړل، هغوی يوازې د مالونو او شيانو په لوټنه بسنه و نه کړه، يو شمېر دکانونو ته يې اور هم واچاوه. ډول ډول دنگې مانۍ يې د سترگو په رپ کې سوځولې او په خاورو ايرو يې اړولې.

سقوي پوځيانو چې کله ښار لوټ کړ، بيا يې د کورونو پر خوا ور مخه کړه، څينو خلکو خو خپلې دروازې وتړلې، له خپلو بچيانو سره په خپلو کوټو کې کېناستل. وحشي ډاکووانو دروازې ماتې کړې او په زړورتيا سره پر کورونو ور وختل، تر هر څه دمخه يې د کورونو د شتو او شيانو پر لوټولو لاس پورې کړ، سره او سپين او د مېرمنو گاڼې يې ولوټلې، وروسته يې د ښکلو نجونو پر بې عزته کولو باندې پيل وکړ. نازولو نجونو ته يې د هغوی د مور او پلار په وړاندې لاس ور اچاوه، هغوی به د وحشيانو له ډاره خپل مور او پلار له غېږه ورکړه خو هغو وحشيانو به د مور او پلار له غېږې څخه راکشوله. که کوم مظلوم مور او پلار به د خپلې لور ننگه وکړه هغه به يې هم پر گوليو پر څمکه راوړغړول. وحشي او بربري څېرو زياترو د ميندو او پلرونو په مخکې د هغوی د لوڼو بې عزتي وکړله، که به کومې سپېڅلې نجلۍ د هغوی د وحشيانو د هيلو له پوره کولو نه سر وغړاوه، د هغوی جزا خو بې ښه او بده مرگ وه.

دغه وحشيان او داړونکي حيوان ډوله انسانان پر کابل را پرېوتل، هغوی په هره جاده او هره کوڅه کې په ظلم او لاس اچونې لاس پورې کړ، يو شمېر سپين ږيري چې سپين کالي والاوو هغوی په هغه حال کې چې دولت يې نه لاره په ډېره سختۍ سره کولای شول چې خپله آبرو او عزت دې د دغو وحشيانو په مقابل کې وساتي. څکه دوی به ويل چې ولې شته او دولت نه لري. هغوی به يې له کورونو را وايستل او په متروکو به يې تغمې تغمې کړل..."(۲)

په دويمه سقاوۍ کې هم کټ مټ همدا حالات تکرار شول، خو له لومړۍ سقاوۍ څخه يې څو اساسي توپيرونه درلودل:

- د دې سقاوۍ دوره تر هغې پينځه څله زياته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغې سقاوې د تمدن نوې را ټوکېدلې هيلې ومړولې او دې سقاوې پنځوس کلن تمدن او دولتي جوړښت له منځه يوړ.
- څرنګه چې د دويمې سقاوې عمر د لومړۍ په اندول زيات دی، همداسې يې زيانونه هم تر هغې زيات دي.
- د لومړۍ سقاوې اصلي متحرك يو امپر او نالوستی شخص و، ملك ته يې زيات زيان د خپل جهالت له کبله اړولی و او نوره ډله يې هم همداسې وه.
- دويمه سقاوي او د هغوی لوبغاړي په شعوري او اګاهانه ډول د هېواد دښمنان دي، دوی په شعوري ډول غواړي د هېواد رغانده بنسټونه ويجاړ کړي او په هېواد کې ملي اندول او يووالي له منځه يوسي او تجزيې سره يې مخ کړي.
- لومړۍ سقاوي له انګرېزانو پرته چې هغوی هم د يوې وسيلې په توګه ترې کار اخيسته نورو هېوادوسره د افغانستان د خاورې او ولس پر ضد کوم پټ او ښکاره تړون نه و کړی؛ نه پرې پوهېدل.
- دويمې سقاوې د افغانستان له ټولو لرې او نږدې ګاونډيانو او دښمنو هېوادونو سره دافغانستان په ورانۍ کې يوځل سرخوځولی او هر چا ته يې ددې کارلپاره لاره خلاصه کړې ده. په هره برخه کې د دويمې سقاوې زيانونه او کړاوونه ترّ هغې لومړۍ زيات دي. دلته به د دويمې سقاوې پر اصلي لوبغاړو، رباني، مسعود او د دوی د ادارې او افغانستان ته د دوی د ادارې په وخت کې د اړولو شويو زيانونو په باب يو څه خبرې وکړو.

**اخځونه:**


۱) کابل راډيو، ۱۳۷۵ل کال، د ورې ۱۳/۱۴ نېټه.
۲) کابلي والا (يا کابلی پېغله) مولانا محمد صادق حسين صادق صديقي، د پوهندوی عبد الخالق رشيد تبصره، هيله مجله، ۱۳۷۶ل کال، ۶مه ګڼه، ۱۱۳-۱۱۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رباني د کارمل په فکري او د بچه سقاو په عملي رول کې



د تېرو دوو لسیزو په سیاسي ډګر کې برهان الدین رباني هغه متبذله څېره ده چې ورځ په ورځ یې خلکو ته د شخصیت منفي اړخونه او د کرکټر اصلي جوهر څرګندېږي. دی تر یو وخته پر دې بریالی شو چې خپل باطني او اصلي جوهر له خلکو پټ وساتي. د "اسلامي تحریك" په لیکو کې ځان تنظیم کړي او بیا د روسانو په برغل سره د یو مصنوعي شخصیت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه تبارز وکړي. د جهاد په بهير کې هم ذ ده د سياسي شخصيت په باب يو لړ شکونه پيدا شول، خو څرنګه چې هغه وخت له روسانو سره د افغانانو د مقابلې سياسي او پوځي ډګر ډېر ګرم و، نو د ده په باب چا دومره فکر او تشويش نه کاوه، د جهاد په ليکو کې هم دی او هم د ده تنظيم د دښمن په وړاندې د اصلي او اساسي فکتور په توګه مطرح نه و، بلکې د يو "ګوزاره کوونکي" شخص او تنظيم رول يې درولود.

داسې انګېرل کېږي چې د برهان الدين رباني کورنۍ پخوا له تاجکستان نه افغانستان ته راکوچېدلې وي. دی "د محمد يوسف زوی پر ۱۳۱۹ل کال د بدخشان ولايت مرکز فيض آباد کې زېږدلی دی. پر ۱۳۲۶ل کال د فيض آباد په منځني ښوونځي کې شامل او پر ۱۳۳۵ل کال د کابل د ابوحنيفه مدرسې چې هغه وخت د دار العلوم شرعيه په نامه يادېده د دې مدرسې په نهم ټولګي کې شامل شو. پر ۱۳۳۸ل کال د دې مدرسې له ۱۲ ټولګې څخه فارغ او پر ۱۳۳۹ ل کال د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي کې شامل شو. پر ۱۳۴۴ل کال له پوهنتون څخه فارغ او د شرعياتو پوهنځي د کدر غړی شو. پر ۱۳۴۵ل کال يې د مصر له الازهر پوهنتون څخه ماسټري تر لاسه کړه. د ۱۳۵۳ل کال په جوزا کې پېښور ته راغی. (۱) او د آی، اېس آی غېږې ته يې پناه يوړه. د ۱۳۵۳ل کال له جوزا څخه د ۱۳۷۱ل کال د ثور تر (۸) نېټې پورې په پاکستان کې اوسېده او سياسي فعاليتونه يې پر مخ وړل.

برهان الدين رباني داسې يو شخص دی چې ظاهري او باطني شخصيت يې سره يو شان او برابر نه دی. د ژوند بېلا بېلو حالاتو هم د ده شخصيت لوټ په لوټ اړولی او د يو باثباته شخصيت په شان يې خپل مثبت ارزښتونه ساتلي نه دي. د ده شخصيت په بېلا بېلو پړاوونو کې لکه د اوبو په شان چې په هر خم کې د همغه رنګ اخلي بېلا بېل رنګونه غوره کړي دي. تر ۱۳۵۲ل کال دمخه (رباني) چې د هېواد په دننه کې يې محدود سياسي فعاليتونه کول، له ۱۳۵۳ل څخه تر ۱۳۷۱ل پورې (رباني) چې دجهاد کلونه ګڼل کېږي.له ۱۳۷۱ څخه د ۱۳۷۵ کلونو تر منځ (رباني)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او را وروسته،په دې هر زماني واټن کې يو بېل (رباني) ليدل کېږي. پېښور ته تر تګ دمخه هغه بل شان اخلاقي ځانګړنې لرلې. برید جنرال الکساندر لياخوفسکي چې په افغانستان کې د شوروي پوځونو د پلیو قطعاتو یو لوړ رتبه قوماندان و، د شوروي د استخباراتو په حواله ليکي: "رباني له ظاهري سپېڅلتيا سره سره کمزوری او بې واکه شخص دی. د هغه دا ځانګړتياوې د ځوانۍ په کلونو کې ځان څرګندوي، دغه وخت رباني د کريم بای له کورنۍ سره نږدې کېږي. د کريم بای کوربه د شپې (د عشرتونو) شاهد و. په دغو مجلسونو کې د صغيرو نجونو پر عزت تېري کېدل.(۲)

د ده د ځوانۍ زيات وختونه په همدغسې محفلونو کې تېر شوي دي له ډېرو هغه اخلاقي مسايلو سره چې زموږ په ټولنه کې هم د کلتوري او هم د اسلامي اصولو او احکامو له مخې سخت جرم او ناورا ګڼل کېږي، يا بې تفاوته و او يا هم بې وسه.

د ده يو سيمه وال چې وروسته بيا د عبدالرسول سياف د (دعوت او جهاد) په پوهنتون کې استاد شو او له رباني سره يې يوه وخت په مصر کې په يوه پوهنتون کې لوړې زده کړې کړې دي. د دعوت او جهاد پوهنتون په يو ټولګي کې چې ګڼ شمېر محصلين ورته ناست وو، ده د خپل ځان او د رباني د اخلاقي شخصيت په باب داسې يوه عملي کيسه بيان کړې وه: "څرنګه چې زه او رباني دواړه په پوهنتون کې سره يو ځای وو او هم دواړه وطنداران وو، نو کله چې مصر ته د لوړو زده کړو لپاره د تللو په تکل شولو، نو دواړو سره مشوره وکړه چې دواړه به يو کور ونيسو، کور والا (مېرمنې) به مو سره يو ځای وي، رباني هم راسره ومنله، همداسې مو وکړل، د کابل ښار په غربي سيمه کې مو يوه حويلۍ په ګډه په کرايه ونيوله، دواړو ورته کورونه راوستل، موږ د تحصيل لپاره مصر ته لاړو، کال مو لا پوره شوی نه و چې ما ته له کابل نه د يو ډېر نږدې خپلوان ليک راغی، په ليک کې ليکل شوي وو چې [ګاونډيان او نور خلک ستا او د رباني کورنۍ پسې پسپسی کوي او د څه اخلاقي نیمګړتیاوو خبرې کوي، نو که غواړئ چې له اخلاقي پلوه خپلې کورنۍ روغې وساتئ، تحصيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربېږدئ او راشئ، د خپلو مېرمنو غم مو وخورئ!] سره له دې چې دا لیك زما په نوم لیکل شوی و، خو ما رباني ته په دې نیت ښکاره کړ چې د دواړه د کورنیو په باب پکې یوه خبره لیکل شوې وه، کله چې دا لیك رباني ولوست، نو د کوم چټك عکس العمل پر ځای یې په سړه سینه ځواب راکړ. [در رخصتی اخیر سمستر که رفتم باز در این مورد نیز غور خواهیم کرد.] کله چې زه او رباني د خپلې رخصتۍ په وخت کې کابل ته راغلو، نو ما په پټه اخوا دېخوا د ګاونډیانو او نورو خلکو خولې بوی کړې، هسې نه چې زما خپلوان له ځانه څه خبره نه وي جوړه کړې؟! کله چې مې پوښتنې او ګرویږنې وکړې نو هغه خبره چې زما خپلوان ماته لیکلې وه رښتیا وه، نو زما په مغزو کې یو تاو پیدا شو، یو ځل بیا مې رباني ته خبره وکړه، خو هغه ځان ناخبره کړ، ما په همغه وخت خپله ښځه طلاقه کړه، خو رباني ورسره اوس هم شپې ورځې تېروي."

دا چې د نورو له نظره د رباني اخلاقي شخصیت څه ډول تعبیربدلای شي، دا یوه بېله خبره ده، خو د ارواپوهنې له نظره په خپله د رباني فزیکي جوړښت د (مخ، سترګو، شونډو او د غږ له جوړښت او حرکتونو څخه) د هغه ځینې اخلاقي نیمګړتیاوې او نورې کمزورۍ معلومېږي.

پېښور ته تر راتګ دمخه د هغه فردي شخصیت تر زیاته بریده پر ده او د ده پر کورنۍ پورې تړلی و. خو کله چې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ، د تنظیمونو بازار ګرم شو او د لوېدیځ بې شمېره پیسې را شېوه شوې، نو رباني نه هم پکې "سړی" جوړ شو؛ د یو تنظیم مشر شو او بیا یې د ټول هېواد د مشرۍ لپاره په سر کې نشه پیدا شوه. د جهاد په کلونو کې هم د ده رول ټاکونکی او پرېکنده نه و، په دې وخت کې هم ځینو کسانو سره د ده د ځاني، سیاسي او اخلاقي شخصیت په باب شکونه پیدا وو او دی یې یو بې ارادې او سست عنصره شخص باله. د ده له همدې کمزورې ارادې څخه ځینو سمه ییزو قوماندانانو ډېره زیاته ګټه واخیسته او له هغې بهرنۍ مرستې نه چې د جمعیت تنظیم له لارې په بې کنټروله ډول دوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکول کېده د خپل خان د تبارز لپاره ګټه واخیسته. هر یوه د ځینو ګاونډیو هېوادونو په لمسه ځانته د واك یو محلي اداره جوړه کړه. رباني د خپلې بې کفایتۍ په وجه دې ته مجبور شو، چې د هغو هره خبره ومني ان تر دې چې ده خپله هغه کوله چې د ځینو نورو اړیکو له لارې هغوی راخپل کړي چې د ده مشرۍ ته زیان و نه رسوي. یو ځل یې احمد شاه مسعود ته پیشنهاد وکړ چې ده سره خپلولي وکړي او همدارنګه ځینو نورو قوماندانانو ته!

په جهادي پړاو کې رباني سره له دې چې د حکمتیار په انډول یې په جګړه ییزه او سیاسي برخه کې رول کمزوری و، خو په سر کې یې د واك د نیولو تلوسه او مینه ډېره زیاته وه او دا ان د یوې رواني عقدې تر بریده، ځکه نو ورو ورو د یو سازش، توطئې او ائتلاف په لټه کې شو. د عبد الحمیدمبارز په نوم یو لیکونکی چې "از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان" په نامه یې د هېواد د ځینو سیاسي پېښو په باب یو اثر لیکلی، له رباني او نورو ستمي ډلو سره یې خواخوږي پکې څرګنده او ډاګیزه ده. بیا هم د قدرت لپاره له اسلامي تګلارې څخه د رباني او د ده د تنظیم د لرې کېدو خبره نه پټوي، وایي: "جمعیت اسلامی ربانی که از ایدیالوژی سید قطب و حسن البناء متاثر بود و تحت تاثیر لیبیا و ایران در قسمت یك دولت خالص اسلامی قرار داشت دیگر به تدریج تمایلات سیاسی ان بر تمایلات بنیادگرایی ان تفوق حاصل کرد، دیگر برای احیا و تاسیس یك دولت اسلامی مبارزه نیمکرد، بلکه برای کسب قدرت مبارزه می نمود، چنانچه از سال ۱۹۸۳ به بعد یك خط معتدل تر را نسبت به حزب اسلامی اتخاذ کرد."(۳)

روسان چې د رباني د شخصیت کمزوري ا خونه له پخوا څخه ورته معلوم وو هم په دې لټه کې وو چې ده سره خپل اړیکي ټینګ کړي، له یوې خوا به یې د جهاد په لیکو کې یو درز رامنځته کړی وي، له بلې خوا به یې د خپلې اوږدې مودې ستراتیژۍ، د افغانستان بې ثباتي او واك ته د لړکیو د رسولو لپاره کار کړی وي، نو ځکه خو یې له مسعود او رباني

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره خواږه اړیکي پیدا کړل. دی اړیکو ورو ورو وده وموندله، هغه وخت د باور او پوخوالي پړاو ته ورسېدل چې رباني د مجاهدینو د یو هیئت په ترکیب کې چې حکمتیار ورسره جداً مخالف و، مسکو ته لاړ او هلته یې له روسي مقاماتو او استخباراتي چینلونو سره وکتل او توافق ته سره ورسېدل.

روسانو لا مخکې تر مخکې د کابل په اداره کې لړکیو ته د واك د لېږد شرایط برابر کړي وو، دوی په تېرو کلونو کې له اداري بیروکراسۍ څخه نیولې تر نورو ټولو برخو پورې دومره کار کړی و چې د داسې یو منفي بدلون لپاره یې شرایط او امکانات مساعد کړي وو، نو ځکه خو یې ښاغلی پروفېسر برهان الدین رباني په مسکو کې د کارمل په رول کې د رباني په بڼه مکیاژ او بیا یې د کارمل په څېر پر تخت کېناوه، توپیر یې دومره و چې کارمل سره دوی مستیقماً راغلل، له وزرو یې ونیو او پر تخت یې کېناوه، خو رباني یې د توطئو، لاسوهنو او د خپلو لاسپوڅو د ائتلاف او سازش له لارې د کابل تر ارګه بدرګه کړ. روسان او نور هغه استخباراتي سازمانونه چې رباني یې د سیاست او واك ډګر ته وراندې کړی و، هغوی د ده پر رواني عقدو، ټولنیز موقف، د شخصیت پر کمزورۍ، د واك پر لېوالتیا، د ده پر خپل ظرفیت او کفایت ډېر ښه پوهېدل، د استخباراتي سازمانونو لپاره داسې اشخاص ډېر مناسب وي، ځکه چې کنټرول یې اسانه وي. د رباني سیاسي شخصیت له دې څخه هم معلومېږي کله چې پر ۱۳۷۱ل کال مجاهدین او ملحدین سره په کابل کې په جګړه اخته شول او په اصطلاح اسلامي دولت(!) اعلان شو، نو حضرت صبغت الله مجددي د اسلامي دولت د "ممثل" او رباني د "رهبرۍ شورۍ" د مشر په توګه ټاکل شوي وو، مجددي د ثور پر (۷مه) نېټه کابل ته لاړ او رباني ورځ دوه وروسته له تورخم نه د ځمکې له لارې په موټر کې کابل ته روان شو، رباني په داسې یو ګاډي کې سور و چې د موټر مخ او شا ته د مسعود عسکونه لېګدلي وو او "استاد" دننه په موټر کې ناست و. دی هغه وخت هم له مسعود نه دومره په وېره کې و چې پر خپل موټر یې هم د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکسونه لګولي وو. کله چې کابل ته لاړ نو بيا د خپلو ائتلافيونو له ټوپکيانو سره مخ شو چې ده ته يې ارګ ته د ننوتلو اجازه هم نه ورکوله. دوه مياشتې وروسته برهان الدين رباني ځان "د اسلامي دولت جمهوررئيس" اعلان کړ، خو بيا هم دی دومره خپلواک نه و، لکه مسعود او دوستم. د ارګ يوه خوا د مسعود د نظار شورا د ټوپکيانو په لاس کې وه او د مسعود عکس پرې ځوړند و، بله خوا يې د دوستم د ځواکونو په لاس کې وه، چې په دروازه يې د دوستم يو غټ عکس بند و، رباني به چې کله ارګ ته تلو، نو له همدې دوو لارو نه داخل ته تلای شو، کله به د مسعود ټوپکيانو او کله به هم د دوستم ملېشو څه وخت ايساروه، د رباني سترګې هر وخت د هغو پر عکسونو لګېدلې، عکسونه ډېر لوړ ځوړند وو، دی به ترې لاندې تېرېده، خو بيا هم دی جمهوررئيس(!) و او دا يې ځانته سپکاوی نه ګاڼه.

کله چې رباني ځان "جمهور رئيس" کړ، نو نور هېواد خو لا څه کوې چې دکابل ښار پر څو بېلا بېلو واکمنيو ووېشل شو، ان په ارګ کې هم رباني پوره واک نه درلود. ده ته دا مهمه نه وه چې څومره واک لري او هېواد د غم په کومو لمبو کې سوزي. ده ته دا مهمه وه چې خلک ورته "جمهور رئيس" ووايي. د "جمعيت اسلامي" يو تن غړی چې رباني له ډېر نږدې نه پېژني او ناسته پاسته يې ورسره لرله، هغه وايي: "کله چې استاد رباني ته د جمهوررئيس خطاب وشي او په کوم مکتوب کې د جمهوررئيس په عنوان د هغه د نوم يادونه شوې وي، نواستاد ورته په شونډو کې موسکی غوندې شي او يو خوږ تبسم وکړي." ځينې ټولنپوهان او سياستپوهان په دې اند دي چې هر کله په يوه ټولنه کې د درېيمې طبقې خلک واک تر لاسه کړي نو د ټولنې سياسي او ټولنيز ثبات له منځه ځي. دوی وايي دا خلک ډېرې رواني، اقتصادي، جنسي او ټولنيزې عقدې لري، کله چې دوی واک ته ورسېږي نو تر هر څه لومړی د هغو د حل او خړوب په لټه کې شي." د رباني کورنی هم له اقتصادي پلوه په درېيمې طبقې پورې اړه درلوده، نو ځکه خو ده ته هر هغه څه لوړ او ښکلي ښکارېدل چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تولنيز او طبقاتي ژوند څخه لوړ وو. که په کابل کې د ده د واکمنۍ ساحه دوه کيلو متره مربع وای او يا تر دې هم کمه شوې وای، نو د ده لپاره بس ځکه وه چې په عادي شرايطو کې خو ده ته هيڅ هم نه رسېدل نو ځکه خو يې تر وروستي بريده پر دې خبره ټينګار کاوه چې دی د افغانستان جمهور رئيس(!) دی. د واك د همدې مينې له کبله هغه د روسانو غېږې ته داسې پناه يوړه چې د کارمل ريکارډ ته يې ځان ورساوه، کارمل هم د شوروي له مرستو پرته ژوند نه شو کولای او رباني هم د روس له مرستو پرته ژوند نه شو کولای، ځکه خو دواړو د خپل بادار د درناوي حق ادا کړ. رباني تر کارمله هم دمخه شوراو د افغانستان د ولس پر جهاد يې خاورې واړولې، د شوروي ځای ناستې روسيه يې له ټولو جرمونو او جنايتونو پاکه وګڼله. کله چې ده تاجکستان ته سفر وکړ، نو د دې سفر او له شوروي نه د تاوان غوښتنې په باب له ده نه پوښتنه وشوه ده وويل: "اصلاً اين گپها موضع بحث نشده بود در تاجکستان، فکر ميکنم اين گپ ها را مطبوعات تحريك کرده بود، چيزی که ملاور انجا گفته بوديم، اين بود که دولت اسلامی افغانستان خواهان حسن روابط باتمام کشورها و از جمله فدارتيف روسيه است. ما گفتيم رژيم تجاوزگر و مارکسست و قشون شوروی قبلی بالای افغانستان حمله کرده بود، ان رژيم از بين رفته حالا فدراتيف تشکيل گرديده، ما با مردم روسيه دشمنی نداريم."(۴)

ځکه خو نو د رباني اړيکي له روسانو سره تر کارمل هم خواږه شول، کارمل شورويان افغانستان ته دعوت کړل او د افغانستان خاوره يې د هغو د ګټې لپاره استعمال کړه، خو رباني روسانو ته دومره نږدې و چې ان د خپل پخواني قلمرو تاجکستان خاوره يې د ده په واك کې ورکړه او هلته يې د کولاب هوايي ډګر د ده په خدمت کې ورکړ.

رباني هم د بهرني يرغل لپاره لکه د کارمل په شان د ملګرو ملتو (۵۱) ماده پلمه ګرځوله. کارمل به ويل چې "د شوروي اتحاد محدود قطعات د ملګرو ملتونو د منشور (۵۱) مادې له مخې افغانستان ته راغلي". رباني هم کله چې د ايران چارواکو د طالبانو له خوا د مزار شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر نیولو وروسته خپل ګڼ شمېر پوځونه د افغانستان پولي ته نږدې کړل، نو رباني اعلان وکړ چې "د افغانستان اسلامي دولت د ملګرو ملتونو د منشور د (۵۱) مادې له مخې حق لري له ایران څخه پوځي مرسته تر لاسه کړي او هغوی افغانستان ته دعوت کړي."

په عمومي ډول د روسانو او نورو بهرنیانو په وړاندې د رباني او کارمل فکري تګلوری سره یو شان و، خو په چور او چپاول، لوټ او تالان، عمومي انارشۍ او د ملي پانګې په لوټونه کې بیا رباني د سقاو زوی پر پله روان و.

## اخځونه:


۱) شهرت ننګیال، وینه په قلم کې، د افغانستان د جهادي څېړنو مرکز، پېښور، ۲۱۴-۲۱۷ مخونه.


۲) برید جنرال الکساندر لیاخوفسکي، ډیوه مجله، لندن، ۱۹۹۵ع کال، دسمبر ګڼه، ۱۹مخ.

۳) عبد الحمید مبارز، حقایق و تحلیل وقایع سیاسي افغانستان از سقوط سلطنت تا ظهور طالبان، پېښور، ۱۳۷۶ل کال، ۱۱۲ مخ.

۴) امید جریده، له امریکا څخه خپرېدونکې، ۲۱۳ ګڼه. ۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسعود د یو اتل په څېره کې یو ګوډاګی او د دویمې سقاوې یو اساسي لوبغاړی



د افغانستان د تېر شل کلن تولنیز، پوځي ناتار او ناورین په بهیر کې یوه څېره هم احمد شاه مسعود دی چې ظاهراً یې د ځینو خلکو په زړونو کې د یو مثبتې پوځي او سیاسي څېرې په توګه ځان راځرګند کړی و، خو کله چې حالات بدلبدل د ده له څېرې څخه د مصنوعي ماسك پرده هم ورو ورو لرې کېدله. د وخت په تېرېدو سره دا ثابته شوه چې احمد شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود یو ځان غوښتونکی جنجالیز، تجزیه غوښتونکی، د هېواد ویجاړوونکی، سیمه پالونکی، د یوه محدود لړکي او خپلو ځاني ګټو پلوی شخص دی. د خپلو هېوادوالو په ځورولو، کړولو او له پردیو جاسوسي شبکو سره د اړیکو په ساتلو او پاللو او د هغوی د ګټو په خوندي کولو کې روحاً، جسماً او وجداناً ماهر دی. د ده قومي، ژبني جوړښت او جغرافیایي موقعیت- دی د دې جوګه کړی و چې د هېواد د ملي ګټو په وړاندې د پردیو او خپلو ځاني ګټو لپاره له کورنیو او بهرنیو دښمنانو سره ناوړه معامله وکړي او په هېواد کې د غمیزې د اوږدولو د یو اساسي عامل په توګه خپلو هڅو ته دوام ورکړي. تر ــــــــــ هر چا لومړی بهرنیانو د هغه پېژندنې او پر شاتېونې ته پام راواړه او له ده څخه یې داسې یو مصنوعي زمری جوړ کړ چې ان زموږ د ځینو هېوادوالو پر ذهنونو یې هم د یو ډول باور پرده خوره کړې وه، کله چې زموږ هېوادوالو د خپل ذهن او فکر سترګې بیا هغه ته واړولې، نو په دې کې ډېر وخت تېر شوی و او احمدشاه مسعود په ورانۍ کې دومره وندې اخیستې وه چې تصور یې هم نه کېده. کله چې د مسعود د منفي او د ځینو په اند د مثبت شخصیت انګازې خپرې شوې، نو د زیاتو هېوادوالو او د قلم د خاوندانو پام دهغه د متضاد شخصیت د څرګندتیا خوا ته واوښتې، په دې کې ورو ورو هغه اسناد او شواهد هم را څرګند شول چې ظاهراً د ده مخالفو او په حقیقت کې د ده دوستانو د ده په باب لیکلي او په خپلو اسنادو کې خوندي کړي وو. وروسته وروسته د ده په باب لیکنې، ګړنې، ان لیدونکي او ټلوېزیوني معلومات زیات شول او د ده شخصیت یې د ډول ډول ابهام له تیارو څخه را وویست او اکثرو منفي خواوو سره یې ولس او نړیوالو ته څرګند کړ. دلته به همدغه ډول اسنادو ته په لنډیز سره اشاره وکړو او و به ګورو چې احمد شاه مسعود له چا چا سره په څه ډول د هېواد د ملي ګټو په سر معامله کړې او لا یې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"احمد شاه مسعود د ډګروال دوست محمد(*) زوی د پروان ولایت د پنجشېر ولسوالۍ د بازارك اوسېدونکی دی د یو روایت له مخې د احمد شاه مسعود نیکه له پاردریا څخه افغانستان ته راکوچېدلی او په پنجشېر کې مېشته شوی دی. د هغه وخت افغاني حکومتونو له دغسې تاجك مهاجرو سره زیاته خواخوږي څرګندوله او هغوی ته یې بېلا بېلې اسانتیاوې برابرولې."

مسعود پر ۱۹۵٦ کال زېږېدلی او د خپل پلار د دویم واده ثمر دی. نوموړی په خپلو شپږو ورونو کې درېیم ورور دی. پلار یې د فرانسویانو تر پالنې لاندې د استقلال په خورا معتبره لیسه کې شامل کړ، چې په ۱۹۷۳ کې ورڅخه فارغ شو. احمد شاه د خپل یوه پخواني باډیګارد له لور سره واده کړی او درې اولادونه لري چې مشر زوی یې احمد نومېږي. مګر د بلې انګېرنې له مخې نوموړی د یوې بلې اروپایي بې نکاح ښځې څخه هم یوه لور لري.

احمد شاه پر ۱۹۷۳ع په پولیتخنیك کې شامل شو. پر دې مهال

* - د احمد شاه مسعود پلار دوست محمد یو عسکري تولي مشر و، چې مرحوم جنرال سید صالح خان لوی درستیز ته یې د مرحوم سید محمد سرور کونړي په واسطه کولو سره ځان د داخلې وزارت د پولیسو او ژاندارم شق ته تبدیل کړ، چې بیا د ډګروالۍ تر رتبې پورې ورسېد. د احمد شاه مشر ورور دین محمد هم د همدغې واسطې له خوا حربي پوهتون نه شامل او وروسته پوځي افسر شو، چې بیا په پېښور کې نامعلومو کسانو ترور کړ.
ډګروال دوست محمد پنځه کاله وړاندې په داسې حال کې چې زوی یې د پنجشیر او تالقان پر سلطنت ناست و، په پېښور کې د جلا وطنۍ او پردېسۍ په حال کې وفات شو. د هغه مرحوم جنازه په پېښور کې خاورو ته وسپارل شوه، خو احمد شاه خان یې نه جنازې او نه هم فاتحې ته حاضر شو.
(د لستوني مار، د نثار احمد صمد سریزه)

د خینو کنونکو په اند احمد شاه مسعود اکثره جنګونه د نورو په واسطه تر سره کړي او نورو ورته ګټلي دي، نو ځکه ده خانته طالعمن "مسعود" تخلص غوره کړی او دا هم یو غصب شوی تخلص دی. خلیل الله هاشمیان په دې باب وایي: "تخلص مسعود صاحب قانونی دارد که آقای محمد یعقوب مسعود سابق معاون اداری وزارت اطلاعات و کلتور فعلاً مهاجر در (استرالیا) میباشد و اسناد و ثبوت سابقه داری ٦۰ ساله خود را چند بار نشر و تقاضا نموده تا احمد شاه پنجشیری از غصب تخلص او منصرف شده، برای خود تخلص دیگر انتخاب نماید، اما احمد شاه مسعود پنجشیری به عرایض و شکایات او ترتیب اثر نداده است. (د لستوني مار د هاشمیان سریزه، شپږم مخ).
نوموړی لیکوال وړاندیز کوي چې د احمد شاه مسعود له نوم سره دې د (پنجشیري) کلمه بو خای شي، چې له نورو سره دده توپیر وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي خوځښت او کيڼ لاسو خپل منځي ډغرې اوج ته رسېدلې وې چې پولیتخنیك په دې فعالیتونو کې بنستیز رول لوباوه. احمدشاه خان په دې څو کې "د اسلامي ځوانانو" ډلې واخیست څکه هغه په وهلو ټکولو کې پوخ لاس درلود.

محمد داود چې کله د ۱۹۷۳ پر جولای (۱۳۵۲ لمریز د سرطان پر ۲٦) د پرچمي افسرانو په ننګه کودتا وکړه نو په پوهنتون او پولیتخنیك دوارو کې د اسلام پالو او کمونستپالو ډلو تر منځ ډغرې یو چاودېدونکي ټکر ته ورسېدې. د شرعیاتو د پوهنځي د رئیس پوهاند ډاکټر غلام محمد نیازي تر لارښوونې لاندې "اسلامي غورځنګ" په ۱۹۷۴کې ان پاڅون ته هم لاس واچوه چې حکومت هغه درې ورې او نیازی یې ونیوه. د هغه پله ور (لکه برهان الدین رباني او نور) ټول پاکستان ته وتښتېدل. احمد شاه چې په دې وخت کې د پولیتخنیك د دویم کال محصل و، د "اسلامي ځوانانو" د جوړښتون د نورو غړیو په شمول چې بچ شوي وو، د ژوندي پاتې کېدو په خاطر پاکستان ته وتښتېد. احمد شاه خان په دې ډول په پېښور کې جلا وطني غوره او هلته د پاکستان د پوځي استخباراتو "آی، ایس، آی" په خدمت کې راغی. د پاکستان د سرحدي ځواکونو قوماندان ډګروال نصیر الله بابر د جمهور رئیس ذوالفقار علي بوټو په منظورۍ د دغو افغاني محصلانو لپاره پېښور ته نژدې د پوځي روزنې یو پټ پروګرام جوړ کړ.

احمد شاه خان مسعود د هغو افغاني محصلانو د لومړۍ دورې له شاملانو څخه دی چې پېښور ته نژدې د (چیرت) د پوځي کمپ په یو میاشتني خورا مخفي کورس کې یې برخه واخیسته. د "ایس، ایس" یانې سپېشل سروېس یو خورا تکړه افسر د احمد شاه خان د روزونکي په توګه وټاکل شو. احمد شاه خان او ملګرو یې د جنرال بابر د سرحدي ځواك یونیفورم اغوسته چې په ظاهره د پاکستان قبایلي سیمواوسېدونکي معلوم شي.

دغه افغاني ځوانان د ۱۹۷۵ د جولای په وروستیو کې د (آی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایس، ای) د کېښکنې له مخې پر حکومتي دفترونو د یو لړ بریدونو په خاطر افغانستان ته ولېږل شول. نصیرالله بابر چې دا عملیات خورا سویمن ګڼي، وایي چې "ما ښاغلي بوټو ته وویل چې نور نو د دې وخت را رسېدلی دی چې داودخان ته خپل پیغام ولېږو." مګر دغه احساساتي او پارول شویو ځوانو افغانانو دا عملیات د حکومت د را پرځېدو په توګه انګېرل؛ احمد شاه خان چې د څه باندې دېرشو پنجشېري ځوانانو مشري یې لرله، په ډېر ساده ډول ګومان وکړ چې عام ولس به د داود خان په وړاندې راوپاڅېږي؛ مګر حکومتي کوماندو ګانو حتی مخکې له دې چې دا بله ورځ پنجشیر ته ورسېږي، سیمه ییزو خلکو خپله دغه ګومارل شوي کسان غرو ته وشړل، په نتیجه کې یې د احمد شاه خان نیمایي ملګري ووژل شول یا دا چې ونیول شول او "اسلامي غورځنګ" تر سخت تادیب لاندې کېښنوت. احمد شاه خان له دې ناکامه ماموریت څخه ډېره عقده واخیسته او دوه میاشتې وروسته بېرته پاکستان ته ستون او د وژل شویو ځوانانو پړه پر احمد شاه واچول شوه. "آی، ایس، آی" او پوځ د ده په وړاندې پر خپله دلچسپي له سره کتنه وکړه. احمد شاه خان په خپله په دې هکله وایي: "پاکستان په بشپړه توګه د حکمتیار خوا ونیوله او موږ د مخالفینو په حیث پاته شوو." (آی، ایس، آی) وروسته داسې څرکونه تر لاسه کړل چې د هغو له مخې پر احمد شاه باندې د جاسوس ګومان کېده. د احمد شاه له نږدې ملګري جان محمد څخه پېښور ته څېرمه د "نوښېره" په پوځي کېمپ کې ګروېږنې وشوې او هغه اعتراف وکړ چې احمد شاه هم ورسره لاس درلود. جان محمد وروسته په مرموز ډول پسې ووژل شو. احمدشاه هم بالاخره ونیول شو، خو په ډېر مشکل سره له کټ مټ کړنې څخه بچ شو.

هو؛ دغو کړنو د هغه په زړه کې یوه تلپاتې عقده راوپاروله. ښایي د ځینو انګېرنو له مخې به همدا وخت و چې لومړی مصر او لبنان ته وخوځېد چې هلته د فلسطیني مبارزانو تر څنګ په تطبیقاتو کې برخه واخلي. د ځینو امریکایي او غیر امریکایي خبریالانو د انګېرنې له مخې احمد شاه د ټرېننګ په همدې فلسطیني کمپونو کې د "کې، جي، بي" د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګومارلو تز.پوځي روزنې او استخدام لاندې راغی او هغوی ده ته د ځینو کمونستي چریکانو اثار تهیه کړل. احمد شاه پاکستان ته له ستنېد و څخه وروسته د پېښور په بالاحصار کې په ډک زړه شپې سباکولې.

"اسلامي غورځنګ" په پېښور کې پر دوو برخو وېشل شوی و، یوه څانګه یې حکمتیار او بله رباني پر مخ وړله، احمد شاه د ژبني، قومي او ستمي تړاو له مخې د رباني په "جمعیت اسلامي" کې ودرېد او وروسته له همدې چینل نه د پردیو له خوا ان د "زمریتوب" تر مجازي لقب پورې هم ورسول شو.

دغه ټول ځوانان د ثور د کودتا په پېښېدو سره نور نو له بې ربطۍ څخه خلاص شول. احمد شاه او د جمعیت صرف شل کسان د ۱۹۷۸ په دوبي (او د یو بل روایت له مخې د ۱۹۷۹ په پسرلي کې) پاکستان پرېښود، مخ په پنجشېر روان او د شورش په لټه کې شول.

د یوې انګرېزي له مخې احمد شاه خان مسعود په استقلال لېسه کې د تعلیم په وجه لومړی د فرانسې له استخباراتو سره تړاو وموند، وروسته هغوی د انګلستان (M1-6) ته معرفي کړ. دغې شبکې د هغه هېواد د تجارتي تلوېزیون ژوړ چلوونکي "سنډیکال" ته وظیفه ورکړه چې پنجشیر ته لاړ شي او هلته "یو ځوان قوماندان چې دویم ټیټو دی، ووینې او پر همغه باندې د تلوېزیون لپاره یو فلم ډک کړي. د همدې سنډیکال په مرسته د احمد شاه خان مسعود ورور احمدولي د انګرېزي ژبې د زده کړې لپاره لندن ته لېږل کېږي، هغه په داسې حال کې چې هېڅ کومه شهات نامه نه لري خو ادعا کوي چې حتی ماسټري یې لا اخیستي ده(!؟) دغه یو ساعته فلم وروسته (CIA) ته وسپارل شو او له ځینو انګرېزو سره سره لا پوره ډاګیزه شوې نه ده چې "سي آی اې" هم پټه معامله ورسره پیل کړې که نه؟ »

د انګلستان له استخباراتو سره د مسعود اړیکي له یوې ګډې تاریخي سرچینې څخه الهام اخلي، هغه دا چې انګریزان داسې فکر کوي او حقیقت هم همداسې دی چې د افغان انګلیس په دریو سختو جګړو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېزانو د ماتې اصلي وجه د پښتنو جګړه ییزه مبارزه وه. انګرېزانو ته خپل تېر تاریخ داسې معلوم دی لکه د پرون ورځې پېښې، څرنګه چې له پښتنو سره د مسعود کینه او دښمني هم تېولو ته څرګنده ده، نو انګریزان هم له همدغه ګډ تکي څخه ګټه پورته کوي او غواړي په دې ډول له پښتنو څخه د خپلو تاریخي ماتو د غچ اخیستلو لپاره له دې لارې ګټه پورته کړي، ځکه نو انګرېزانو د روسانو په شان د مسعود د شخصیت په تبارز کې فعاله ونډه واخیسته.

د بي بي سي د یو افغان ویاند په وینا چې نه غواړي خپل نوم یې یاد شي، د انګلستان د استخباراتو او مسعود د اړیکو په باب داسې څرګندونې کوي:

"په هغو شپو ورځو کې چې د افغان ولس او روسانو تر منځ ښه ګرمه جګړه روانه وه د بي بي سي راډیو نړیوال سروېس ته د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا یو مکتوب راغی چې بي بي سي باید د مسعود د شخصیت په تبارز کې ونډه واخلي. د یادونې وړ ده چې د بي بي سي راډیو د خپلې خپلواکۍ او آزادۍ تر څنګ د بهرنۍ پالیسۍ په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت د پالیسۍ تابع ده او د بهرنیو چارو وزارت بیا په خپل وار د خپل هېولد له استخباراتي سرچینو څخه الهام اخلي. د بهرنیو چارو وزارت په مکتوب کې لارښوونه شوې وه چې په یو نه یو ډول باید د افغانستان په هر ګوټ کې د روسانو پر ضد د جګړې رابطه له مسعود سره وصل شي. د بهرنیو چارو وزارت د لارښوونې لپاره ان بېلګې هم راوړې، وې، مثلاً: په لغمان کې د روسانو پر ضد سخته جګړه روانه ده. د دې جګړې خبر باید داسې واړول شي: نن د لغمان په ولایت کې د روسانو پر ضد سخته جګړه روانه ده چې په نتیجه کې روسانو ته سخت مرګ ژوبله اوښتې ده، په دې جګړه کې د لغمان ولایت ګڼ شمېر کلي او کورونه وران شوي دي، د یادونې وړ ده چې د لغمان ولایت پنجشېر ته ور څېرمه پروت دی، چې د افغانستان د جهاد د نامتو قوماندان احمد شاه مسعود مرکز دی، روسانو تر اوسه پورې څو ځله پر پنجشېر حملې کړي خو د هغه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولو بریالي شوي نه دي.

یا به هم که په کونړ کې جګړه و، نو د هغه ربط به هم له پنجشېر سره تړل کېده. داسې چې: نن د کونړ په ولایت کې د مجاهدینو له خوا د روسانو پر یو لوی قطار برید وشو او د روسانو زیات ټانکونه او زغروالې واسطې وسوځول شوې، کونړ له پنجشیر نه (څو) کیلو متره لرې پروت دی، کوم چې د افغانستان د جهاد نامتو قوماندان احمد شاه مسعود هلته اوسېږي او تر اوسه یې روسانو ته څو ځله ماتې ورکړې ده. همدا رنګه نور ډېر داسې تبلیغات.

د انګرېزانو او مسعود تر منځ اړیکې دومره ګرم وو چې ان د روسانو تر وتلو وروسته هم پکې کمی رانغی. د بي بي سي د همدې ویاند په وینا د مسعود انګریزي، ایراني او ځینې افغاني دوستان ذومره وړاندې تللي وو چې د بي بي سي د پښتو او فارسي څانګو په سټډیوګانو کې یې ان د مسعود تصویرونه ځوړند کړي وو.

د بي بي سي د پښتو څانګې د یو مهال انګریز مشر چې له پښتنو سره یې دښمني په خته کې اخښل شوې وه، د افغانستان پر ورانۍ دومره خوشحالېده لکه د انګلستان پر آبادۍ. کله چې په کابل کې درنې جګړې پیل شوې او مسعود - رباني به د خپل ځاني قدرت لپاره په کابل کې له هر تنظیم سره جنګېدل او په نتیجه کې به د ښار زیاته برخه ورانېدله، نو دې کار به دې انګرېز ته زبردست خوند ورکاوه. کله چې به مسعود د کابل ښار کومه برخه که هغه ډېره کوچنۍ هم وه ونیوله او یا به یې ړنګه کړه نو د انګرېز زړه، خوله او سترګې به له خندا او موسکا ډکې وې او روحاً به ډېر زیات خوشحاله و. په هغه ورځ به یې هسې له هغو افغانانو سره ځان مخامخوه چې پرّ افغانستان به دردېدل او د خپل هېواد د ویجاړۍ ننداره یې نه شوه کولی، خو په هغه ورځ چې د طالبانو ځواکونو رباني، مسعود او د هغه ټوپکیان د جنګ په ډګر کې مات او په زور یې له کابله تښتې او ځغاستې ته اړ کړله دا ویاند وایي موږ ټول په دې ورځ ددغه انګرېز عکس العمل او ظاهري څېرې ته متوجه وو، کله چې د راډیو دستوډیوګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دهليز کې مخ ته راغی او پر ما يې سترګې ولګېدې، نو ژر يې سترګې ښکته واچولې، يو ځل تورې سترګې شنو سترګو ته مخا مخ شوې، انګرېز دومره پرېشانه او مايوسه معلومېده لکه کوم اکبر خان چې کوم مکناټن وژلی وي او يا هم لکه پر ميوند کې چې د ايوب خان لښکرو د انګرېزانو پر لښکرو خپل اسونه ور خېژولي وي. دا افغان وايي چې دا لومړی ځل و چې ما په خپلو سترګو وليدل چې يو انګريز د يو افغان سترګو ته و نه شو کتلای. انګرېزان ډېر مغروره خلك دي او په اسانۍ چا ته سترګې او سر نه ټيټوي. دا يوه بېلګه وه چې دلته وړاندې شوه او دا بېلګې کېدای شي د انګليس د دولت تر لوړې کچې پورې همداسې اټکل شي.

له اسرائيلو (موساد) سره خو د مسعود او رباني اړيکي په ۱۳۷۶ کې هغه وخت ښې ډاګيزې شوې چې د تخار د زلزلې په پلمه رباني ته د اسرائيلو د مرستو خبر خپور شو. تر دې دمخه يوازې د رباني - مسعود او اسرائيلو د ناستې پاستې خبرونه خپاره شوي وو.

احمد شاه مسعود له نورو ګڼو استخباراتي سازمانو سره د اړيکو په ترڅ کې د روسانو د کې جي بي له سازمان سره ټينګ اړيکي لرل. له نورو سازمانونو سره د ده د لنډمهاله او اوږدمهاله اړيکو علت دا وو چې هغو سازمانونو هم په افغانستان کې لنډمهاله او ستراتيژيکې ګټې درلودلې او مسعود ورته د يوې وسيلې په توګه ښه په کار راتلای شو. د ده ګټه دا وه چې دی به په پردې مرسته د افغانستان د ولس او خپلو مخالفينو له ګواښونو او ضربو څخه مصئون پاتې شي او هم به د بهرنيو جاسوسي شبکو په مرسته د يو مصنوعي شخصيت په توګه راڅرګند شي، نو د هر هېواد جاسوسي شبکو تر هغه وخته له ده سره روابط ساتل او ساتي يې چې د هغوی سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکې ګټې يې غوښتنه کوي، خو د روسانو له جاسوسي شبکو سره د ده اړيکي تر نورو ټولو استخباراتي شبکو زياتې، ګرمې، نږدې او متداومې وې او دي. روسان فکر کوي چې تر کارمل وروسته ښه مناسب شخص په لاس ورغلی دی. د کارمل - نجيب د ادارې د يو تن وتلي او لوړ رتبه شخص په وينا "هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پانګه او نغدې پیسې چې روسانو زموږ پر ګوند او زموږ پر مشرانو بېرګ کارمل او ډاکټر نجیب الله لګولې له هغې پانګې څخه ډېر ځله کمې دي چې روسانو له احمد شاه سره مرسته کړې او پر هغه یې لګولې دي."

د یوې انګېرنې له مخې احمد شاه مسعود پر افغانستان باندې د شوروي د یرغل په لس کلنه موده کې درې ځله شوروي اتحاد ته پټ سفرونه کړي او دوه ځله خو یې پټې ژمنپاڼې لا هم ورسره لاسلیك کړي.

داسې فکر کېږي چې مسعود تر ۱۹۸۲م کال پورې تر زیاته بریده د آی، اېس، آی پر مالي، پوځي او ستراتیژیکي مرستو تکیه و، خو وروسته یې له کې جي بي او نورو استخباراتي شبکو سره هم اړیکي ټینګ کړي. د همدغو کلونو په ترڅ کې روسان د خپل جګړه ییز چلند د څرنګوالي په فکر کې شول او پر خپلو پوځي ماتو څه ناڅه باوري شول. نو ځکه خو یې د مقاومت په لیکو کې د درز اچونې او د خپلو ستراتیژیکي ګټو لپاره د یو ګوډاګي د پیدا کولو په فکر کې شول. دوی د خپل همېشني سیاست له مخې چې د لږکیو د راپارونې پر بنسټ ولاړ دی، مسعود د دې لپاره غوره وګاڼه. دې مسئله کې له تاجکستان سره د هغه قومي او ژبني اړیکي، د هغه خپله کمزوري، د کابل په اداره کې د تاجکانو واکمني چې د روسانو له راتګ سره ځواکمنه شوې وه، د کارمل د ادارې د پرچمي او ستمي خادستانو او لږکیو ته په خپله د روسانو د ژور درناوی ټول علتونه شامل دي. روسانو په دې وخت کې له فشار او تطمع دواړو وسیلو څخه کار واخیست.

روسي پوځ چې کله د ۹۸۲ ۱ په دوبي کې پنجشېر ته ننوت او د مسعود ځواك یې وځپه، نو هغه هم دې ته اړ وت چې له روسي پوځ سره په جون کې یو شپږ میاشتنی اوربند وکړي او په بدل کې یې له لاسه ورکړې ټولې سیمې بېرته واخلي. د ۱۹۸۳ په فبروري کې د یو کلن اور بند په سر روغه جوړه وشوه او درې نیم لکه ډالر رشوت یې جیب ته کړ.

په افغانستان کې د شوروي د پلي لښکر مشر جنرال ګروموف وایي: "د څلوېښتم استخباراتي مرکز هڅو په پای کې ټاکلې نتیجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړي، په ۱۹۸۲ کال موږ خپل لوی مقصد ته ورسېدو. نه احمد شاه مسعود سره مو داسې ټینګ اړیکي پیدا کړل چې ان له افغانستان نه د شوروي پوځونو د وتلو تر وخته په خپل حال پاتې شوې" (سرې لښکرې په افغانستان کې، ۲٦٦ مخ).

ګرموف زیاتوي: "په افغانستان کې زموږ د پوځي حضور په ټولو کلونو کې له مسعود سره زموږ اړیکو بریالی. وده موندله په ۱۹۸۲ کال کې د څلوېښتم لښکر د استازو او شخصاً د مسعود له خوا یو تړون لاسلیك شو چې د هغه له مخې مسعود ژمنه کړې وه چې په جنوبي سالنګ کې به پر شوروي پوځي قطارونو یرغل ته اجازه نه ورکوي. د لاسلیك شوي تړون له مخې مسعود خپلو وسلوالو ته امر وکړ چې، د حکومتي عسکرو خلاف دې له جګړې نه لاس واخلي او خپل ټول ځواك دې د مخالفې ډلې اسلامي حزب خلاف جګړې ته متوجه کړي." (۲٦٦-۲٦۷ مخونه) روسانو څکه دا کار وکړ چې مجاهدین سره متحد نه شي. ګروموف وايي: "موږ پوهېدو که غلیم یو موټی شي او یوه "واحد جبهه" جوړه کړي، نو بیا خو به خامخا له چریکي جنګونو څخه لویو جبهه یې جنګونو ته لاس اچوي".

کلینوویچ احمد شاه مسعود ته د خپل وړاندیز جزئیات داسې تشریح کوي: "هیله ده په دې ډول خبرو در کړم چې چمتو یم هر مهال او هر ځای چې لازمه وي بې له وسلې درشم او درسره وګورم. موږ هغه سړي ته چې زموږ پیغام یې احمد شاه مسعود ته ورساوه، له بورې، غنمو، وریجو او نورو موادو څخه ډك شپږ کاماز لارۍ مواد ورکړل. موږ په ډېر رپانده حال کې دهغه ځواب ته سترګې په لار وو چې بالاخره ځواب راغی،له موږسره مخامخ لیدنه او ګډه سوداګرۍ یې ومنله. (دلستوني مار، ۲۸مخ).

روسانو علاوه پر دې د ټولو هغو مالونو پیندځمه برخه هم احمد شاه مسعود ته ورکوله چې د سالنګ له لارې څخه د کابل په نیت ژغورنده تېرېدل. (روبین، د لستوني مار، ۴۷ مخ.)

په خپله د مسعود سرچینې د دې تړون په باب وايي:

"در اواخر دلو ۱۳٦۱ بعد از دیدار و مذاکرات میان مجاهدین و هیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسي در منطقه بازارك پنجشير طرفين به اتش بس موافقه نمودند، درين گفتگو هيئت روسي شامل دو نفر يکی بنام (اناتولي) حامل پيام شخصي اندروپوف و يك نفر ترجمان تاجکی و در هيئت مجاهدين مرکب از احمد شاه مسعود و دو همکارانش بود.

د دروان مذاکرات طرفين طور شفاهي شش ماه اتش بس را پذيرفتند اما بعدتر اسناد نيز در زمينه مبادله شد. (پنجشير در دروان جهاد ٩٥ مخ)

د همدې سرچينې له مخې د تړون په ٣ او ٩ ماده کې راغلي دي:

"مجاهدين بالای قوای دشمن مستقر در عنابه حمله نکرده و در مقابل روسها به ساير مناطق پنجشير حمله نه نمايند.

ساحه آتش بس شامل پنجشير، شتل و قسمتی اندراب، سجنشو بولغين و گلبهار بالا ميشود." (٩٦مخ)

دا سرچينه زياتوي: "يکی از کسانيکه "مسعود" فعاليت او را در اين زمينه بسيار ارزشمند می شمرد، يك مقام بلند پايه هندی بود که در سفارت آن کشور مقيم کابل بود و باش ميکرد." (١٠٢مخ)

له مسعود سره د روسانو له دې تړون څخه د روسانو اساسي هدف دا و چې د مجاهدينو تر منځ يو لوی اختلاف پيدا او هغوی په خپل منځ کې سره وجنگوي او بيا وروسته له مسعود څخه د خپلو ستراتيژيکو گټو لپاره د خپل يو گوډاگي په توگه کار واخلي، که نه خو روسان د هغه له ټول ظرفيت او ځواك ان له شخصي ژوند او اند څخه خبر وو او د هغه له منځه وړل ورته څه سخت کار نه و، دا ټول تصنعي او نمايشي جنگونه د دې لپاره وو چې مسعود ته مصنوعي شخصيت ورکړي او د جنگ په پلمه ورته ډول ډول وسلې پربړدي. خپله گروموف وايي: "مسعود په خپل ورځني ژوند کې اسلامي احکام پر ځان منل خو زموږ پوځي استخباراتو ته پته لگېدلې وه چې د خپل ډېرو نږدې ملگرو په منځ کې يې د شرابو له څښلو نه ډډه نه کوله." (سرې لبنکرې، ٢٩۴)

"د شوروي پوځونو قوماندانۍ ټول امکانات لرل چې ان په پنجشير

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغه په شاوخوا کې هغه له بشپړې ماتې سره مخامخ کړي او که اړتیا وای موږ به هغه له منځه وړی هم وای. ما هېڅکله په دې خبره کې شك نه درلود او اوس یې هم نه لرم. احمد شاه مسعود په خپله هم خپل موقعیت ښه پېژانده، هغه ښه پوهېده چې د څه شي د کولو اجازه لري او د کوم شي د کولو له امله به یې غوږونه تاوېږي." (۲۷۳مخ)

تر اوسه پورې په کورنۍ او بهرنۍ کچه ډېر داسې ګڼ شمېر آثار او اسناد خپاره شوي چې له بهرنیو استخباراتي سازمانونو په تېره بیا له کې جي بي سره د مسعود اړیکې،دوستي او تړونونه برینډوي. په دغو سرچینو کې یو هم د امریکایي لیکوال بروس ریچارډسن (Bruce Richardson) اثر دی چې په انګرېزي ژبه لیکل شوی او پوهاند سید خلیل الله هاشمیان د "اعمال زور و تهدید، نابود سازي و خاموش سازي: سیاست روسیه در ماورای قفقاز، آسیایی مرکزی و افغانستان) په نامه په فارسي ژبه ژباړلی او هم یې په زړه پورې حاشیه ورسره ملګرې کړې ده. همدا اثر تکړه لیکوال نثار احمد صمد په پښتو ژبه هم ژباړلی او خپله یوه په زړه پورې معلوماتي سریزه او ضروري لمنلیکونه یې هم پرې ورزیات کړي دي.

ډاکټر رحمت ربي زیرکیار چې په واکپوهنه (سیاست) کې تخصص لري، دا لیکنه چاڼ کړې او هم یې ځینې معلومات ورسره زیات کړي او د مسعود د ګوډاګي شخصیت په باب یې دغه لاندې فاکتونه راټول کړي دي:

اېډ شوروي روسي یو پوځي چې ایوان شومیلوف (Ivan shumelov) نومېږي او د جنګ لپاره افغانستان ته استول شوی و، په دې ډول شهادت ورکوي: "احمدشاه مسعود په هغې سیمې (سمنګان او بغلان) کې د ګوریلایي قواوو قوماندن و، ده د مسکو پوځي اکاډیمۍ کې د جنرال وارینکوف (Varenikov) سره هم مهال تحصیل کړی و. ویل کېده چې کله وارینکوف د خپلې زېږېدنې ورځ نمانځله، احمد شاه مسعود یې لیدلو ته ورغی او تحفې یې له ځان سره یوړې. له ګوریلایانو سره زموږ اړیکو جالب شکل ونیو. د مثال په ډول، زموږ تر منځ په سمنګان کې سوله چلېدله، موږ په به د زرپوښو په سر ناست وو او د مسعود ګوریلایان به موږ ته راتلل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمباکو (سګرټ) به يې راسره څکل.

۲) ارتيوم بورو ويك (Artyom Borovik) په يوې شوروي مجلې کې چې اوګوينګ (Ogonyok) نومېږي، داسې ليکي: "مسعود د مذاکراتو لپاره يو ښه سړی و." او د مسعود د کوماندو په مرکز کې په غير معمول ډول ګڼ شمېر فارغ التحصيلان شامل وو چې د مسکو له فرونز نظامي اکاډيمۍ څخه راوتلي وو. بوروويك زياتوي چې "يوه اوازه ده په خپله مسعود تر يوه بل نامه لاندې په دغې اکاډيمۍ کې محصل و."

۳) دوکتور اناتولي سودوپلاتوف ( Anatoly sudoplatov) د شوروي اتحاد د استخباراتي موسسې (K.G.B) مامور او اوس په مسکو کې د تاريخ پروفيسر له بروس ريچاردسن سره په "يوې مرکې" له باستون، د اګست ۱۹۹۵/۱۴) کې وايي: "مسعود زموږ لپاره د افغانستان شاته دروازه وه.".

ښاغلی ريچارډسن وايي چې "زه تر ۲۲ زياتې منابع لرم چې مسعود د کې جي بي سره کار کاوه" "د ۱۹۹٦ په اکتوبر کې د "خنجان" د ناولې ژمنپانې د ضامن په توګه په مزارشريف کې د روسي کونسل (اوليك نيفيلايف) حاضر و. د بوريس يلتسن امنيتي سلاکار (جنرال يوري باتوتين) د ۱۹۹۷ د سپتمبر په لومړيو کې له پنجشير څخه کتنه وکړه او احمدشاه مسعود ته يې ليرې واټنيزه توغندي ورکړل چې ځينې وختونه يې پرکابل توغوي. کله چې طالبان د ۱۹۹۷ په مى کې پر سالنګ وروختل نو يو روسي چارواکي د مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې مسعود ته داسې سلا ورکړه : "مخکې له دې چې طالبان تاسې د امو په سيند کې ډوب کړي نو اوس لا هغوی له ماتې سره مخامخ کړئ". د افغانستان د جنګ بګيل شوی جنرال ليبيد خو د ۱۹۹٦ په اوکتوبر کې ان مسعود او ائتلافيانو ته يې د طالبانو په وړاندې د (۲۰-۴۰) زرو روسي عسکرو په ورکړه هم ټينګار وکړ."

۴) سيد نورالحق حسيني (په پېښور کې د اطلاعاتو او اسنادو د مرکز غړی) د هغو لومړيو ژورنالستانو له ډلې څخه دی چې د شوروي روسانو او احمدشاه مسعود د وررولۍ واقعيت يې جوت کړی دی. حسيني د ۱۹۸٦ زيږيز کال د نوامبر په لسمې نېټې بروس ريچارډسن ته داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويلي وو: (په ۱۹۸۵ کې مې د سالنګ په دره کې د مسعود سړي وليدل چې د ټانك د پاسه له شورويانو سره ناست وو، په خپلو مينځونو کې په خندا او ټوکو ټکالو اخته وو. يو وخت به مسعود او شورويان د يوبل په همکارۍ په نورو مجاهدينو بريد وکړي.

۵) د يوه شوروي پوځي ايوان شوميلوف څخه يو ځل بيا واورئ: "په ياد مې دي چې زموږ د فرقې کوماندان او د ګوريلايانو کوماندان تاوده شول چې د ګوريلايي مشرانو يوه ډله راغله چې زموږ په کندك کې وګوري. د دوی لپاره يوه مجلله مېلمستيا جوړه شوې وه، د ګوريلايانو مشر مسعود او زموږ کوماندان موافقه وکړه چې يو بل ته به ضرر نه رسوي. وروسته له قرار داد څخه زموږ ژوند په خوږې اندازې سوله ييز و."

٦) د پخواني شوروي اتحاد يو پوځي منصبدار چې پټ نوم يې وېکتور سووروف (Victor suvorav) دی او غرب ته تېنتېدلی و، په ۱۹۸۴ کې په يوې مرکې کې د پاملرنې وړ معلومات وړاندې کړي دي: "د مجاهدينو نوميالی کوماندان غوره شوی دی چې د شوروي اتحاد د ګټو نمايندګي وکړي. دی به د پوځي او اقتصادي مرستو په واسطه وساتل شي، او سربېره پردې د شوروي استخباراتو بشپړه همکاري به ورته ورسېږي. د خپلو خلکو په وړاندې به دی د يوه اتل رول لوبوي په داسې حال کې چې ټول وخت زموږ لپاره د دوه طرفه ايجنټ په حيث کار کوي" سووروف وړاندې ځي او وايي چې: "دا پلان دومره پټ دی چې حتی د شوروي اتحاد او د افغانستان ډموکراتيك جمهوريت ډېر لوړ رتبه مامورين هم وربانديې نه شي خبرېدلی."

۷) "د افغانستان د شمال حکومت" د جوړولو او په هغه کې د احمدشاه مسعود د رول په هکله د ډاکتر محمد حسن شرق په خاطراتو کې هم ځينې معلومات خوندي شوي دي چې راسپړل يې د مسعود او شوروي روسانو په سياسي خپلوۍ رڼا اچوي: له افغانستان څخه د شوروي پوځونو له تمبولو څخه اتکل يو کال وړاندې يانې د ۱۹۸۸م کال په پيل کې په کابل کې د ډاکتر نجيب الله حکومت ته دی ولمسول شو چې د "د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د شمال حکومت" تشکیل کړي په دې هکله ډاکتر محمد حسن شرق چې د ډاکتر نجیب الله د واکمنی په وخت کې صدراعظم و خپل نظر داسې څرګندوي: "باآنهم مشاورین شوروي با تلاش های اخرین هم زمان با برآمدن عساکر خویش از افغانستان تحت زعامت دکتور نجیب الله رئیس جمهور و سلطان علی کشتمند صدراعظم طرح افغانستان شمالي وجنوبي را بمیان گذاشته ونه ولایت سمت شمال:میمنه، شبرغان، بلخ، بغلان، کندز، تخار، بدخشان، سرپل، و بامیان را بنام حکومت شمال افغانستان با تشکیل صدارت در مزار شریف از پیکر حکومت واحد و مرکزي افغانستان در کابل جدا نمود و اقای نجیب الله مسیر عضو کمیته مرکزي ح.د.خ (حزب دموکراتیك خلق افغانستان) را به حوت ۱۳٦٦ به حیث کفیل صدراعظم شمال افغانستان با ۱٦ نفر معاونین وزارت های کابینه او مقرر و در مزار شریف شروع بکار نمودند..."

د "حکومت شمال" لومړی اقدام یو څه وروسته د افغان ملت په ارادې ناکام شو، خو شوروي واکمنانو د افغانستان د تجزیې لپاره یو بل پلان هم لاره چې احمدشاه مسعود به پکې غټ رول ولوبوي. محمد حسن شرق د نجیب الله د رژیم د صدراعظم په حیث د هغه وخت د شوروي اتحاد واکمن ګورباچف سره په مسکو کې ولیدل په خبرو اترو کې ګورباچف، له حسن شرق څخه پوښتنه وکړه چې: "فکر نمی کنید: گر با احمدشاه مسعود حکومت شما با یك خودمختاری ساحه وسیعتری در سمت شمال همکاري و موافقه نمایند او جنگ را کنار گذارند زیرای بعضی اطرافیان او چنین ارزوی را دارند"

۸) وروسته له دې چې د ۱۹۹۲ په اپریل (۱۳۷۱ ثور) کې د ډاکتر نجیب د رژیم واکې "ائتلاف شمال" ته وروسپارل شوې، یو "کابلی کمونیست" په مسکو کې له یوه روسي جنرال سره خواله کوي او د هغوی له خولې داسې معلومات وړاندې کوي: "ما احمدشاه مسعود را نه تنها ازبین نمی بردیم بلکه او را تقویه میکردیم، زیرا وی نفر خود ما بود و پلان دوم این بود که اگر نجیب سقوط کند، مسعود جایش را پر نماید."

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹) الکساندر فیدوتوف (Alxander Fedotav) چې د پخواني شوروي اتحاد د کمونستي ګوند غړیتوب یې لاره، د (اوکراین) په پخواني جمهور رئیس لیونیدکراچوك (Leonid Kravchuk) پسې دویم قوي سړی و او اوس د اسیا او افریقې د تاریخ پروفیسر او د اوکراین د اوسني جمهور رئیس کوچما (Kochma) خاص مشاور دی. بروس ریجارډسن د هغې شخصي مکاتبې له مخې چې فیدوتوف ورسره د ۱۹۹۲ د نوامبر په دویمې نېټې کړې وه د فیدوتوف معلومات داسې وړاندې کوي: "شخصاً یو شوروي استخباراتي ماهر کرنیل زاکین کادیروف (Zakin Kadyrov) احمد شاه مسعود ته پیسې ورسولې، چې مسعود د شورویانو له څلوېښتم نمبر اردو سره د عدم تعرض قرارداد لاسلیك کېدو له امله تقویه کړي". دی زیاتوي: "زما او زما د ډېرو عسکرو معلومات چیانو (Mititary Informants) په فکر دلیل یې دا دی چې مسعود د خپلو قواوو ساتل غوښتل چې زموږ {شوروي} له وتلو څخه وروسته خپل قدرت ټینګ کړي."

پورتني شواهد او معلومات ښیي چې احمد شاه مسعود په جهاد کې له ډېر پخوا راهسې د "پنځم غونډ" په حیث د شوروي روسانو ګټې تامینولې (پنځم غونډ یا {Fifth Column} تخریبونو کې دستګاه ته ویل کېږي.) د شوروي روسانو او د احمد شاه مسعود تر منځ سیاسي خپلوي او عسکري همکاري یوازې او یوازې په افغانستان کې د جهاد د شنډولو لپاره نه وې، بلکې له جهاد څخه وروسته افغانستان کې یې د شوروي روسانو د اوږده پلان لپاره هم غټ ارزښت لاره. د شوروي روسانو ستراتیژي په مجموع کې په دې متمرکزه شوې وه چې په افغانستان کې پښتانه تصفیه کړي، افغانستان د مرکزي اسیا په جمهوریتونو پورې ونښلوي او صورت مساوي په مخرج کړي.

مسعود له داسې یو جنجالیز شخصیت سره تر اوسه پورې د افغانستان په تېرو شلګنو سیاسي پېښو او په.تېره بیا له ۱۳۷۱ل کال را وروسته سیاسي او پوځي پېښو کې لوبېدلی او تر خپله څواکه یې د هرې هغې لارې مخه ډب کړې چې له هغې څخه د افغانستان خلکو ته سوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوسايي، امن او سوکالي راتلای شوه. تل د يو ملي حکومت د جوړېدو په مخکې خنډ ګرځېدلې او له کومې ورځې چې وسله لاسته ورغلې، نو بيا يې د افغانستان د عامه شتمنيو په لوټ، تالان او د عامه تاسيساتو او بنسټونو په رنګونه پيل کړی. څو ځله يې د سالنګ د تونل د شمالي او جنوبي برخو په الوزولو لاس پورې کړی دی. هغه وخت چې طالبانو له سروبي څخه پر مخه کړ، نو د ماهيپر د تونلونو د الوزولو په فکر کې شو، ډېر زيات چاودېدونکي مواد يې ورته کېښودل، يو ځل يې انفجار ورکړ، خو له نېکه مرغه موادو انفجار و نه کړ، دويم ځل يې چې انفجار ته ځان جوړوه، طالبان را ورسېدل او دوی نور مجال پيدا نه کړ.

مسعود تراوسه پورې په سلګونو لوی‌او واړه پلونه او پل ګوټي الوزولي او نورې لارې يې ورانې کړې دي، دی چې د خپل اوسني عمر لس برابره نورعمر هم وکړي نوهغه زيان چې ده د افغانستان ولس او زموږ ګران هېواد ته اړولی، دهغه يوه برخه هم بېرته نه شي جبرانولی.داسې ښکاري چې دهغه کرکټر او شخصيت د ورانۍ لپاره جوړ شو، نه د ابادۍ لپاره.

د نرګس ګل به و نه نيسي «پاينديه »!
هغه بوټی چې له اصله ګنډېری وي.

**اخځونه:**

۱- ذلستوني مار، بروس ريچارډسن، پښتو ژباړه، سريزه او لمنليکونه، نثار احمد صمد، تورنټو-کاناډا، ۱۳۷۷ل کال، بېلابېل مخونه.

۲- د بي بي سي راډيو، د يو خبريال څرګندونې.

۳- سرې لښکرې په افغانستان، کې، د جنرال ګرموف ليکنه، د پرديس مساپر ژباړه، بېلا بېل مخونه.

۴- پنجشير در دوران جهاد، عبدالحفيظ منصور، بېلا بېل مخونه.

۵- دعوت جريده، ډاکټر رحمت ربي زيرکيار، ۱۳۷٦ل کال. ۷۷ ۷۸ ګڼه، ٦، ۸، ۱۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هېواد د اقتصاد ويجاړي او د پيسو انفلاسيون

د برهان الدين رباني اداري د هېواد د عادي او نورمال ژوند او د ټولنې د ټولو رغوونکو بنسټونو د ويجاړي په لړ کې د هېواد اقتصاد ته دومره زيانونه واړول چې افغانستان د خپل پنځه زره کلن تاريخ په اوږدو کې دومره زيان نه و ليدلی. يوازې د کابل په ښار کې (دوه زره) لويې وړې فابريکې، کوچنۍ دستګاوې او د لاسي صنايعو کارخايونه لوټ، تالان ويجاړ او وسوځول شول. د افغانستان نورو لويو ښارونو کې هم همدې ته ورته حالات راغلل. د اقتصا پوهانو په نظر د رباني د څلورنيم کلنې جنجاليزې ادارې له خوا افغانستان ته رسېدلی زيان - ان افغانستان ته د روسانو او د هغو د ښکاره پلوي حکومتونو له ټول رسول شوي زيان نه څو برابره زيات دی. د دې وجه دا ده چې د هېواد زياته مادي شتمني ښارونو ته راټوله شوې وه او تر اوسه چې د صنعت او پرمختګ کومې نښې نښانې افغانستان ته راغلې وې هغه هم ټولې په ښارونو کې وې. د روسانو او د هغو د څرګندو پلويانو په وخت کې د هېواد کليوالي سيمو او له ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرې پرتو سیمو ته سخت زیان واړول شو، خو اکثره ښارونه نسبتاً جوړ پاتې وو. کله چې د "اسلامي دولت"(!) په نوم د رباني د دويمې سقاوی ناتار پرې خور شو، نو هغه څه چې له کلونو او پېړيو په ښارونو کې پاتې وو، هغه د ده ښاغلیو(!) ټوپکیانو د ځان غنیمت کړل، څه یې پر ګاونډیو هېوادونو وپلورل او څه یې د اور او ویجاړۍ کومې ته واچول.

د دې تر څنګ برهان الدين رباني د هېواد پر اقتصاد بل ملاماتوونکی ګوزار هم وکړ؛ په شمېر نه بلکې په تول (په ټنونو) افغانۍ یې په روسیه کې چاپ کړې، د ثابت عایده او بې وزلو خلکو اقتصاد يې نور هم پسې ویجاړ او د انفلاسیون حد یې ډېرې لوړې سطحې ته ورساوه.

اقتصادپوهان په دې نظر دي چې: "پولي استقرار پر اجتماعي او سیاسي استقرار باندې ډېر اثر لري، ډېر قوي انفلاسیون ټولنو ته سخت ټکان ورکوي او لاره خونړیو بدلونونو ته اواروي.

د رباني د حکومت په څلورو کلونو کې په پوره بې مسوولیتی سره د پیسو چاپ د مرکزي بانك له ادارې نه ووت او د پیسو چاپ اصلاً پر اقتصادي سنجش باندې هېڅ بنا نه و، بلکې د دې لپاره چې رباني او قوماندان مسعود وکولای شي په هېواد کې د رشوت له لارې ډېر قوماندانان خپل کړي، په سلګونو ملیارده افغانۍ یې چاپ کړې او په دې اساس نه یوازې یې په هېواد بلکې په منطقه کې (ممکن حتی په تاریخ کې) بې ساری انفلاسیون پر افغانستان حاکم کړ"(١)

پروفېسور انور الحق احدي لیکي: "... ما په یو مضمون کې چې د (چاپ بانك نوت يك راه ضبط دارایی شخصی از طرف حکومت) تر عنوان لاندې چې د افغان ملت او امید په جرایدو کې نشر شوی و دا استدلال کړی و چې کوم انفلاسیون چې د پیسو د چاپ نتیجه وي هغه په واقعیت کې حکومت ته دغه قدرت ورکوي چې د ټولو خلکو د نقدي شتمنۍ یوه برخه د ځان کړي، د رباني د دورې بې مسوولیته پولي سیاست د ډېرو بېچاره افغانانو نقدي زېرمه له منځه یوړله او د دې هېواد د کړېدلي ملت اقتصادي مشکلات یې فوق العاده ډېر کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انفلاسیون د خلکو د خرید قدرت کموي، په افغانستان کې د انفلاسیون عمده عامل د بې مسوولیته پیسو چاپول دي. که څه هم انفلاسیون په هر حالت کې دردناك دی، خو که چېرته انفلاسیون د عام المنفعه پروژو د تمویل لپاره وشي، نو لا اقل ګټه به یې اجتماعي وي. په افغانستان کې د پیسو چاپ یو فوق العاده غیر نورمال شکل اختیار کړی دی. د استاد رباني د حکومت په دوره کې پیسې د پروژو لپاره نه بلکې د یوې ډلې (شورای نظار) د جنګي عملیاتو د تمویل لپاره په بې دریغه، بې کنټروله او بې مسوولیته ډول چاپېدې."(۲)

پروفیسور احدي زیاتوي "کله چې ما د رباني د حکومت پر پولي سیاست باندې کلك انتقاد وکړ، د حکومت ځینو پلویانو زما په ځواب کې ولیکل چې افغانی بې پشتوانې نه ده او د افغانستان بانك د (۸۴۰) میلیونه ډالرو په حدودو کې پشتوانه لري. ما ته د افغانستان بانك د اسعارو ذخیره معلومه نه ده، خو دومره راته معلومه ده چې د مرحوم داود خان په دور کې د خارجي اسعارو ذخیره ډېره شوه، ځکه چې په هغه وخت کې ګڼ شمېر افغانانو په ایران او خلیج کې کار کاوه، کورونو ته به یې ډالر رالېږل او هغوی به په بانك کې په افغانیو بدلول. د طالبانو اداره باید په دې باره کې خلکو ته معلومات ورکړي چې د مرکزي بانك د اسعارو او د طلا زېرمې اوس محفوظې دي او که دغه شتمني هم پنجشېر ته نقل شوې او یا خو د قوماندان مسعود او استاد رباني په حسابونو کې په پاریس، لندن او سویس کې خوندي شوي"(۳)

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د رباني د دورې د پولي تورم، د پیسو د چاپ او نورو مالي درغلیو په باب د یوې پټې شمېرنې او ارزونې له مخې داسې جاج او معلومات اخیستي دي.

"۱- تر ۱۳۷۰ هـ ش کال پورې د بانکنوټونو ټوله شمېره ۱۳۱۱ میلیارده افغانۍ، د برهان الدین رباني د دولت په څو وروستیو کالو کې ۴۳۵۰ میلیاردو افغانیو ته لوړه شوه چې له ۱۳۷۰ ل کال څخه دمخه وخت په پرتله ۳۰۳۹ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- قیمتي ډبرې په تېرو څلورو کلونو کې په ډېره زیاته پیمانه بهرنیو هېوادونو ته صادرې شوي چې د هغو له جملې څخه د هند هېواد ته ډېر لوړ رقم قیمتي ډبرې صادرې شوې دي. د پاکستان د مستندو خبرونو له قوله په دا تېرو څو وروستیو کالو کې د لس مېلیونو ډالرو په ارزښت قیمتي ډبرې هندوستان نورو بهرنیو هېوادو ته صادرې کړي، په داسې حال کې چې د هند هېواد د قیمتي ډبرو هېڅ معادن نه لري.

۳- د هغه قرارداد له مخې چې د ترانسپورټ بین المللي انجمن (EATA) سره لاسلیك شوی دی، افغانستان له هر عبوري ترانزیتي پرواز څخه چې زموږ د هېواد له قلمرو څخه تېرېږي (۵۰۰) امریکایي ډالره ګټه تر لاسه کوي. په دې اساس په څو وروستیو کلونو کې له دې درکه د افغانستان عاید له (۲۰) مېلیونو ډالرو څخه هم زیاتېږي باید دغه عواید د دولت د عوایدو په حساب (۶۰۰۱) بیت المال ته داخل شوي وای، خو متاسفانه یو ډالر هم بیت المال ته شامل شوی نه د ی‌او ټول د رباني حکومت د مسوولینو له خوا حیف و میل شوي دي.

۴- مجموعي مصارف یا لګښت چې د ۱۳۷۳ل کال په بودجه کې په نظر کې نیول شوي وو، (۶۳۵) مېلیارده افغانۍ وې او ټول عواید (۵۲۳) مېلیادره افغانۍ ښودل شوې وې. په داسې حال کې چې مجموعاً کورني او بهرني عواید له (۸۰-۹۰) مېلیارده افغانیو څخه نه زیاتېږي او دا تفاوت چې تقریباً د (۵۰۰) مېلیارده افغانیو څخه زیاتی کوي (عواید لګښت) د بودجې د کسر یانې نوټونو له چاپ او نشر څخه تمویلېدل. سربېره پر دې له (۵۲۳) مېلیارده افغانیو بودجې څخه د (۸۰-۹۰) فیصده افغانیو په شاوخواً کې د دریو وسلوالو وزارتونو (دفاع، امنیت، کورنیو چارو) وزارتونو له خوا مصرفېدل.

۵- د افغانستان بانك او د هېواد نورو تجارتي بانکونو د هېواد د پور ورکولو د قانون خلاف په مېلیاردونو افغانۍ او په مېلیونو ډالره د لیتراف کرېډت او د انتقالي چکونو د اجراء له لارې د دولت په ضرر اجرا کړي دي چې تر اوسه هم د دغو غیر قانوني پورونو موضوع ناحل پاتې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هېواد پر اقتصادي جوړښت باندې قوي ګوزار ګڼل کېږي.

٦- د پخواني شوروي د. ډالر کلیرنګ په برخه کې هم اختلاس، ناوړه استفاده او غیر قانوني اجراات تر سره شوي او دا مسئله هم بل دولت ته ډېره لویه ستونزه ده.

٧- د هغه وخت د دولت او حکومت د لګښتونو ډېره لویه برخه د حکومتي او دولتي مسوولینو او قوماندانانو د باډیګاردانو او ساتونکو لګښت‌تشکیلوه."(۴)

د B.B.C د پښتو څانګې پخوانی خبریال ډاکټر محمد اکبر اکبر لیکي چې "په کابل کې د ځینو شمېرو او ارقامو له مخې چې موږ ته څرګند کړای شوي د ښاغلي رباني او مسعود د واکمنۍ په څلورو کالو کې ((۸۰۰۰)) مېلیارده افغانۍ د هغو بانکي نوټونو په بڼه چاپ شوي چې پرله پسې شمېره (Serial Number) یې په بانك کې خوندي پروت دی. (د دې شمېرو تر مخې له خوندي پرله پسې نمبره پرته د چاپو شوو نوټونو اندازه (۱۷) زرو ملیاردو افغانیو ته رسېږي.) دا چې {۱۷} زره ملیارده افغانۍ یا په زیات کره حساب {۸} زره ملیارده افغانۍ د افغانستان په شان د یوه وړوکي هېواد پر اقتصاد باندې څومره لوی پېټی پرېباسي، د هغې لنډې پرتلنې او مقایسې نه معلومېدلی شي چې په دې لړ کې راته وشوه. له دې پرتلنې او مقایسې سره سم د پخواني پاچا محمدظاهر خان په ۴۲ کلنه تولواکمنۍ کې ایله ۱۹ ملیارده افغانۍ چاپ شوې وې، داود خان (۲۸) مېلیارده افغانۍ په پنځو کلو کې چاپ کړې او کمونست رژیم په څوارلس کلو کې (۷۰۰) مېلیارده افغانۍ له چاپه وایستلې. ولې د طالبانو وینا ده چې د ښاغلي رباني رژیم په څلورو کالو کې لږ تر لږه {۸۰۰۰} مېلیارده افغانۍ چاپ کړې دي او بده یې دا ده چې دا چاره لا تر اوسه هم په روسیه کې روانه ده. په دې منځ کې طالبان دا هم وایي چې د افغانستان د سرو زرو هغه خوندي پانګه لوټل شوې چې په افغانستان بانك او ارګ کې د اوسپنیزو سیفو دننه پرته وه. ویل کېږي چې دا سره زر یا طلاوې په منونو نه بلکې په ټنونو (یانې ۴۲ ټنه) وې."(۴) ځینو نورو سرچینو هم د مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

او رباني له خوا د افغانستان بانك د بهرنيو اسعارو او په ارګ کې د سرو زرو د زېرمو د غلا په باب څرګندونې کړي دي. کله چې طالبانو د ۱۳۷۵ل کال د ميزان په پينځمه نېټه کابل ونيو، او بيا د افغانستان بانك ته ورغلل نو نه يوازې دا چې په سيفونو کې بهرني اسعار نه وو، بلکې له (۵۰۰) ګيزو نوټونو څخه تر (۱۰۰۰۰) نوټونو پورې ټول له بانك څخه ايستل شوي وو. په بانك کې يوازې پنځوس ګون او سل ګون نوټونه پاتې وو، چې په دې وخت کې يې ارزښت صفر ته د نږدې کېدو په حال کې و. يو شمېر خپرونو هم د ځينو سرچينو له مخې له ارګ او د افغانستان بانك څخه د سرو زرو او پيسو په اړه څرګندونې خپرې کړې دي. "واقعيت ته د نږدې سرچينو د څرګندونو له مخې ويل کېږي چې مسعود او رباني له کابل څخه د تېښتې په وخت کې د بانکنوټونو، د طلاتپې او موزيم د اثارو او نورې ملي شتمنۍ تر څنګ هغه (۲۶) ټنه او د ځينو په وينا (۴۲) ټنه سره زره چې کلونه کلونه د افغانسان د ملي پيسو (افغانۍ) د پشتوانې په توګه په ارګ کې ساتل کېدل له ځان سره پنجشير ته وړي دي. دا طلا په ډېر محرمانه ډول او قوي حفاظت سره د ارګ په دننه په ځمکنۍ پوړ کې ساتل کېدله. ويل کېږي چې دوی په زور سره د دې خونې ور مات کړی او ټوله طلا يې ترې وړې ده."(۵)

د طلا تپې د (۲۲) زرو طلايي سکو او نورو اثارو په باب چې د ډېر تاريخي ارزښت اوولايتنهاي مالي ارزښت لرونکي وو، په خپله مسعود ته د هغه پته معلومه وه او د هغو په باب يې اعتراف کړیدی: "اثار طلاتپه در جائيکه بوسيله حکومت قبلي و هيئت ملل متحد جابجا و مهرلاك گرديده بود محفوظ است."(٦)

له دې څخه ښکاري چې دا آثار د مسعود او رباني په واکمنۍ کې موجود وو، خو له کابل نه د هغو له تېښتې وروسته د دې آثارو پته و نه لګېده. له دې څخه ښکاري چې دا اثار يې هم لکه د نورې ملي شتمنۍ په څېر له ځان سره وړي دي.

د ملي شتمنيو د وړلو په برخه کې هغوی دا څرګندونې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مونږ قانوني دولت(!) یو، نو دولت حق لري چې ملي شتمني له یو ځای نه بل ځای ته انتقال کړي.(!)

مسعود او رباني چې پر کابل باندې د خپل جنجالیز واك په موده کې کومې پیسې چاپ کړي دي، د هغو د شمېر معلومول خورا ګران کار دی، خو د افغانستان بانك د یو کارکوونکي په وینا "هغه پیسې چې د افغانستان بانك ته را رسېدلي او دلته ثبت شوي شمېره یې (دولس زره ملیارده افغانیو ته رسېږي. دا د هغو پیسو یوه برخه ده چې بانك ته را رسېدلې ده. دا چې نورې څومره پیسې مرکزي بانك (د افغانستان بانك) ته تر را رسېدو دمخه وېشل شوي د هغو په باب زما ملعومات نه شته."

د طالبانو په اداره کې د کابل مستوفي وویل: "کابل ته د طالبانو تر راتګ لږ وروسته موده کې (۸۲) زره ملیارده افغانۍ په چلند کې وې."

ځینو کسانو ته به دا خبره د مبالغې وروښتی. بنه ښکاره شي چې رباني او مسعود کانتینر بار او په ټنونو پیسې چاپ کړې دي. هغه وخت چې د دوستم او رباني ائتلاف په کابل کې پر ځای و، نو د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې یو زیات شمېر دوستمي ملېشې ځای پر ځای وې. دوی نه یوازې د هوایي ډګر د زیاتو برخو واك درلود، بلکې له هوایي ډګر نه نیولې تر ارګ پورې په لویه لار کې هم د هغوی زیات عسکر پراته وو. د دوی له خوښې او مشورې پرته د رباني حکومت د دې اختیار نه درلود چې ځینې مهم شیان له هغې جملې چاپ شوې پیسې له دې لارې انتقال کړي. هر کله چې به نوې پیسې چاپ شوې، کابل هوایي ډګر ته به راوړل شوې نو یوه ټاکلې اندازه پیسې به د دوستم ملېشو ته د حق العبور(!) خپل حق(!) او د باج او خراج په توګه ورکول کېدې. دا ډول پیسې به راساً بازار ته وړاندې کېدلې او د افغانستان بانك کې یې سریال نمبر نه ثبتېده. یو وخت دا پیسې د بګرام هوایي ډګر ته هم تلې. له دې پرته بل ستر ګوزار چې د افغانستان پر اقتصاد وشو او انفلاسیون یې لا پسې اوچت کړ، هغه د مسعود او رباني یا (شورای نظار او جمعیت) تر منځ د پیسو د وېش سیالي وه. د رباني په اداره کې یو مهم شخص چې نه یې غوښتل د نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه یې وشي په کابل کې د رباني د واك په وخت کې په خصوصي ډول داسې څرګندونه وکړه " کله چې نوې پیسې چاپ شي نو په کانتینرونو کې د باګرام هوايي ډګر ته راوړل کېږي، بیا د دې پیسو په یوولسو برخو کې (لس برخې) مسعود او یوه برخه یې استاد رباني ته رالېږل کېږي." هغه پیسې چې مسعود د بګرام له هوايي ډګر څخه تر لاسه کولې، هغه یې پنجشیر ته وړلې، بیا یې په خپلو جګړه ییزه فعالیتونو کې کارولې او بېلا بېل قوماندان یې پرې رانیول. دغه راز مسعود له دې پیسو پرته په کابل کې د رباني له اداري نه هم د پوځي فعالیتونو لپاره پیسې اخیستلې. کومې پیسې چې مسعود د بګرام هوايي ډګر له لارې تر لاسه کولې د هغو سریال نمبر (د افغانستان بانك) کې نه ثبتېده. په دې ترځ کې د بي بي سي راډیو یو بل داسې خبر هم خپور کړ "هغه منبع چې د رباني دولت ته پیسې چاپوي د هغو ځینې اشخاص او د رباني د حکومت ځینې چارواکي په ګډه د دې پیسو یو مقدار مخکې له دې چې افغانستان ته راشي په تور بازار کې په خارجي اسعارو بدلوي او دا اسعار ځانته ساتي" د پېښور د صرافي په بازار کې هم داسې بنډل ښت افغانۍ لیدل شوي چې تر کابل دمخه پېښور ته رسېدلي او په خارجي اسعارو بدلې شوې دي.

په دې منځ کې لا بل ناوړه کار چې سل په سلو کې د انفلاسیون د چټکېدو سبب کېږي او د جعل کارۍ یو سخت عمل ګڼل کېږي.هغه پر یو نمبر پانديې د سل نوټونو چاپول دي. یانې دا چې پر یو سریال نمبر او یو خصوصي نمبر بانديې سل نوټونه چاپ شوي دي. په دې ډول چې له یو شخص سره په یوه سریال نمبر او یوه خصوصي نمبر سل کاپي نوټونه شته. د دې ډول جعلکارۍ یوه څرګنده بېلګه له ښاغلي اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد سره موجوده ده. استاد سره د زرګیزو نوټونو د سلو کاپیو داسې یو بنډل موجود دی چې د رباني اداري چاپ کړي او د ټولو سریال نمبر او خصوصي نمبر یو شان دی. د رباني د اداري د یو وخت موتلفینو او مخالفینو دوستم او انجینر حکمتیار هم پیسې چاپ کړي دي. بیا کېږي چې د حکمتیار له خوا په چهار آسیاب کې [illegible] زرګون نوټونه چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، خو د دې شمېر څکه دومره زيات نه و چې د رباني د اداري د انفلاسيون کچه دومره زياته شوې وه چې د زرګون نوټ د خپل چاپ لګښت نه شو پوره کولای. کله چې د رباني په اداره کې د زرګون نوټ خپل ارزښت د چاپ له لګښت سره انطباق ته نژدې کړ نو رباني د پنځه زره ګيز او لس زره ګيز نوټ په چاپ پيل وکړ. دوستم هم د رباني د دې بې کفايته اداري تر څنګ زيات شمېر افغاني بانکنوټونه چاپ کړل، خو د رباني د اداري له خوا د چاپ شويو افغاني بانکنوټونو په اندول کم دي.

کله چې د ۱۳۷۵ ل کال کې د ميزان پر ۵ نېټه په کابل کې د طالبانو د اسلامي تحريك له خوا د رباني اداره راوپرځول شوه، رباني او مسعود له کابل نه د هېواد د شمال په لور وتښتېدل، بيا هم د روسيې له خوا دوی ته د پيسو چاپ بند نه شو. دوی نورې پيسې هم چاپ کړې چې سريال نمبر يې له ۳۲ نه پورته و. کله چې طالبانو له ۳۲ نه پورته سريال نمبر ناچله اعلان کړ نو دوی سخت وارخطا شول، خو بيا يې هم د پيسو چاپ ته دوام ورکړ. هم يې له ۳۲ نه پورته سريال نمبر باندې لس زرګيز نوټونه چاپول او هم يې بېرته له يوه (۱) سريال نمبر نه د پيسو په چاپولو پيل وکړ. داسې وخت هم و چې رباني او دوستم په مزار کې د يوه ائتلاف اندېوالان وو، خو ده ته ځانته پيسې چاپېدلې او دوستم ته ځانته. تر هغه وخته پورې چې طالبانو د اګست په مياشت کې مزار شريف او د هېواد شمال ټول ولايتونه نه وو نيولي، د رباني د پيسو چاپولو همدا حال و. تر څو چې طالبان نوې پيسې چاپ نه کړي نور احتمال يې هم شته. رباني نه يوازې دا پيسې په جګړه ييزو لارو او د هېواد د ودانۍ لپاره لګولې، بلکې د خپلو خپلوانو او تنظيمي اشخاصو د ځاني ګټو لپاره يې هم کارولي. ده په همدې اړه د (۹۰۰۰) باب په نوم يو ځانګړی باب پرانيستی و چې له هغه څخه د راايستل شويو پيسو د لګښت وجه او حساب معلوم نه و. دا باب يوازې "د جمهوري رياست" د ځانګړي باب په نوم په خپله د رباني په واك کې و او د لګښت وجه يې معلومه نه وه. د ماليې وزارت د يو کارکوونکي په وينا: "يوازې د ۱۳۷۵ ل کال د پيل په يوه مياشت کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې باب څخه ۲۷ ملیارده افغانۍ ځینو اشخاصو ته وړیا ورکول شوي دي."

رباني او مسعود د پیسو د دومره سترو ګودامونو په زور څلور نیم کاله پر کابل نیم واکه حکومت وکړ او د زرګونو افغانانو ژوند یې له خپلو هوسونو قربان کړ.

اوس هېڅوا ته او ان هغه هېواد ته چې دوی ته یې په ټنونو پیسې چاپ کړې، هغو ته هم کېدای شي دا پته نه وي چې دوی په مجموعي ډول څومره پیسې چاپ کړې دي، ځکه چې له هغې چاپخونې نه هم پیسې ایستل شوي او په خارجي اسعارو اړول شوي دي. که پورتني ټول احتمالات په پام کې ونیول شي، بیا به هم دقیقه او چورلټه شمېره تر ګوتو نه شي. دلته کېدای شي له دې احتمالاتو نه داسې یوه فرضیه جوړه شي.

۱- هغه دولس زره مېلیارده افغانۍ چې په کابل کې د رباني په څلورنیم کلنه نیمواکه واکمنۍ کې چاپ شوي او په کابل کې د افغانستان بانك د کارکوونکیو په وینا یې سریال نمبر ثبت دی.

۲- هغه پیسې چې دوی - بانك ته تر راوړلو دمخه د دوستم ملېشو ته د رشوت او حق العبور په ډول ورکولې - کېدای شي دا د ټولو پیسو له یوې برخې یانې یو زر مېلیاره افغانۍ سره انډول وي.

۳- هغه پیسې چې د بګرام له هوایي ډګر څخه د مسعود له خوا پنجشیر او یا نورو سیمو ته وړل کېدې او د (جمعیت) د یو لوړ رتبه شخص په وینا د رباني د پیسو یوولس برابره وې، نو که دا خبره رښتیا وي، مسعود باید یو سلو څلوېښت زره ملیارده افغانۍ له ځان سره وړې وي.

۴- هغه افغانۍ چې دوی په یو نمبر سل سل کاپۍ چاپ کړې دي. د دې شمېر اټکل خورا ګران دی، خو کېدای شي دوی چاپ کړې افغانۍ له یوې مخې سل سل کاپۍ نه وي چاپ کړي، خو بیا هم هر څومره چې دوی چاپ کړې وي، څرنګه چې په سلو ... کې ضربېږي نو دا هم لسګونو زرو مېلیاردو افغانیو ته رسېږي.

۵- هغه افغانۍ چې د چاپوونکي هېواد مامورینو او د رباني د اداري چارواکو افغانستان ته تر راوړلو دمخه بهر کې په خارجي پیسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسعارو اړولي د هغو اټکل هم خورا ګران دی، خو بيا هم سلګونو مېلياردو افغانۍ ته رسېدای شي.

٦- ټولې هغه پيسې چې رباني او مسعود د کابل له تېښتې (١٣٧٥ل کال د مېزان له ۵ نېټې) وروسته چاپ کړي، کېدای شي د هغو پيسو معادل وي چې دوی په کابل کې د خپلې واکمنۍ پر مهال چاپ کړي دي. سره له دې چې له زماني پلوه دا دوره کمه ده، خو کتونکي په دې نظر دي چې رباني او مسعود په دې وخت کې څکه زياتې پيسې چاپ کړې چې خپل ځان او ډلې پرې له مرګه وژغوري او بل له دې وېرې چې کېدای شي طالبان نوې پيسې چاپ کړي، او د يو معيار له مخې زړې پيسې په نوې بدلې کړي. نو دوی به مخکې تر مخکې د پيسو اکمال کړی وي. دوی سره دا وېره هم وه چې "د اسلامي دولت" کوم ماسك چې د دوی پر مخ غوړول شوی و، هغه به د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړ شي، نو بيا به دوی ته د پيسو د چاپ امکان بيخي ختم شي.

نو که پورتني ټول احتمالات د يوې فرضيې په توګه په پام کې ونيول شي، نو رباني او مسعود به د ١٣٧٧ ل کال د سرطان تر پايه پورې په سلګونو زره مېلیارده افغانۍ چاپ کړي وي. دا به نه يوازې په افغانستان بلکې په دومره زماني واټن کې د هېواد د څرنګوالي او د نفوس د شمېر په اندول په نړۍ کې د پيسو د چاپ يو بې ساری ريکارډ وي. که چېرې دا په سلګونو زره ملیارده افغانۍ د افغانستان پر ١۵ مليونو نفوس باندې ووېشل شي، نو هر يو ته به په لسګونو مېليونه افغانۍ وررسېږي، چې په منځنۍ کچه پرې هر افغان ته يو کور ودانېدلی شي، خو استاد رباني او د هغه قوماندان دا ټولې پيسې د افغانستان په تخريبي ساحه کې مصرف کړي دي، نه يوازې دا چې زموږ د هېوادوالو کورونه يې اباد نه کړل، بلکې وران يې کړل. دا هم څرګنده خبره ده يوه افغانۍ چې د هېواد په تخريبي برخه کې کارول کېږي، سل چنده تخريب یانې د سلو افغانۍ زيان اړولی شي. اوس نو د رباني د ادارې هغه په سلګونو زره مېلیارده افغانۍ چې په تېره موده کې يې چاپ کړي دي، يو ځل بيا په سلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرب کړی چې د ټول افغانستان د تخریب جاج سړي ته معلوم شي. دې کې لا هغه پیسې له حسابه وتلې دي چې د خارجي استعمارو په توګه دوی د افغانستان له دښمنانو ته تر لاسه کړي او یا یې پرې د افغانستان شتمنۍ پلورلې دي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان د ملي شتمنۍ یوه برخه د دې اشخاصو له خوا بهرنیو هېوادونو او د هغو بانکونو ته په پټه انتقال شوې ده. همدې چارو زموږ د هېوادوالو اقتصاد لا پسې کمزوری کړ، د ځینو مادي پانګه یې له منځه یوړه او د ثابت عایده خلکو اقتصاد یې ویجاړ کړ. هغه ځا چې ټاکلې اندازه افغانۍ یې لرلې او هغه یې په معین ځای او یا هم په بانکونو کې ساتلې وې، د وخت په تېرېدو سره یې خپل ارزښت بایللو. په دې باب یو څو مثالونه کېدای شي کفایت وکړي. د ۱۳۷۱ ل کال په پیل کې (د مجددي صاحب په لنډه مهاله موده) کې د کابل پوهنتون یو استاد په جلال اباد کې خپل یو کور په درې سوه لکه افغانۍ خرڅ کړ، هغه د خپل ملي احساس له مخې دا پیسې په بهرنیو اسعارو بدلې نه کړې. ټولې پیسې یې د پښتنې تجارتي بانک په جاري حساب کې تحویل کړې. له دې پیسو نه تقریباً هغه وخت اټکل او وه نیم لکه پاکستانۍ کلدارې جوړېدې، چې په هغه وخت کې د (۲۷-۲۵) زرو امریکایي ډالرو معادل وې. دې کې څو میاشتې ووتلې، د افغانۍ ارزښت ورځ پر ورځ کمېده، ان په دې کې یو کال پسې ووانه، د ځینو دوستانو او کورنۍ له خوا پر استاد فشار راغی چې پیسې راوباسي په کار یې کړي. کله چې هغه بانک ته مراجعه وکړه، نو بانک والاوو ورته وویل چې موږ ځا ته له (۵) لکه افغانیو زیاتې پیسې نه شو ورکولی او هغه هم له یوه ټاکلي وخت وروسته. څرنګه چې استاد په پېښور کې اوسېده، نو ده نه شو کولای په دې پیسو پسې نورې پیسې هم ولګوي او له ټاکلي وخت وروسته بانک ته مراجعه وکړي. په بانک کې د پیسو د ایستلو یوه بله لاره هم وه او هغه دا چې هر ځا تر شل لکو افغانیو پورې ایستلې نو پنځه لکه افغانۍ یې باید رشوت ورکړی وای، خو ده دې کار ته غاړه کېښنوده. په دې کې ډېره موده تېره شوه او کله چې د ربانې د سقوط پړاو را ورسېده، نو یوه کلداره تقریباً پنځه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانی او یو امریکایي ډالر شل زره افغانیو ته رسېدلی و، نو په دې وخت کې د ده د پیسو ارزښت (۵۴) زره کلداري، او یا هم "یونیم زره ډالرو" ته را ټیټ شو.

پر یوه بل شخص باندې چې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ په وخت کې یې (پنځوس لکه) افغانی په بانك کې اچولې وې، پر هغه هم دا ګانه شوې، دا دوه ببلګې مو هسې د (مشت نمونه خروار) په توګه راوړې. زموږ اکثرو هېوادوالو دا ډول زیانونه زغملي دي. په ځانګړي ډول دا ضربه د ثابت عایده اشخاصو خصوصاً متقاعدینو ته زیاته متوجه وه. د لغمان په ولایت کې یو ډګروال افسر چې د ډاکټر نجیب په حکومت کې په خپله همدې رتبه تقاعد شوی او د رباني د اداري په پیل کې په خپل تقاعد پسې کابل ته راته، له هغو زرګونو بېلګو څخه یو دی چې بالاخره له خپل تقاعد څخه منصرف شو. دی وایي: "زما د هرې میاشتې تقاعد دولس زره افغانی و او ما خپل تقاعد کال په کال اخیسته، یو وخت داسې راغی چې زما معاش ثابت پاتې شو او د افغانی ارزښت ډېر زیات راپرېوته نو زما د یو کال ټول معاش د لارې هغه کرایه او د څوورځو د ډوډۍ لګښت نه شو پوره کولای چې ما باید په کابل کې د خپل تقاعدي معاش د اخیستلو لپاره لګلولی وای، نو ځکه چورلټ ورڅخه تېر شوم".

د رباني اداري د دې ستر انفلاسیون په نتیجه کې نه یوازې افغانیو خپل ارزښت بایلود، بلکې د ورځنیو مهمو تجارتي معاملو لپاره له کارېدنې څخه هم ووتلې او ځای یې بهرنیو اسعارو خصوصاً کلدارو ونیو. په کابل کې د رباني اداري تر وروستیو وختونو پورې د هېواد په لویو ښارونو له هغې جملې نه په کابل کې لویې مهمې تجارتي ان ځینې ورې تجارتي چارې په زیاته کچه په کلداراو تر یوه حده هم په ډالرو تر سره کېدې. د دوی د دې عمل په نتیجه کې ټول هېواد له یو ستر مالي انفلاسیون اواقتصادي کړکېچ سره مخ شو او په یاده موده کې د همدې انفلاسیون په نتیجه کې له سل ځلو څخه تر یو نیم زرو ځلو پورې د شیانو نرخونه لوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**


۱) پروفیسور انور الحق احدی، هیله مجله، ۱۳۷٦ل کال، ۱ گڼه، ۵-٦ مخونه.
۲) پورتنی اخځ، ۱۰ مخ.
۳) پورتنی اخځ، ۱۰ مخ.
۴) د بهرنیو چارووزارت له خوا یو برابر شوی رپوټ.
۵) ډاکټر محمد اکبر اکبر، هیله مجله، هماغه گڼه، ۲۷ - ۲۸ مخونه.
۵) یاد شوی اخځ، ۸۷ مخ.
٦) هنداره جریده، کابل، ۱۳۷۵ ل کال، ورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټولنيز حالات

د افغانستان په ټول تاريخ کې دويمه سقاوي (د رباني-مسعود دوره) تر ټولو تياره، ترينګلې او بې ثباته دوره ده. د دوی د بې واکه واکمنۍ په څلورنيمو کلونو کې د دوی، د دوی د مخالفينو او بيا د دوی د مؤتلفينو له خوا دومره جنايتونه تر سره شول چې نه يوازې زموږ د ټولنې په تاريخ، بلکې د نړۍ په تاريخ کې به يې ساری ډېر کم وي. پر دې مهال په ټوله افغاني ټولنه کې سخته بې ثباتي رامنځته شوه. نه قانون حاکم و او نه اداره موجوده وه او نه هم چا د چا پوښتنه کولای شوه. په خپله هغه څوک چې ځانونه يې د واکمنۍ رسمي مدعيان ګڼل هغوی خپله تر غوږو تو پورې په جناياتو کې ډوب وو. "د هغو احصائيو له مخې چې د غربي راډيوګانو له خوا نشر ته سپارل شوي په دې څلور کلن ناورين کې څه د پاسه اتيا زره بې ګناه کسان د کابل په ښار کې وژل شوي دي. دا هغه شمېر دی چې نړيوال سره صليب او نورو خيره مؤسسو نشر کړی او تصديق کړی دی."(١) دغه راز نور په زرګونو انسانان چې وژل شوي او چا ته يې پته لګېدلې نه ده، هغه لا له دې حساب څخه بېل دي. په لکونو افغانان له کابل ښار او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېواد نه نورو سیمو نه یوې او بلې سیمې نه مهاجر شوي. په لسګونو زره کورونه ویجاړ او د کابل او ځینو نورو ښارونو عامه شتمني چور او تالان شوه. د هېچا سر او مال مصئون پاتې نه شو. جنسي جرمونه او پېښې، تښتول، زندي کول، وژل، یرغمل کول ورځینۍ پېښې وې.

بېلا بېل جګړه مار قوماندانان دومره خپلواک او یاغي وو چې د هېچا خیال یې هم نه ساته. وایي چې کوم قوماندان د چا مېرمن په زوره تښتولې او ځان سره یې ساتلې وه، د ښځې خاوند برهان الدین رباني ته چې ځان یې "د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئیس" باله او دا قوماندان هم د ده د تنظیم او "دولت" سړی و، عرض وکړ چې ستاسې قوماندان ښځه راخخه بیولې ده. رباني د هغه پر کاغذ ولیکل: "قوماندان صاحب محترم! زن عارض را ایله نمائید! با احترام، پروفیسور برهان الدین ربانی، رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان" کله چې هغه شخص دا عریضه هغه قوماندان ته یوړه نو هغه ورته په ګوته ووهله او ایسته یې ګوزار کړه او ویې ویل: "من برهان الدین ربانی را نمی شناسم" خو برهان الدین رباني بیا هم ځان "د افغانستان جمهور رئیس" ګاڼه او د ښار ورانې، چور او چپاول یې د دښمنانو تبلیغ. تر دې لا نورې زړه بوږنوونکې پېښې هم تر سره شوي دي، یو ځل د نظار شورا ټوپکیانو د کابل ښار پر ښځینه لیونتون یرغل وکړ او څه ښځې چې پکې وې ټولې یې بې عزته کړې. دا خبر زیاترو خبري اژانسونو هماغه وخت خپور کړ، خو د رباني اداري پرې سر و نه ګراوه. په همغو شپو ورځو کې یوه نابالغه نجلۍ د نظار شورا د یو ټوپکي له خوا بې عزته شوه، څو ورځې ژوندۍ وه او په پای کې روغتون کې مړه شوه. په دریېم مکروریانو کې خو د شهیدې ناهیدې داستان ټولو افغانانو ته معلوم دی، چې له شپږم پوړ څخه یې ځان راګوزار کړ، خپل عزت یې وساته او د شهادت جام یې په سر واړاوه، خو د بدلمنی داغ یې په لمنه پرې نه ښود. د همدې مهال د تنظیمي جګړویه ترخ کې خلکو ته دومره بې عزتي او بدلمني ور پېښه شوه چې ژبه او قلم یې له بیان څخه عاجز دي. عجیبه خبره خو دا وه چې د کوم شعار په نامه چې دوی راپورته

شوي وو د هغه پر ضد يې داسې کارونه سرته ورسول چې هغه لا زړه يې هم د خلکو په ذهن کې پيکه کړه! په همدې څلور کلنه دوره کې يوازې د کابل په ښار کې له (۳۰) څخه زيات جامع جوماتونه په توپونو او ډزونو ړنګ او ويشتل شوي او يا ړنګ شوي دي. په دې جوماتونو کې چې کوم فرش او نور لوازم وو هغه هم غلا کړای شوي دي. د کابل پلخښتي په مشهور جومات کې چې فرش ترې وړل شوی و، تقريباً يو کال پکې څوک سجده و نه کړای شوه، ځکه سيمه د ګلبدين او د کوڅه ډبو سپايانو يو ځايله جګړه شوې وه او د جومات په انګړ کې به په ډله ييز ډول کړځېدل را ګرځېدل. د ټولې د مسلمانانو په تاريخ کې هيڅکله هم جومات او د اسلام مقدسو ما ګنو ته دومره په سپکه سترګه نه وو کتل شوي، په دې وخت کې د همدې پلخښتي جومات نه يوازې يو څو کامه وړاندې د رباني او مسعود تر زيري لاندې د شاړده سرائې چې د کابل په ښار کې د بهرنيو اسعارو د اړولو او تبديلو لوی بازار دی، په خپله د مسعود په قومانده چور او د خلکو په لکونو او ميليونونو ډالر لوټ او تالان شول.

د خيرخانې مېنې او د ښار په نورو کومو جوماتونو کې د ښار د بېلا بېلو برخو مهاجرينو پناه واخيسته. يوازې د خيرخانې مېنې په جوماتونو کې په لسګونو ولادتونه تر سره شول، ځيني ماشومان او ميندې تلف شوې، ښوونځي او ځيني کورې دولتي ودانۍ هم پر بې ځايه شويو کډوالو ډکې وې او نور په زرګونو جنايتونه خلک [illegible] تر پوزې راغلي وو، ځينو له مجبوريته او ځينو له انارشۍ نه داسې کارونه کول، چې سړی ورته حيرانېږي. د کابل د قلعه فتح الله په سيمه کې يو چا سهار وختي د جومات په دروازه داسې يو اعلان ليکلی و: "محترمو لمونځ کوونکو! د دې مسجد فرش او نور سامان ما د يو مجبوريت له مخې وړی دی، زه ډېر مجبور شوم، که چېرې زما مجبوريت رفع شو، نو کېدای شي زه به بيا دې مسجد ته فرش واخلم، په احترام."

د رباني په اسلامي(!) نظام کې غربت او فقر دومره اوج ته رسېدلي وو چې د ځينو پر رواني حالت يې هم سخت منفي تاثير کړی و او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی یې له عادي حالت نه کښېلي وو. د کابل په اسمايي واټ کې یو سړي د ګڼو خلکو په منځ کې په زوره زوره دا چغې وهلې: "توبه توبه از این اسلام اینها، کاشکی ما کافر میبودیم، که شکم سیر نان میخوردیم."

د رباني اسلامي نظام(!) د خپلو منفي عملونو په وجه خلك بلې لارې ته متمایل کړل.

که یوازې د کابل په ښار کې د وژل شویو کسانو احصایه په پام کې ونیسو، نو د رباني - مسعود د ادارې په هره ورځ (۶۰-۶۵) افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او تر (۳۰۰) څخه زیات وګړو له ښار څخه کډه کړې ده.

د دې ادارې پر مهال د شویو جنایتونو لست خورا زیات دی، څرنګه چې په دې وخت کې کوم منظم حکومت موجود نه و، نو اکثره پېښې ثبت شوې نه دي. یوازې د کابل ښار د امنیې قوماندانۍ له جنایي جرمونو سره د مبارزې ریاست ځینې هغه پېښې ثبت کړي چې خپله د کابل ښاریانو یا ځینو نورو سرچینو دوی ته مراجعه کړې او دوی بیا هغه په خپل کتاب کې ثبت کړي دي. دلته به له دې کتاب څخه یوازې د یو نیم کال (۱۳۷۲ نیمایي او د ۱۳۷۳) د ځینو پېښو جدول راوړو او په همدې مقایس به نورې پېښې هم محاسبه کړو، دلته یو ځل بیا یادونه کېږي چې په جنایي ریاست کې ثبت شوې پېښې د رباني د وخت د هغو پېښو سلنه (فیصدي) څه چې زرنه هم نه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کابل ښار د اتلس میاشتو (۱۳۷۲نیمایي او د ۱۳۷۳ال کال) د ځینو جنایي پېښو جدول

| ګڼه | د اطلاع اخیستو وخت او نېټه: ساعت | نېټه | ورځ | د پېښې ځای او اړونده حوزه: د پېښې ځای | اړونده حوزه | د پېښې څرنګوالی | متضرر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲-۷-۳ | شنبه | د کابل ولایت د جزا دیوان | د کابل ولایت دننه | غلا | دولت |
| ۲ | د غرمې ۱ بجه | ۱۳۷۲-۷-۳ | شنبه | د قلعه فتح الله څلورلارې | لسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲-۷-٦ | سه شنبه | کارګري قصبه | " | " | " |
| ۴ | " | ۱۳۷۲-۷-۷ | چهارشنبه | د نادرپښتون واټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۵ | د غرمې ۱۱:۵ | " | " | د لسمې امنیتي حوزې ساحه | لسمه امنیتي حوزه | دیوه مړي پیدا کیدل | " |
| ٦ | د سهار ۱۰ | ۱۳۷۲-۷-۱۲ | دوشنبه | مرکزي کتنځی | لومړۍ امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۷ | دوه بجې | ۱۳۷۲-۷-۱۲ | سه شنبه | وکیل کلا | نهمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۸ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲-۷-۲۰ | " | د محمودخان پل | " | دیوه مړي پیدا کیدل | ناڅرګند |
| ۹ | د سهار ۵ بجې | ۱۳۷۲-۷-۲۴ | جمعه | د حاجي یعقوب څلورلارې | څلورمه امنیتي حوزه | وسله واله حمله | شخص |
| ۱۰ | د سهار ۳:۰۹ | ۱۳۷۲-۷-۲۴ | شنبه | دلومړي نمبرافسوتر ریاست | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۱۱ | د مازدیګر ۳ | ۱۳۷۳-۷-۲۸ | چهارشنبه | جمهوریت روغتون | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۱۲ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲-۷-۲۹ | پنجشنبه | وزیر اکبرخان روغتون | لسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | د سهار اته بجې | ۱۳۷۲-۷-۲۲ | پنجشنبه | د پارک کولاني | یوولسمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۴۱ | " | ۱۳۷۲-۸-۳ | دوشنبه | د زرنګار پارک تشنابونه | څلورمه امنیتي حوزه | چاودنه | |
| ۱۵ | ۱۱ بجې او ۴۵ دقیقې | ۱۳۷۲-۸-۱ | شنبه | د تایمنیو د پروژې دویم سرک | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | شخص |
| ۱۶ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲-۸-۸ | شنبه | د جمهوري ریاست جنوب دروازه | دویمه امنیتي حوزه | ټپي کېدنه | شخص |
| ۱۷ | د غرمې ۱۲ بجې | " | " | کابل ښاروالي | دویمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | " |
| ۱۸ | " | ۱۳۷۲-۸-۹ | پنجشنبه | د خیرخانې مینې خواجه بغرا | یوولسمه امنیتي حوزه | وژنه | " |
| ۱۹ | " | " | " | د پلازا هوټل څلور لارې | دویمه امنیتي حوزه | مرینه په خپل مرګ | " |
| ۲۰ | د شپې ۸ بجې | ۱۳۷۲-۱۰-۱۱ | " | تایمنیو د پروژې ۳ سرک | څلورمه امنیتي حوزه | دیوه مړي پیدا کېدل | " |
| ۲۱ | د مازدیګر ۴ بجې | ۱۳۷۲-۸-۱۴ | جمعه | د بنايي پوسته | نهمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۲۲ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲-۸-۱۳ | پنجشنبه | د دریم مکروریان دریم بلاک ۴۵ کور | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۲۳ | ۲ بجې او ۲۰ دقیقې | ۱۳۷۲-۸-۱۶ | یکشنبه | ۹۰ فامیلي | دویمه امنیتي حوزه | " | " |
| ۲۴ | د شپې ۸ بجې | ۱۳۷۲-۸-۲۰-۱۹ | چهارشنبه | پروان مینه | دویمه امنیتي حوزه | وژنه | " |
| ۲۵ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۲-۸-۲۱ | جمعه | پروان مینه | " | غلا | " |
| ۲۶ | د غرمې یوه بجه | ۱۳۷۲-۸-۲۳ | شنبه | د فارسي ریاست | نهمه امنیتي حوزه | " | دولت |
| ۲۷ | د غرمې یوه بجه | ۱۳۷۲-۸-۱۷ | | زاړه مکروریان | | " | شخص |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | د سهار ٦ بجې | ۱۳۷۲-۸-۳ | يکشنبه | خيرخانه مينه | يولسمه امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۲۹ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲-۹-۳ | چهارشنبه | د تايمنيو د پروژې دريم بيرل | خلورمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |
| ۳۰ | ۳ بجې | ۱۳۷۲-۹-۹ | سه شنبه | هوايي بلاکونه | لسمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |
| ۳۱ | دغرمې ۱:۳۰ بجې | ۱۳۷۲-۹-۱ | چهارشنبه | د يکه توت کلي | نهمه امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳۲ | ۹:۵۴ بجې | ۱۳۷۲-۹-۱۲ | جمعه | دريم مکروريان | // | غلا | شخص |
| ۳۳ | د سهار ۹:۰۳ | ۱۳۷۲-۹-۱۹ | " | د خيرخانې مينې خواجه بغرا | لسمه امنيتي حوزه | د يوه مړي پيدا کېدل | ناڅرګنده شخص |
| ۳۴ | د غرمې ۱۲:۳۰ | ۱۳۷۲-۹-۱۹ | دوشنبه | زن آباد | نهمه امنيتي حوزه | غلا | |
| ۳۵ | د مازديګر ۳ بجې | ۱۳۷۲-۹-۲ | چهارشنبه | د دويمې حوزې ساحه | دويمه امنيتي حوزه | مرينه | ناڅرګنده شخص |
| ۳٦ | | ۱۳۷۲-۹-۴ | پنجشنبه | دريم پروان | خلورمه امنيتي حوزه | غلا | |
| ۳۷ | د سهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۲-۱۰-۳ | پنجشنبه | د لومړۍ حوزې ساحه | لومړۍ امنيتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۳۸ | د غرمې يوه بجه | ۱۳۷۲-۲-۲ | چهارشنبه | جمهوريت روغتون | دريمه امنيتي حوزه | وژنه | ناڅرګند شخص |
| ۳۹ | ۱۱ او ۳۰ دقيقې | ۱۳۷۲-۱۰-۲۴ | جمعه | تهيه مسکن | خلورمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |
| ۴۰ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۱ | جمعه | ده افغانان | دويمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |
| ۴۱ | د سهار ۹:۳۰ | ۱۳۷۲-۱۱-۲ | | وزير اکبرخان مينه | لسمه امنيتي حوزه | غلا | ملکي ملتونه |
| ۴۲ | د سهار بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۹ | شنبه | د افغانان نوآباد | دويمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | ۱۱بجې او۳۰دقیقې | ۱۳۷۲-۱۱-۱۴ | پنجشنبه | د تور جوړولو کوټه | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۴۴ | " | " | | ده افغانان- دپوهنې وزارت شاته | " | غلا | " |
| ۴۵ | دمازیګر۳:۳۰ بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۲۵ | | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | وژنه | " |
| ۴۶ | د سهار ۶:۳۰ بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۲۸ | پنجشنبه | د طره بازخان څلورلارې | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۴۷ | د سهار ۷ بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۲۸ | جمعه | د خیرخانې مینې دویمه حصه | پوولسمه امنیتي حوزه | وژنه | " |
| ۴۸ | د سهار ۶:۳۰ بجې | ۱۳۷۲-۱۱-۲۷ | چهارشنبه | تهیه مسکن | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۴۹ | | ۱۳۷۲-۱۲-۲۵ | | د ملي امنیت روغتون | " | " | دولت |
| ۵۰ | د غرمې یوه بجه | ۱۳۷۳-۱-۷ | یکشنبه | د حاجي عزیز سرای | څلورمه امنیتي حوزه | " | شخص |
| ۵۱ | د شپې دوه بجې | ۱۳۷۳-۱-۲-۱۱۹ | | د پروان مینې لومړی برخه | " | غلا او وژنه | شخص |
| ۵۲ | د غرمې دوه بجې | ۱۳۷۳-۱-۹ | چهارشنبه | دبهارستان سینما شاته | دویمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۵۳ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳-۲-۸ | | ۹۰ فامیلي | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | " |
| ۵۴ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳-۲-۱۹ | دوشنبه | جمهوریت روغتون | د یوه مړي پیدا کېدل | غلا | ناڅرګند شخص |
| ۵۵ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳-۲-۲۵ | یکشنبه | د پنځه سوه فامیلي خنیز سیمه | پوولسمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | شخص |
| ۵۶ | ۱۱ بجې | ۱۳۷۳-۳-۴ | چهارشنبه | د پولیسو کوپراتیف | څلورمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۵۷ | د غرمې یوه بجه | ۱۳۷۳-۲-۲۹ | | دولایت دنظارتخانې په دننه کې | د کابل ولایت قوماندانۍ | له بند نه تېښته او بیا نیونه | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵۸ | دسهار ۸ بجې | ۱۳۷۳-۲-۲۹ | | د کابل امنیه قوماندانۍ قرارګاه | د کابل ولایت | غلا | شخص |
| ۵۹ | د غرمې ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-۳-۱۱ | چارشنبه | د ده افغانانو مارکيټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ٦۰ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳-۴-۲ | پنجشنبه | د ارزاقو ریاست | | " | " |
| ٦۱ | د سهار ۴ بجې | ۱۳۷۳-۴-٦ | دوشنبه | د اریانا کارنه عمومي سړك | څلورمه امنیتي حوزه | چاودنه | دولت |
| ٦۲ | د مازیګر ۳:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۴- | " | جوی شیر | دویمه امنیتي حوزه | چاودنه | ناڅرګند |
| ٦۳ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۲-۴-۱۰ | " | ده افغانان | دویمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | د ۴ کسانو وژنه |
| ٦۴ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳-۴-۱۸ | شنبه | تایمني واټ | څلورمه امنیتي حوزه | دیوه مړي پیدا کېدل | شخص |
| ٦۵ | د مازیګر ۳ بجې | ۱۳۷۳-۴-۲۰ | دوشنبه | حمام | لومړی امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ٦٦ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۴-۴-۲۱ | سه شنبه | پروان مېنه | دویمه امنیتي حوزه | د ۸ کورونو غلا | شخص |
| ٦۷ | " | " | " | تایمني واټ | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ٦۸ | " | " | سه شنبه | کارګري قصبه | لسمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ٦۹ | د سهار ۸:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۴-۲۷ | سه شنب | کلوله پشته | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | اشخاص |
| ۷۰ | د مازیګر ٦:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۴-۳۱ | جمعه | قلعه فتح الله | لسمه امنیتي حوزه | ټپي کېدنه | شخص |
| ۷۱ | مازیګر ۳ بجې | ۱۳۷۳-۵-۳ | دوشنبه | د خیرخانې مېنې لومړی برخه | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | " |
| ۷۲ | ۱۰ بجې | ۱۳۷۳-۵-۴ | سه شنبه | اسمایي واټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | " |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷۳ | | ۱۳۷۳-۵-۱۴ | جمعه | د منرو پول سرای | دویمه امنیتي حوزه | غلا | د ۱۵ کانونو غلا |
| ۷۴ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۳-۵-۱۹ | چهارشنبه | د زرنګار پارک | // | د یو مري پيدا کېدل | شخص |
| ۷۵ | | ۱۳۷۳-۵-۲۲ | شنبه | د کابل مندوي | لومړی امنیتي حوزه | اور لګېدنه | |
| ۷٦ | | " | " | سالنګ واټ | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۷۷ | د سهار ۹:۳۰ | " | " | خیرخانه مینه | پوولسمه امنیتي حوزه | اورلګېدنه | مرکزي سنالک دولت |
| ۷۸ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳-۵-۲۳ | یکشنبه | دامنیت دمدیریت د نوکریوالی دفتر | امنیه قوماندانی | غلا | شخص |
| ۷۹ | د سهار ٦ بجې | ۱۳۷۳-۵-۲۵ | سه شنبه | خیرخانه جبې غاړه | پوولسمه امنیتي حوزه | وژنه او ټپي کېدنه | شخص |
| ۸۰ | د سهاار ۹:۳۰ | ۱۳۷۳-۵-۳۱ | دوشنبه | نیمور شاهي | لومړی امنیتي حوزه | اور لګېدنه | دولت |
| ۸۱ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۳-٦-۱ | سه شنبه | پنجشیر واټ | څلورمه امنیتي حوزه | اور لګېدنه او مړینه | شخص |
| ۸۲ | | ۱۳۷۳-٦-۲ | چهارشنبه | زاړه مخابراتو ریاست | // | د مري پيدا کېدل | شخص |
| ۸۳ | | ۱۳۷۳-٦-٦۱۷ | سه شنبه | د پروان کارنه دویمه برخه | لومړی امنیتي حوزه | غلا | اشخاص |
| ۸۴ | د شپې ۹:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-٦-۷ | | د کابل ولایت په خونه | څلورمه امنیتي حوزه | د مري پيدا کېدل | شخص |
| ۸۵ | | ۱۳۷۳-٦-۸ | سه شنبه | د کابل ولایت په خونه | دویمه امنیتي حوزه | غلا | دولت |
| ۸٦ | د غرمې ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-٦-۸ | سه شنبه | د مخابراتو وزارت | // | غلا | دولت |
| ۸۷ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۳-٦-۲ | پنجشنبه | د کابل د امنیې قوماندانی غولی | | غلا | شخص |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸۸ | د غرمي ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-٦-۸ | شنبه | د سرې مياشتې روغتون | دويمه امنيتي حوزه | غلا | دولت |
| ۸۹ | د مازيګر ۳ بجې | ۱۳۷۳-٦-۱۳ | يکشنبه | | " | " | " |
| ۹۰ | د سهار ۸ بجې | ۱۳۷۲-٦-۲۵ | جمعه | د زرنګار پارك | " | " | شخص |
| ۹۱ | د غرمي ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-۷-۷ | شنبه | | لسمه امنيتي حوزه | غلا او وژنه | " |
| ۹۲ | د غرمي ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-۷-۴ | دوشنبه | د ملګروملتو مېلستون | خلورمه امنيتي حوزه | غلا او وژنه | ملګري ملتونه |
| ۹۳ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳-۷-۷ | پنجشنبه | د مريمې ليسې شاته | خلورمه امنيتي حوزه | غلا او وژنه | ناڅرګند |
| ۹۴ | | ۱۳۷۳-۷-۱۱ | | | لسمه امنيتي حوزه | ديوه مري پيدا کېدل | |
| ۹۵ | د غرمي ۱ بجه | ۱۳۷۳-۷-۱٦ | شنبه | د خيرخانې مېنې لومړۍ برخه | يوولسمه امنيتي حوزه | د وسلې غلا | شخص |
| ۹٦ | د ماښام ۵:۴۵ | ۱۳۷۳-۱۱-۱۷ | | اريانا کارته | دويمه امنيتي حوزه | وژنه | |
| ۹۷ | د سهار ۹:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۷-۱۹ | سه شنبه | داريانا خارجي ټکټ خرخول | | غلا | د اريانا ټکټ |
| ۹۸ | د سهار لس بجې | ۱۳۷۳-۷-۲۵ | دوشنبه | هوالوردي | لسمه امنيتي حوزه | | دولت |
| ۹۹ | | ۱۳۷۳-۷-۳۰ | | چهارقلعه وزير آباد ـ | | ديوه مري پيدا کېدل | ناڅرګند شخص |
| ۱۰۰ | د سهار ۷:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۸-۱ | | ده افغانان | دويمه امنيتي حوزه | غلا | شخص |
| ۱۰۱ | د غرمي ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-۸-۱ | يکشنبه | د نجارانو کلا- خيرخانه | يوولسمه امنيتي حوزه | غلا | " |
| ۱۰۲ | د سهار ۱۰ بجې | ۱۳۷۳-۸-٦ | جمعه | ده افغانان | دويمه امنيتي حوزه | | " |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۳ | د غرمي ۱۲ بجې | ۱۳۷۳-۸-۱۷ | سه شنبه | د خیرخانې مینې نوې پروژه | یوولسمه امنیتي حوزه | غلا | شخص |
| ۱۰۴ | د سهار ۸:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۸-۲۰ | جمعه | امین مارکېټ | دویمه امنیتي حوزه | غلا | |
| ۱۰۵ | د سهار ۹ بجې | ۱۳۷۳-۸-۲۲ | یکشنبه | جوی شیر | | | |
| ۱۰٦ | دغرمې ۱:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۸-۲۳ | دوشنبه | د افغانستان بانک ډیپو | | | شخص |
| ۱۰۷ | د سهار لس بجې | ۱۳۷۳-۸-۲٦ | پنجشنبه | د مامورینو کارته | پنځمه امنیتي حوزه | وژنه | شخص |
| ۱۰۸ | د مازیګر ۳ بجې | " | | د ترکارېو مارکېټ | دویمه امنیتي حوزه | درې وژنې | شخص |
| ۱۰۹ | د سهار لس بجې | ۱۳۷۳-۸-۲۴ | سه شنبه | بره کې ساحې نه بنکته | څلورمه امنیتي حوزه | وژنه | |
| ۱۱۰ | د سهار ۴:۳۰ بجې | ۱۳۷۳-۸-۲۵ | چهارشنبه | دولتي انحصاراتو ریاست | " | غلا | دولت |

(۲)

**اخخونه:**

۱) پوهنیار محمدنبي فراهي، هیله مجله، ۱۳۷٦ ل کال، ۲ ګنه، ٦۲مخ.
۲) // // // //. ٦۳-٦۸مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قومي، سیمه ییزه او ژبنۍ کینه

کله چې رباني - مسعود او د هغوی ائتلافي اندېوالان د یو نړیوال سازښت او کورنۍ توطئې له مخې کابل ته راو رسول شول، نو دوی د سختې ژبنۍ، سیمه ییزې او قومي کینې پر آس سواره وو. راتلونکي ته یې نه کتل، هرې خوا ته یې د کینې اورونه شنیدل. مسعود خو د ائتلاف له همغې لومړۍ ورځې خپل سیمه ییز، ژبنی او قومي تعصب په ډاګه کړ. کله چې دا ائتلافیون په کابل کې د ترینګلي واك پر ګدۍ کېناستل، نو هر چا د خپلې ډلې او سیمې ځینې وګړي ځان پسې کړل او د چور او تالان په لوی بهیر کې یې په ګډه ونډه واخیسته. په دولتي، علمي او فرهنګي ادارو کې داسې کسان وګمارل شول چې نه یوازې له دې کارونو سره اشنا او بلد نه وو، بلکې د دې کارونو ضد هم وو.

دوی د پخوانیو مامورینو او دولتي کار کوونکیو هغه شمېر هم له ځان سره ملګري کړل چې له ژبني، سیمه ییز او قومي پلوه یې له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره اړیکي لرل. د دې دولتي مامورینو د ملګرتیا یوه وجه خو دا وه چې دوی هم له پخوا نه په ژبني او سیمه ییزه روحیه روزل شوي وو، او داسې یوې موقعې ته په انتظار وو. بله وجه یې دا وه چې دې مامورینو ته د دوی له ظرفیت، مسلکي مهارت او استعداد څخه لوړې څوکۍ ورکړای شوې او بل مهم عامل دا و چې ټول د چور او تالان په کار کې سره ګډ وو. پخوانیو دولتي مامورینو د خپل ژبني او سیمه ییز پیوستون له امله لا په اداري چارو کې د نویو راغلیو واکمنو نااشنایي او نه وړتیا د دوی ټولو لپاره د ګډ کار حوصله او ګوزاره برابره کړې وه. ورو ورو د دې اداري په بطن کې داسې یو ملي ضد او افغان ضد جوړښت سر راپورته کاوه چې ټولو ملي او افغني ارزښتونو ته یې په سپکه کتل.

سره له دې چې په دې وخت کې ښوونځي او نورو تحصیلي مرکزونه دومره فعال نه وو، خو بیا هم کومو چې په نیمه ډول فعالیت کاوه په هغو کې د داسې افکارو د تدریس هڅه کېدله چې افغان ضد او افغانستان ضد روحیه یې لرله. په ښوونځیو او د زده کړې په نورو مرکزونو کې زیاته هڅه کېدله چې تاریخ تحریف او زده کوونکو ته داسې څه و ترزیق کړي چې د خپل هېواد او د هغه تاریخ په وړاندې یا د حساسیت او ضد لاره ونیسي او یا هم بې تفاوته پاتې شي. د دوی دا هڅې د افغانستان د معاصر تاریخ او د هغه څلانده ستورو ته زیاتې متوجه وې. دوی دا دوره "دوره استبداد، استعمار و اپارتاید" په نامه یادوله. سره له دې چې په رسمي ډول په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې څه بدلون نه و راغلی او نه دوی دومره وخت، امکانات او نورې اسانتیاوې لرلې چې دوی دې په رسمي ډول د زده کړې په نصاب کې په خپله خوښه بدلون راولي.

دوی د تاریخ د تدریس یو شمېر نوي ښوونکي چې د دوی ډلو او افکارو ته منسوب وو، د دې کار لپاره ګمارلي وو، هغوی د خپلو نویو نوټونو له لارې دا کارونه تر سره کول. د بېلګې په توګه به د کابل پوهنتون یاد کړو. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د افغانستان د معاصر تاریخ درس یو وخت د رباني د اداري د کابل ښاروال پر غاړه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا شخص چې نه يې په تاريخ کې څه تخصص لاره، نه يې څه نور منظم تعليم کړی و، هسې به پوهنتون ته د تفنن، ځان ښودنې او د خپل همدغه سياسي غرض لپاره راته. ده به په نوي دقيقې درسي ساعت کې لومړی دېرش دقيقې د "خپل اسلامي دولت"! په ستاينه تېر وه، دېرش دقيقې به يې د احمد شاه بابا، غازي امان الله خان او امير عبد الرحمن خان په غندنه او پاتې دېرش دقيقې به يې پر خپل نوي لکچرنوټ او پر څه نورو خبرو تېروه! د احمد شاه بابا په وړاندې يې ټيك همغه شان دريځ درلود، لکه ځيني متعصب تنگنظره هندوان يې چې لري او په کورني. کچه يې د احمد شاه بابا په باب ويل چې "او حقوق ديگر مليت های اين سرزمين را در نظر نه گرفتند، نام اين خطه را افغانستان نهادند علاوتاً بعضی زمين های زراعتی مردم سمت شمال را به اعضای قبيله خويش توزيع کردند." د امير عبد الرحمن خان په باب يې ويل: "او يك شخص فاشيست، ديکتاتور و ظالم بود، که اکثريت مليت های محروم افغانستان به طور اخص مليت ستمديده هزاره را قل و قم ساخت و زمين های آنها را غصب و به قبايل مربوط خويش تقسيم کرد، مليت های ستمديده و محروم ما هيچوقت استبداد و ديکتاتوری تك مليتی اين امير خون شام را از ياد برده نيمتوانند." د غازي امان الله خان په باب به يې ويل: "او يك شخص عياش و بزدل بود و در بسا موارد با انگليسها در تماس بودند. مملکت ما را به سوی عياشی کشانيد، نظام تك مليتی نيز در اين زمان دوام پيدا کرد، بالاخره مردم شمال به رهبری حبيب الله خادم دين رسول الله عليه ـــ او قيام کردند و او را از پا در اورد و هسته يك نظام ملی و اسلامی را در افغانستان بميان آورد." يوه عجيبه خبره لا بله پکې دا وه چې همدې "ښاروال استاد" محصلينو ته د درس په وخت کې دا خبره هم د درس د يوې ضمني موضوع په توگه ياده کړې وه چې "په افغانستان کې حفيظ الله مين (۳۰) زره کسان وژلي، په دې دېرشو زرو کې له ۲۵زرو څخه ۲۷ زرو پورې د نورو مليتونو او يوازې درې زره پښتانه وو."

په همدې پوهنتون کې يو بل تن چې هغه ته هم د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر تاریخ د تدریس دنده ورکړ شوې وه، تر ده هم څو ګامه دمخه تللی و، خپل نوټ یې داسې جوړ کړی و چې په ښکاره یې افغانستان، احمد شاه بابا او د هېواد د معاصر تاریخ نورو څېرو ته پکې سپکاوی کړی و. همدې "استاد" د انجینرۍ پوهنځي او ځینو نورو پوهنځیو محصلینو ته په ازمونینه کې داسې پوښتنې راوړې وې: "چرا احمد شاه از تاجکها باج میگرفتند و از پشتونها نې؟ در مورد جنایات احمد شاه معلومات ارایه دهید؟ در مورد فقر فرهنگی، عقب گرایی و خصلت قبله یی دوران حاکمیت احمد شاه معلومات ارائیه نمائید؟ لشکرکشی ها و تهاجمات احمد شاه علیه کشوره همسایه بر کشور ما چقدر زیان اور بود."(۱) او داسې نور ډېرې پوښتنې. دا خو په کابل پوهنتون کې دا حال و، په مزار شریف، هرات، تخار او ځینو نورو ولایتونو کې خبره له دې هم سخته او بتره وه، په تعلیمي موسسو کې ګمارل شوي اشخاص خو لا څه کوې چې خپله د دې ملي ضد ائتلاف اکثره مشرانو هم په لیکنۍ او ګړنۍ بڼه په ډېرې سپین سترګۍ سره دې مسایلو ته لمن وهله، د شیعه ګانو د حرکت اسلامي مشر محمد آصف محسني چې یو وخت د رباني د اسلامي دولت لومړی وياند و، د ده په خپل اخبار {پیام جهاد، ۱۵۲مه ګڼه} کې چې د ۱۳۷۵ل کال د ثور پر ۹مه نېټه خپره شوې ده، د "تاملی بر فرازهای از پیام سرنوشت ساز رهبری عالیقدر حرکت اسلامي افغانستان حضرت ایت الله العظمی محسنی" تر سرلیك لاندې د ده په نامه یو مطلب خپور کړی دی. په دې لیکنه کې راغلي دي: "زبان پشتو که گوینده گان ان یك سوم جمعیت کشور را تشکیل میدهد بر دو ثلث کشور که بفارسی تکلم میکند در مکاتب جبراً اموزش داده میشود و به حیث زبان اولی رسمی کشور قد علم میکند. ادارات دولتی و اخصاً مقامات عالیه کشوری و لشکری در انحصار اقوام چنین زی و چنان زی است و هیچکس دیگر حق ندارد، حتی استعداد طبیعی و فطری شان مهمل گذاشته میشود تا در ادارات راه پیدا نکنند. در عرصه فرهنگی نیز تعصبات ناروا و احمقانه اعمال گردیده است، و تمام امتیازات از قوم خاص و منطقه خاص بوده است. در ننگرهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاکولتهٔ طب ایجاد میشود ولي در بدخشان کورس وترنری هم راه انداز نمیگردد! مکاتب لیلیه، شفاخانه ها و کلینك های انسانی و حیوانی و تمام امتیازات سیاسی و اجتماعی و فرهنگی بنام خطهٔ جنوب و جنوب شرق کشور تمام شده و تمام ساحات دیگر باید فراموشی سپرده میشود. تمام شهرهای جنوب و جنوب شرق با اعمار سرکهای پخته و خامه بهمدیگر وصل میشوند ولی از مناطق مرکزی کشور یك وجب سرك خامه هم نمیگذرد.. در شهر خوست خوبترین ساختمانها اعمار میگردد ولی در غور و فاریاب دوای درد دندان پیدا نمیشود...

در مورد تراکم جمعیت نیز همین گونه بیعدالتي جود دارد، ولایت لوگر با جمعیت در حدود یکصد و شصت هزار نفر با تشکیل واحد اداری اولیه صاحب امتیاز است و منطقه جاغوری در ولایت غزنی با جمعیت حدود یکصد و پنجاه هزار نفر عنوان واحد دوم اداری ازخود کرده است."(۲)

د رباني د اداري او د هغه د اندیوالانو اکثر اخبارونه او خپروني که د هېواد دننه وي که بهر کې، د زیاتو فکري تګلوری منفي و. د "فتح" په نامه د هغوی یوه جریده چې په پېښور کې یې خپروني کولې، د نورو ستمي خپرونو په شان لوی احمدشاه بابا ته یې د یو یرغلګر خطاب وکړ. دا کار یې د دې لپاره وکړ چې متعصب هندوان خوشحاله کړي. دوی ان دا هم وویل چې له روسانو ته چې افغانستان یې اشغال کړی و، یرغلګر ویل کېږي نو احمد شاه ته هم باید یرغلګر وویل شي، ځکه چې ده هم هندوستان اشغال کړی و."

د رباني زیاتې خپروني په فارسي ژبه وې او اکثره ملي ضد ډلې ټپلې پرې واکمنې وې، د صبح امید، پیام جهاد، پیام شهدا، قدس، بالاحصار، کابل، نامه فرهنګ، فریاد عصر، مجاهد، فرهنګ او په نورو نومونو په کابل کې خپروني کېدلې چې اکثره یې په فارسي ژبه وې. د پښتو ونډه یا په کې په مطلق ډول نه وه او یا هم ډېره لږه، ناسمه او نامعیاري پښتو. راډیو تلویزیون کې هم همدا حال و. پښتو خپروني او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروګرامونه او ان د پښتو نومونې او کليشې يې بدلې کړې، سيمه ييز، قومي او ژبني تعصب ته پکې لمن وهل کېدله.
په بهر کې هغه خپرونې چې د رباني - مسعود د ادارې له خوا او يا د دوی په ګټه د ايراني چارواکو په مرسته د ستم،جمعيت او نورو ملي ضد ډلو ټپلو له خوا تر سره کېدلې، هغه هم له خپلو کورنيو انډيوالانو څخه شا ته پاتې نه وې. په امريکا کې د ستميانو (اميد) چې د ايران په ډاګيز مادي ملاتړ او امکاناتو افغاني ضد خپرونې کوي، تر ټولو زياتې سپکې سپورې خپروي، د دوی خپرونې نه يوازې دا چې ملي ضد ليکنې خپروي، بلکې اخلاقي، ژبنی خوا او د قلم عفت هم په پام کې نه نيسي. دوی هغه څه خپروي چې د چا خبره لمر په دوو ګوتو پټوي. اکثره متصعب او افغان ضد عناصر دا ډول هڅې تر سره کوي.
مثلاً دوی ليکي: "در کشور ما اقليتها همواره از طرف يك گروه ممتاز مورد اهانت قرار گرفته و به انها کمترين حقوق قايل واز بسا حقوقو مدنی، طبيعی و حتی حق قانونی شان محروم ساخته شده اند."(۳)
"اکثر طبقه حکام در دو صد و پنجاه سال اخير هيچ وقت جز پر کردن جيب و افزدون زوجات و اندرها غم ديگر نداشتند و جز همين هنری نداشتند."(۴)
"چون برادران پشتون ما بالفطره و بطور مادرزاد از خدمت معاف و مستثنی بودند و انرا برای خود ننگ و عار تلقی ميکردند... بناءً پشتون بودن، طالب بودن و افغان بودن يك دروغ سه مجهوله است."(۵)
او داسې نورې ګڼې بېلګې.
د رباني افغان ضد ادارې به چې کله په کابل کې څو ورځې لړ دمه راسته کړه، نو بيا به يې افغان ضد تبليغات او کمپاين ګړندي کړل. د دوی يوه ملي ضد هڅه هم په افغانستان کې د ملي نومونې (ترمينالوژی) رنګول وو، دوی کوښښ کاوه چې په دولتي او علمي کچه چې په پښتو ژبه کوم نومونه ايښودل شوي وو او د ټول ملت په سطحه منل شوي وو، هغه بدل او پر ځای يې فارسي او هغه هم د ايرانی فارسي نومونه کېږدي. دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایراني فارسي ترويج لپاره دومره هڅې کولې چې ان ایران هم دومره ګړندی پر مخ نه دی تللی. دوی له ایراني جوړښت او دوډ سره سره ځینې فرهنګي ټولنې هم جوړې کړې لکه "بنیاد فرهنګ، بنیاد فرهنګ غزالي، بنیاد فرهنګ اردو..." ستمي ډلو ټپلو چې مسعود او رباني ټول ورسره په یوه ملي ضد خم کې رنګېدلي وو، یو ځل هڅه وکړه چې د کابل ښار د ځینو سیمو نومونه واړوي او پر ځای یې ایراني نومونه کېږدي. دوی د کابل ښار : پښتونستان واټ لپاره د (خیابان فردوسي) نومونه، د کابل د طب نستیتیوت لپاره "دانشسرای پزشکی" د کابل پوهنتون لپاره "دانشګاه کابل"، د پوهنځي لپاره "دانشکده" د راډیو تلویزیون لپاره "صدا و سیمای ولت اسلامي افغانستان" او ځینې نورې نومونې انتخاب کړې وې، خو د عملي کېدو امکان یې پیدا نه شو. یوازې د اطلاعاتو او کلتور وزارت لوحه یې په "وزارت اطلاعات و فرهنګ" بدله کړې وه.

په دې کار کې د کابل پوهنتون ځینې پنجشیري ستمي استادان، ډاکټر عبدالرحمن، "د ملکي هوایي چلند وزیر" د راډیو تلویزیون رئیس شمس الحق اریانفر چې په ایراني فارسي خورا مین و او ځینې نور ګروپونه او اشخاص شامل وو. خپله رباني هم له چا نه شا ته پاتې نه شو؛ هغه هم کابل پوهنتون ته "دانشګاه کابل" نومونه په رسمي مکتوب کې کارولې وه.

په پوهنتون کې دا مکتوب په دې بڼه موجود دی، "تقرر دوکتور محمد افضل بنوال به حیث معاون علمی دانشګاه کابل منظور است. با احترام، پروفیسور برهان الدین رباني رئیس جمهور افغانستان، ۱۳۷۲/۳۰/۳ل}(٦)

د رباني او نور ستمیانو له هیلو او هڅو سره سره دوی په کابل پوهنتون کې په دې بریالي نه شول چې دا پردی لفظ یا رسمیاتو ته داخل کړي او یا یې پر چا ومني، خو په بلخ او هرات کې بیا دوی ان دپلومونو کې هم دا پردی نوم داخل کړ. پخوا به دپلومونه په پښتو او انګلیسي ژبو چاپېدل، خو دوی پښتو له منځه یوړه او پر ځای یې په فارسي ژبه دپلومونه چاپ کړل. د دې ډول دپلوم متن به وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارت تحصیلات عالی و مسلکی
دانشگاه بلخ
سند فراغت

محترم..... فرزند... متولد سال... در سال... شامل دانشکده طب دانشگاه بلخ گردیده و در سال.... رشته طب عمومی این دانشکده را بوسیله ماستر موفقانه به پایان رسانیده است. سند هذا به وی تفویض گردید تا از حقوقها و امتیاز آن مستفید گردد.

رئیس دانشکده رئیس دانشگاه مزار شریف(۷)

دوی غوښتل چې د کابل پوهنتون دپلومونو لپاره هم همدغه متن وکاروي، خو دلته ژور عکس العمل وښودل شو، خو بیا یې هم په دپلوم کې څو ځایه لکه "دولت اسلامي افغانستان، شماره‌ثبت"، فارسي ور ځای کړه.

د رباني په اداره کې له پښتو ژبې او پښتنو سره دومره حساسیت و، چې ده ان په خپله ټوله اداره کې داسې د کار پښتون وه زغمه چې هغه دې د خپل قوم او ژبې استازولي وکړای شي. یانې دا اداره چې دوی "دولت اسلامی" باله د یو قوم او یوې ژبې اداره وه. دا خبره هغه وخت ښه په ډاګه او د رباني ملي ضد او پښتون ضد څېره هغه وخت ښه پسې څرګنده شوه چې د ده د ادارې یو لوړ رتبه هیئت پاکستان ته سفر وکړ، کله چې د پاکستان او د رباني د ادارې استازي سره خبرو ته کېناستل، نو "د کابل حکومت وفد د پاکستان جمهور رئیس فاروق لغاري سره په پښتو ژبه خبرې و نه کړی شوې، هغه مهال پاکستاني او افغاني خپرونو ولیکل چې فاروق لغاري په صدارتي محل کې افغان وفد ته هرکلی وویلو نو ور نه یې وغوښتل چې په کومې پښتو، اردو، یا انګلیش ژبې درسره خبرې وکړم. افغان وفد ورنه خواهش وکړ چې خبرې باید په انګلیسي کې وي او ویې ویل چې زموږ د وفد ټول غړي په پښتو نه پوهېږي. دلته د یادنې وړ ده چې د پاکستان د جمهور رئیس فاروق لغاري مور پښتنه ده، نو په دې اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومورې ښه روانه پښتو ویلی شي.(۸)

کله چې پاکستانیانو په انګریزي کې خبرې پیل کړې، نو دوی په انګریزي هم نه پوهېدل، خبره بېخي مسخرې ته ووته. هغه څوک چې د خپل هېواد له ملي ژبې نه خبر نه وي، هغه به نو څه په یو بل هېواد کې د خپل هېواد استازولي وکړای شي؟

د دوی افغان ضد بوه بله بېلګه دا ده چې دوی کله "ملي سرود" جوړوه، نو هغه یې هم داسې شعر انتخاب کړ چې په هغه کې (افغان) یاد شوی نه وي. ملي سرود په هر هېواد کې د هغه هېواد په ملي ژبه وي نه په دویمه یا درېیمه ژبه. وګورئ د رباني د رژیم ملي سرود:

قـلـعـه اسـلام قـلـب اسـیـا
جـــاودان، آزاد خـــاك اریـــا
زاده گـــاه قـهـرمـــان بـــزرگ
سنـگـر زنـــده مـــردان خـدا

الله اکبر الله اکبر

تیغ ایمـانش بـه میـدان جهاد
بنـد استبداد را از هسم گسست
ملـت آزاده ای افـغـانـســـتـان
درجهان زنجیرمحکومان شکست

الله اکبر الله اکبر

در خـط قـرآن نظـام مـا بـود
پـرچـم ایـمـان بـه بـام ما بودم
هم صـدا و همـنـوا هـــم وا
وحـدت ملـی مـرام مـا بـود

الله اکبر الله اکبر

شـــاد زی ازاد زی ابـــاد زی
ای وطـن در نـور قـانون خدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشعل ازادگی را فراز
مردم برگشت شو رهنما
الله اکبر الله اکبر(۹)

رباني او مسعود په خپل قومي او د ځان غوښتنې په هوسونو کې دومره ډوب و چې ان عقیدوي خواوو او آرونو ته یې هم ارزښت نه ورکاوه او له وخت لوېدلي شیان یې ګڼل. یو وخت د ځینو جهادي مشرانو له خوا پر رباني او مسعود فشار راوړل شو چې جنرال بابه جان او ځینې نور کمونستان باید له لوړو څوکیو لرې کړي، رباني پر دې دوو لومو کې ګیر و، یو خوا د ځینو جهادي مشرانو ټینګار او بلخوا د خپلو کمونستي-ستمي ملګرو خپګان. یوه ورځ یې بابه جان او ځینو نورو کمونیستو ستمیانو ته وویل چې: "شما تشویش نکنید، حالا عقاید شکست خورده، فعلاً بازار قومیت گرم است." نو په دې وجه یې د بابه جان زړه ډاډه کړ چې "استاد" خو له ما هم ذوه ګامه وړاندې دی. مسعود د باګرام په هوایي ډګر کې یوه ورځ چا ته ویلي وو: "اگر پیغامبر هم از طرف جنوب به کابل بیائید من آنرا قبول ندارم." دې به ویل: "ما اینطور کابل را میخواهیم که کسی دروازه خانه تك تك کنید، کسی نه گویند که څوك یې".
رباني - مسعود د همدغو قومي تنګنظریو او تعصب له کبله په دې فکر کې شول چې کابل باید تول خپل کړي، رباني د بدخشانیانو لپاره په ښار کې دننه د ځمکو تر څنګ د ده سبز دښته په پام کې نیولې وه چې پر هغوی یې وویشي او مسعود د چتملي دښته چې پر پنجشېریانو او نورو سیمه والو یې ووېشي. د رباني طرح په هغه وخت کې د ده سبز د خلکو له مقاومت سره مخامخ شوه او د مسعود طرح له کابل نه له تښتې سره سمه ناکامه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخځونه:

۱) د ۱۳۷۰ ل کال په لومړي سمستر کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو او انجنیرۍ د پوهنځي د محصلینو څرګندونې.

۲) محمد آصف محسني، "پیام جهاد" جریده، د "حرکت اسلامی" خپرنی ارګان، پرله پسې ګڼه ۱۵۲، د ۱۳۷۵ کال د ثور ۹ مې نېټې ګڼه.

۳) عبد الرحمن پیمان، امید جریده، د امریکا متحده ایالات ۲۰۹ مه ګڼه، ۲ مخ.

۴) غلام حضرت کوشان، امید جریده، ۲۱۰ ګڼه، ٦ مخ.

۵) عبدالله سمندر غوریانی، امید جریده، ۱۹۵ ګڼه.

٦) د پوهنتون د تحریراتو څانګه، دا مکتوب په عام محضر کې د پوهنتون د هغه وخت رئیس له خوا د رباني د فرمان په توګه واورول شو.

۷) د محمد ظاهردزوی . محمد شفیق په نوم ثبت شوی ۲۵۳ نمبر دپلوم.

۸) وحدت ورځپانه، پېښور، د ۱۹۹٦کال داګست ۱۳مه نېټه.

۹) د راډیو افغانستان ارشیف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زيانونه



د طلا تپې له اثارو څخه

کله چې مسعود او رباني د ائتلافونو، سازشونو، توطيو، د ايران، روسيې، پاکستان، فرانسې او ځينو نورو هېوادونو د استخباراتي هلو ځلو او ګډ تفاهم په نتيجه کې کابل ته رادننه کړای شول، نو دې سره سره د ټول هېواد په لويو ښارونو او په تېره بيا په کابل کې دولتي نظام، امنيتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جورښت او ټولنيز ثبات ګډوډ شو. د دې ګډوډۍ په پايله کې ټولنې ته د نورو زيانونو تر څنګ درانه فرهنګي زيانونه هم واړول شول. د نورو جګړمارانو تر څنګ خپله د رباني او مسعود جګړه مارو هم د فرهنګي مرکزونو او بنسټونو په ويجاړۍ، تباهۍ، چور او تالان کې تر هر چا زياته ونډه واخيسته. خپله د رباني د ادارې د يو تن مسوول په وينا يوازې د ۱۳۷۱ل کال د ثور په مياشت کې راډيو ټلوېزيون ته پنځه لس مېليونه ډالره زيان اړول شوی دی.(۱)

وروسته بيا په متواتر ډول راډيو او ټلوېزيون ته زيانونه واړول شول چې ټول زيان يې له درې سوه مېليونه ډالرو څخه هم واوښت. د رباني په اداره کې د راډيو ټلوېزيون عمومي رئيس شمس الحق اريانفر د دې زيانونو په باب داسې ويلي دي: "د مرکز د ټلوېزيون د اورېدنې او ليدنې يوازينۍ دستګاه تخريب شوې او له منځه وړل شوې چې له لس مېليونو ډالرو زيات زيان دی. د راډيو د لېږدونې شپږ دستګاوې کاملاً له منځه وړل شوي چې دا له (۳۰) مېليونو ډالرو زيات زيان دی. په (۲۰) ولايتونو او ولسواليو کې محلي ټلوېزيونونه موجود وو چې دوه ثلثه يې له منځه وړل شوي او چور شوي دي.

په (۱۸) ولايتونو کې محلي راډيوګانې موجودې وې چې درې پر څلور (درې ربعې) يې تخريب او له منځه وړل شوي دي.

په ټولو ولايتونو کې د راډيو د اخذې دستګاوې او په (۴۴) سيمو او ولايتونو کې ګرځنده سينمايي دستګاوې موجودې وې چې اوس نه شته."(۲)

په ۱۳۷٦ل کال کې د راډيو ټلوېزيون مسوولينو هڅه وکړه چې راډيو ټلوېزيون ته د ور رسېدلي عمومي زيان جاج معلوم کړي. تر پلټنو وروسته يې په دې باب يو رپوټ برابر کړ. په رپوټ کې څرګنده شوې ده چې په ټوليز (کلي) ډول د افغانستان راډيو ټلوېزيون ته (۲۵۲) مېليونه ډالره زيان اړول شوی دی. خو دې سره سره ځينې کتونکي چې هغوی د راډيو ټلوېزيون دستګاوې، سټوډيوګانې، ارشيفونه، ودانۍ او نور وسايط

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وسایل لیدلي، راډیو تلوېزیون ته رسېدلي زیان یې له درې سوه مېلیونو ډالرو څخه زیات محاسبه کړی دی.(۳)

په کابل کې د جګړو د پیل په څو لومړیو ورځو کې یوازې د کابل ښار د ښوونځیو د اړتیا وړ درسي موادو له درکه (۱۵) مېلیونه ډالر زیان اړول شوی دی.(۴)

لنډه دا چې د رباني - مسعود د ادارې په رامنځته کېدو سره د هېواد - په ځانګړې ډول د کابل ټولو فرهنګي او علمي مرکزونو ته زیان اړول شوی دی. دې کې داسې علمي او کلتوري مرکزونه هم شامل دي چې یا په بشپړ یا هم په نیمه او یا هم په قسمي ډول ویجاړ او له منځه وړل شوي دي. د یادونې وړ ده چې په دې ویجاړۍ کې د رباني او مسعود د ادارې د هغه وخت مخالفینو او د دوی مؤتلفینو هم ونډه لرلې ده، خو دا ټکی هم د یادونې وړ دی چې دوی ځان د هغه وخت "د اسلامي دولت" چارواکي ګڼي او دولت د فرهنګي میراثونو د ساتنې او پالنې مسولیت او دنده لري. خو د رباني او مسعود ډلې چې ځانونو ته یې "اسلامي دولت"(!) وایه، نه یوازې چې دا فرهنګي میراثونه، مرکزونه او کلتوري شتمنی یې و نه ساتل بلکې تر هر چا لومړی او په زیاته کچه دوی په خپله د هغوی په لوټ او تالان لاس پورې کړ. په ۱۳۷۳-۱۳۷۴ کلونو کې په خپله له کابل راډیو نه د موزیم او نورو تاریخي آثارو په باب چې له کابله وړل شوي وو او د پروان - کاپیسا په ولایتونو کې یې یوه برخه بېرته تر لاسه شوې وه، څو خبرونه نشر شول، خو بیا هم د یاد شویو آثارو هېڅ پته و نه لګېده. دلته به په ځانګړي ډول په ډېر لنډیز سره د کابل ښار د فرهنګي، علمي مرکزونو او کلتوري میراثونو د زیانونو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړو. دا زیانونه د ۱۳۷۱ل کال له ثور څخه د ۱۳۷۵ د میزان تر پینځمې نېټې پورې دي.

یوازې د کابل په ښار کې په لسګونو ښوونځي چې یا په نیمه یا په بشپړ ډول له ټولو امکاناتو سره له منځه وړل شوي دي. عمومي لګښت یې لسګونو مېلیونو ډالرو ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کابل پوهنتون:**

پنځوس مېليونه ډالره زيان يې زغملی، ۲۱ مېليونه درسي ساعتونه يې ضايع شوي، دوه مېليونه ټوکه کتابونه يې له منځه وړل شوي، په لسګونو استادانو يې دنده خوشې کړې، پنځه سوه عنوانه علمي ، ژورنالونه او ه زره عنوانه مونوګرافونه، تحقيقي رسالې او کتابونه، د جريدو او مجلو شپږ سوه کلکسيونه، دوه زره پنځه سوه خطي نسخې او نور آثار يې له منځه وړل شوي دي. عجيبه خبره خو دا ده چې په خپله رباني او تر يوې مودې پورې د رباني ګوند مشر هم په همدې پوهنتون کې زده کړې کړې وې. تر اوسه پورې به د نړۍ پر مخ ډېره کمه داسې بېلګه پيدا شي چې څوک دې په کوم روزنځي، ښوونځي او پالنځي کې وروزل شي او بيا دې هغه په خپله رنګ کړي او د درنو او سپکو وسلو په زرګونو ګولۍ دې ورته په سينه کې تشې کړي.

**د کابل انستيوت:**

د ودانيو په سلو کې ديرش برخې يې تخريب شوي. ۴۴ زره عنوانه علمي کتابونه او د استادانو ۵ زره عنوانه ليکلي ناچاپ آثار له منځه وړل شوي، لس مېليونه درسي ساعتونه ضايع شوي، په ټوليز ډول يې ټول زيان لکونو ډالرو ته رسېږي.

**کابل پوليتخنيک:** د کابل پوهنتون په شان يې تر ۵۰ مېليونو ډالرو پورې زيان زغملی، ۱۲ مېليونه درسي ساعتونه يې ضايع شوي او په لسګونو زره عنوانه کتابونه يې له منځه وړل شوي دي.
د نوموړو مرکزونو تر څنګ د ټول هېواد په کچه تر ۱۵ زياتو دارالمعلمينو هم هېواد ته ښوونکي روزل. دا مرکزونه هم يا په نيمه او يا په بشپړ ډول زيانمن شوي دي.

**حربي پوهنتون:**

زياتې ودانۍ يې ويجاړې شوې، ټول وسايل او وسايط يې له منځه وړل شوي، په زرګونو عنوانه کتابونه يې ضايع شوي، په اټکليز ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې زيان سلو مېليونو ډالرو ته رسېږي.

**هوايي او هوايي مدافع پوهنتون:** اکثره ودانۍ يې تخريب شوي، کتابتون يې چور شوی، وسايل او وسايط يې غلا شوي، په ټکليز ډول يې زيان دوه سوه مېليونو ډالرو ته رسېږي.

**د تخنيک اکاډمي او د پوليسو اکاډمي:** دا هم د هوايي - هوايي مدافع او حربي پوهنتون په شان زيانمن شوي چې عمومي زيان يې لسګونو مېليونو ډالرو ته رسېدای شي.

د اسلامي څېړنو مرکز، د پيداګوژۍ انستېټيوټ، د کابل تخنيکم، د ټولنيزو علومو انستېټيوټ او د کابل په لوېديزه سيمه کې نورو علمي موسسو هم دې ته ورته زيان زغملی دی.

**د افغانستان د علومو اکاډمي:**

د اکاډمۍ د کتابونو د ساتنې ګدامونه او د پلورنې اکثره ځايونه چور شوي، په سلګونو عنوانه پروژې، خطي نسخې او تر لاس لاندې،کړې او کېدونکي کارونه له منځه وړل شوي دي، د اکاډمۍ ځينې ودانۍ ويجاړې شوي، عمومي زيان يې مېليونو ډالرو ته رسېږي.

**د ليکوالو ټولنه:**

۱۵۰ زره ټوکه کتابونه يې چور شوي، ۳۰۰۰ عنوانه علمي کتابونه يې هم چور شوي چې د دواړو عمومي زيان يې ۳۲۴۰۰۰ ډالره کېږي. ودانيو ته يې هم د لکونو ډالرو په اندازه زيان اوښتی.

**د ژورنالستانو او هنرمندانو ټولنې:**

دې دواړو اتحاديو ته هم د ليکوالو د ټولنې په شان زيانونه اړول شوي دي چې لکونه ډالره اټکل کېدای شي.

**خپلواکې فرهنګي ټولنې:**

لکه ناصر خسرو بلخي، هرات باستان، حکيم سنايي غزنوي، انجمن فرهنګي امير علي شيرنوايي، انجمن دوستدران مولانا، خوشال فرهنګي ټولنه او سيد جمال الدين افغان فرهنګي ټولنه هم د خپلو امکاناتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حدودو کې زيانمنې شوې دي.

**سينماوې:**

د کابل په ښار کې ۱٦ بېلا بېلې سينماوې ځينې يې په بشپړ ځينې په نيمه او ځينې هم په قسمي ډول زيانمن شوي، چې عمومي زيان يې لسګونو مېليونو ډالرو ته رسېږي.

**ملي موزيم:**

د ملي موزيم دويم پوړ رانړول شوی او له دې موزيم څخه (يو لك) پارچې بېلا بېل تاريخي او ارزښتمن آثار غلا شوي دي. په دې موزيم کې د ۵۰ زرو کالو دمخه آثار هم موجود وو او داسې آثار هم پکې وو چې ارزښت يې په پيسو سنجېدلای نه شي. د ملي موزيم د آثارو مالي ارزښت له تصوره اوچت دی.

**د اردو موزيم او نور موزيمونه:**

د ودانۍ زياتې برخې يې نړول شوي او په لسګونو زره عنوانه آثار ترې غلا شوي دي، دغه راز نورو سيمه ييز موزيمونه لکه د هډې، غزني، کندهار او نور هم يا په بشپړ او يا هم په نيمه ډول زيانمن شوي دي.

**ملي ګالري:**

د ۱۳۷۱-۱۳۷۳ کلونو په موده کې ترې په لسګونو آثار غلا شول او د نورو (٦۹۲) آثارو برخليك لا څرګند نه دی.

**نندارتونونه:**

يوازې د کابل ننداري په سيمه کې د افغانستان د لاسي صنايعو او نورو برخو (۱۵) لوی ننداړتونونه رنګ او آثار يې غلا شوي چې عمومي زيان يې لسګونو مېليونو ډالرو ته رسېږي.

**څلي او منارونه:**

د رباني د نيمواکې واکمنۍ په مهال د کابل په ښار او نورو ځايونو کې زيات تاريخي څلي او منارونه يا په نيمه او په بشپړ ډول ويجاړ شوي لکه په کابل کې د ميوند څلی، د عبد الوکيل خان نورستاني څلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سید جمال الدین افغان ځلی، د سناتوریم یادګاري منار، د پل محمود خان د ساعت برج، د پغمان ظفر طاق او ځینې نور.

**تاریخي ودانۍ:**

په لسګونو تاریخي ودانۍ هم ویجاړې شوې لکه د دارالامان تاریخي ماڼۍ، د تاجبېګ ماڼۍ، د ارګ دننه د دلکشا او ګلخانې ماڼۍ، د چهلستون ماڼۍ، د ستالف ماڼۍ او ځینې نورې چې بیا رغاونه یې په لسګونو مېلیونو ډالرو ته اړتیا لري.

**بیهقي کتاب خپرونې موسسه:**

دوه مېلیونو جلده کتابونو ترې ورل شوي، ودانیو، وسایلو او وسایطو ته زیان رسېدلی چې عمومي زیان یې شپږ مېلیونه ډالرو ته رسېږي.

**عامه کتابتون:**

یو لك عنوانه کتابونه ترې غلا شوي، د عامه کتابتون ځانګې هم چور شوي او ودانۍ یې ویجاړې شوي چې عمومي زیان یې یو مېلیون ډالرو ته رسېږي.

**د ارګ کتابتون "وطن ګوند"** او ځینې نورو کتابتونونه هم په بشپړ ډول غلا شوي. دغه راز نور ... اوې دولتي کتابتونونه هم له منځه ورل شوي دي. د دې تر څنګ په سلګونو شخصي کتابتونونه هم تباه شوي دي. په مجموعي ډول ټوله له منځه ورل شوي کتابونه د شل مېلیونو په شاوخوا کې اټکل کېدای شي.

**خپرونې:**

د رباني تر واکمنۍ دمخه یوازې په کابل کې تر سلو عنوانو زیاتې جریدې، مجلې، ورځپاڼې او نورې خپرونې خپرېدې، چې د رباني په راتګ اکثره په ټپه ودرېدې او له منځه لاړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چاپخونې:**

یوازې د کابل په ښار کې پنځه لس لويې چاپخونې له خپلو اکثرو وسايلو، امکاناتو، د کاغذ زېرمو سره له منځه لاړې، په دې چاپخونو کې د چاپ د ټولو ماشينونو شمېر له (۱۰۰۰) ماشينونو څخه زياتېده اوهم په لسګونو ټنو کاغذ زېرمه يې لرله. د دې چاپخونو اکثره وسايل له منځه لاړل او د ځينو يې ودانۍ هم ړنګې شوې. ددې ټولو چاپخونو د ټولو شتو زيان زر مېليونه ډالره اټکل شوی دی.(۵)

**اخځونه:**

۱- د بي بي سي راډيو پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د راډيو ټلوېزيون د يو مسوول څرګندونې.

۲- شمس الحق اريانفر، نقش وسايل ارتباط جمعی در جامعهٔ امروز و فردا در افغانستان، کابل، ۱۳۷۴ل کال، ۳۲ مخ.

۳- په۱۳۷۶ل کال کې در اډيو ټلوېزيون د مسوولينو برابر شوی رپوټ.

۴- د بي بي سي پښتو خپرونه، ۱۳۷۱ل کال، د ښوونې او روزنې د يو تن مسوول څرګندونې.

۵- افغانستان ته اوښتي فرهنګي زيانونه، محمد اسمعيل يون، د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال، د زياتو معلوماتو لپاره همدا اثر کتلای شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اقلیتونه، سیاستونه او سازشونه

د ټولنپوهنې علم، په بېلا بېلو ټولنو کې ورځني ژوند او سیاسي چارو دا ثابته کړې چې اقلیتونه یا لږکي په هره ټولنه کې د هغې ټولنې د اکثریت په اندول بې ثباته وي. له استثنایي حالاتو پرته دوی هغه وخت زیات سر راپورته کوي چې هېواد له عمومي بحران سره مخ وي او همدا حالت دوی د خپل ځان او ژوند د خړو ببدو او د خپلو غوښتنو د لاسته راوړلو وخت بولي، ان که د دوی غوښتنې د ټولنې او د هېواد له ملي ګټو سره په تضاد کې هم وي. هره ټولنه په خپل ځانګړي موقعیت او حالت کې د خپلو اقلیتونو له دې ډول غوښتنو سره مخ وي. اقلیتونه کېدای شي مذهبي وي یا کېدای شي قومي. هغه هېوادونه او ټولنې چې ګڼ قومیزه وي له دې ستونزو سره مخ وي. په ځانګړي ډول هغه ټولنې چې اقلیتونه یې له نورو هېوادونو سره قومي او مذهبي اړیکي لري په خطرناک ډول له دې بحران سره مخ وي.

افغانستان هم له هغو هېوادونو څخه دی چې د یو لوی (اکثریت) قوم ترڅنګ ځینې واړه قومونه او مذهبي لږکي هم پکې ژوند کوي. دا اقلیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شي پر دوو کټګوريو ووېشل شي: يو هغه لړکي چې له بهرنيو هېوادونو سره ژبني، قومي او مذهبي اړيکي لري اوپه اصطلاح د طمعې، لمسونې،هڅونې اوپارونې اصلي سرچينې يې هم هماغه هېوادونه دي.

دويم ډول هغه اقليتونه دي چې د هېواد په دننه کې ژوند کوي، ځانګړې ژبه، تقريباً ځانګړی کلتور لري، خو له بهرنيو هېوادو سره قومي اړيکي او نور ټينګ تماسونه نه لري.

افغاني ټولنې ته لومړی ډول اقليتونه د زيات خطر او سردردۍ سبب کېږي. په دوی کې تاجکيان، چې د پخواني شوروي له تاجکستان او له ژبني پلوه له ايران، ازبکان چې د پخواني شوروي له ازبکستان او هزاره ګان چې له مذهبي پلوه له ايران سره اړيکي لري، ځينې وختونه په افغانستان کې د خپلو قومي، ژبنيو او مذهبي "حقوقو" "د تلف کېدو" چغې پورته کوي.

سره له دې چې افغانستان يو داسې هېواد و چې د اقليت او اکثريت خبره پکې چندان مطرح نه وه، که ظلم هم شوی پر ټولو شوی او که د سوکالۍ لمر هم لګېدلی نو پر ټولو لګېدلی دی. البته د ځينو واکمنو له خوا به د پردي تېري د مخنيوي او خپل اقتدار ته د خطر د له منځه وړلو په نيت پر کوم ځانګړي اتنيکي ګروپ فشار راوړل شوی وي، خو دا ټول ټال په دې مانا نه دي چې ګنې چا پر کوم ځانګړي اقليت ظلم او تعدی کړي. د نفوسو په انډول په افغاني ټولنه کې تر ټولو خراب ژوند د پښتنو و او دی. يوازې د کوچيانو پښتنو له خواريو ډک ژوند او د هغو د وګړو شمېر د افغانستان د هر اول، دويم او درېيم اقليت له وګړو نه زيات دی، پاتې نور پښتانه خو لا پر ځای پرېږده. له دې سره سره بيا هم په افغانستان کې ځينو اقليتونو ته منسوب اشخاص په قراره کېنناستل او له لرې لرې سرچينو سره يې اړيکي ټينګ کړل. يا هغوی ورسره اړيکي وساتل او په افغانستان کې يې د "اقليتونو" "محرومو اقليتونو" "مليتهای ستمديده" او نورو په نومونوشعارونه پورته کړل.

له پخوا زمانې راهيسې روسان په دې ګروهه وو چې د منځنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسیا د قومونو تر ایل کولو وروسته به د افغانستان ځینې سیمې هم د همدغو قومونو د قومي اړیکو په واسطه ایل کړي، خو ځینې پښتانه د دوی پر دې نیتونو پوه وو، نود روسانو د احتمالي او یا هم څرګند او جدي خطر په وړاندې یې پښتانه په شمال کې د یوه پولادي دېوال په توګه ودرول او هم یې د هغه ځای شاړې ځمکې پرې ابادې کړې. روسان هم ارام کېنناستل او خپلې هڅې یې پیل کړې. کله چې د افغانستان په اساسي قانون (د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د وخت) کې پښتو ژبه رسمي او ملي اعلان شوه؛ نو روسانو د یوې تبصرې په ترڅ کې وویل "د افغانستان د دولت سیاست د پښتوپالنې په لور روان دی".(۱)

وروسته یې په عملي اقدام لاس پورې کړ، کله چې پر ۱۳۴۲ل کال "د خلکو دیموکراتیک ګوند" جوړ شو، نو "ببرک کارمل او طاهر بدخشي" چې یو یې کشمیری او بل یې بدخشی ازبک و، د کمونیستي فکر تر څنګ ملي نفاق ته د لمن وهلو په فکر وروزل او کله چې یې کارمل د ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي پر شپږمه نېټه د خپلو عسکرو په زور په کابل کې پر تخت کېنباوه، نو د دې لپاره چې د افغانستان اکثریت ټولنه په یو مبهم ذهني جال کې راګیره کړي او هم ستر تاریخي مسوولیت پر پښتنو راواړوي، نو کارمل ځان "پښتون" معرفي کړ، خو د ده څېره هغه وخت را برسېره شوه چې د "حقیقت انقلاب ثور" په ورځپانه کې کارمل خپل ځان "پښتون" معرفي کړی و او محمود بریالي چې د کارمل د پلار زوی (ورور) و ځان یې تاجك ښوولی و. د اخبار تر وېشل کېدو او لوستلو وروسته دوی دې تېروتنې ته متوجه شول. وروسته یې د اخبار د ټولېدو هڅه هم وکړه، خو خلك وخته پوه شوي وو. له همدې وجې ببرك کارمل تر پایه پورې خپله بشپړه پېژندنه چاپ نه کړه، څکه چې د ده اصل او نسب پکې څرګندېده.

د ده په وخت کې قومي او ملي مسایلو ته په پټه په ډېر شدت او ښکاره په احتیاط لمن ووهل شوه. دکارمل "صدراعظم" سلطان علي کشتمند په ډاګه دانیس ورځپاڼې د۱۳۵۹ل کال په یوې ګڼې کې پښتنو ته د"اکثریت بی فرهنګ" خطاب وکړ، د "ملیتونو" نومونې دود شوې، ستمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه په ښکاره راڅرګند شول او په ډاګه یې د روسانو د شتوالي پلوی
او د پښتنو د حاکمیت غندنه کوله. په کابل پوهنتون کې له یوه ستمي سره
د شدید بحث په ترځ کې د هغه له خولې دا خبرې راوتلې چې: "برای ما بی
تفاوت است چه غلامی روسها باشد چې از پشتونها، روسها خو خوب است
برای ما خو یك چیزی میته، پشتونها برای ما چه میته؟".

کله چې ورته وویل شول چې تاسې خو دلته د پښتنو غلامان نه
یاست، تاسې ته خو په خپله ژبه د لیك لوست زمینه برابره ده. تاسې خو تول
فرهنګي مرکزونه او هر څه نیولي دي؟ خو بیا هم هغه د زهرو په کینې لړل
شوی و او چا قانع نه شو کړلای.

د کارمل په ائتلاف کې د هغه د یوه همخنګ ملګري د خولې
خبره ده چې یو څوك کارمل ته راغلل او د پښتنو په وړاندې یې د هغه د
سیاست د بدلېدو غوښتنه وکړه. هغه په هغه ورځ سخت نشه و او د نشې
په ترځ کې یې دا خبرې له خولې راووتلې: "پشتونها بسیار مردم مغرور و
با غیرت هستند و تنها ما هستم که غرور و غیرت اینها را شکستانده
میتوانیم و بس".

د اقلیت استازو(!) او یا د اقلیت په نوم سیاستوالو دا فکر کاوه
چې له پردی یاری پرته له پښتنو سیاستوالو سره رقابت نه شي کولی او نه
واك ته رسېدلی شي، نو د پردیو له غوښتنو سره سم یې خپلې غوښتنې
هماهنګ کړې او د هغوی په زور یې ځانونه قدرت ته ورسول. دې عمل ته
په پنځوسمو کلونو کې لومړی کارمل لاس ور اوږد کړ او کله چې هغه او
د هغه راوستونکي د ولس په زور له ماتې سره مخ شول، نو بیا ښاغلي
مسعود او رباني د کارمل رول پر غاړه واخیست. روسانو دا ځل د خپلې
ماتې د جبران په هیله رباني د کارمل په رول کې میکیاژ او د کابل تر
ښاره یې د سازشونو، ائتلافونو او نا چله پیسو په زور را ورساوه. مسعود
او رباني هغه څه تر سره کړل چې د کارمل لاس لا ورته نه و رسېدلی. د
کارمل شاګردانو او پلویانو "فرید احمد مزدك، او نجم الدین کاویاني" پر
۱۳۷۱ ل کال په مسکو کې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته د خبرو په ترځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وویل: "مورږ په افغانستان کې دوه اساسي کارونه تر سره کړل. یو دا چې قدرت مو له اکثریت نه اقلیت (له پښتنو نه تاجیکو) ته انتقال کړ او بل مو (جمیعت) له افراطي موضعې نه معتدلې موضوع ته را کش کړ."

ایران هم له کلونو کلونو راهیسې د افغانستان قومي وضعه څارله، نو لومړی یې په ایران کې د شیعه ګانو اته ګوندونه سره جوړ او په یوه ګوند "وحدت اسلامي" کې یې سره متحد او بیا یې سیاسي صحنې ته را دننه کړل. کله به یې په دولت کې د ۲۵ کله د ۳۰ او کله هم د ۳۵ فیصدو حقوقو او د شیعه مذهب د رسمي کولو غوښتنه کوله. په لومړي ګام کې خو د اقلیتونو د حقوقو ټول مدعیان په یوه څېل کې سره ودرېدل "همه علیه پشتونیم" شعارونه را پورته شول. ان خبره تر دې ورسېدله چې د انسانانو په سرونو کې میخونه ټکوهل شول. چا د فدرالي سیستم خبرې پیل کړې، چا ۲۵- ۳۰ فیصده حق غوښته او چا د ټولو اقلیتونو د حقوقو غوښتنه کوله، خو څه وخت لا تېر نه و چې د (اقلیتونو حامي اقلیت) لې د خپل ٦ کیلومتری حاکمیت مزي ټینګ کړل نو بیا یې په خپلو اقلیتونو پسې پښې را لوڅې کړې. په افشارو کې مسعود او رباني هغه څه له هزاره ګانو سره وکړل چې د هېواد تاریخ تر اوسه پورې دا ډول بېلګې نه دي ثبت کړي. د ۱۳۷۲ کال د جدي په جنګونو کې د دوستم د ازبکو ملېشو له اشیرانو سره هم همدا چلند وشو. د بي بي مهرو غونډۍ تر شا یې په سلګونو ازبکان ووژل او بیا یې پر ۱۳۷۳ل کال په درېیمې او څلورمې کارته او نورو سیمو کې له هزاره ګانو سره هم دا چلند وکړ. په دې برید کې یوازې څلور سوه هزاره ګان لادرکه وو، د کورونو مالونه یې لوټ شول او ان پر ښځو یې تېرې وشو. په هغو شپو کې د بي بي سي راډیو دا خبر چې "یو پنجشیری د غلا پر مالونو بار د هزاره ګانو له کورونو راووت" نشر کړ.

عجیبه خبره خو داوه چې یو وخت رباني جمهوررئیس(!)مسعود د فاع وزیر(!)اواستاد فرید صدراعظم(!) و، خو بیاهم داحمد شاه مسعود له خوا د کابل ښار د عامه کتابتون پر دېوال داسې یو شعار لیکل شوی و: "ما خواهان حقوق اقلیت ها و خواهان انتخابات به شیوه اسلامی هستیم"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو سړي حیران پاتې شي چې نور نو په هېواد کې کوم مقام پاتې و چې لړکیو ته ورکړ شوی وای. له دې څخه دا خبره ښه څرګندېږي چې د اقلیتونو حقوق ځینو کسانو ته یوازې هسې یوه پلمه وه. کله چې مسعود او رباني په کابل کې د نیمه واك واکوال وو نو اقلیتونو ته یې ښه حقوق ورکړل!

د لړکیو د حقوقو د مدعیانو سیاسي او اخلاقي شخصیت خو به هغه وخت ښه په ډاګه شو چې دوی به یو بل سره د ګټو پر سر وران شول او ټوپك ته به یې لاس کړ. یو ځل رباني دوستم خپل ولیعهد او قایم مقام وټاکه او هغه یې د خپلې زوی ولی. په مهربانۍ او لورېینې ونازاوه، خو څه موده وروسته یې هغه آق او پلار د زوی پر ضد ستر جهاد اعلان کړ، له درنو جګړو، ښکنځلو او دښمنیو وروسته بېرته پلار د زوی په حضور مشرف شو. پلار د زوی مشري او واك ومانه، ملت تباه شو، خو دوی بېرته غاړه غړې شول. د ۱۳۷۱ل کال په بهیر کې چې د (جمعیت) او (وحدت) د ډلو ملي ضد ائتلاف پر ځای و، نو عبد العلي مزاري د کابل ټلوېزیون نه لارې د رباني "اسلامي حکومت"(!) د "محرومو ملیتونو"(!) د حقوقو مدافع ګڼله، خو کال لا وتی نه و چې د "محرومو ملیتونو"(!) د "حقوقو مدافعان"(!) په خپلو کې سره ولوېدل. عبد العلي مزاري ټول هغه رازونه فاش کړل چې د نظار شورى د ستمي ډلې له خوا د هغوی د ائتلاف په وخت کې هغه ته ویل شوي وو.

عبد العلي مزاري د (حزب اسلامي) له (پیام ازادي) راډیو سره د ۱۳۷۲ل کال د جدي له جنګونو وروسته د یوې مرکې په ترڅ کې وویل: "مسعود څو ځله ما ته هیئت راولېږه او ویې ویل چې موږ او تاسې ټول محروم ملیتونه یو، موږ باید ټول سره یو ځای او متحد اوسو او د پښتنو دوه سوه کلن استعمار ته باید نوره اجازه ور نه کړو، اوس واکمني محرومو ملیتونو ته انتقال شوې ده باید د هغې ساتنه وکړو...".

کله چې د دوستم او مسعود تر منځ اختلاف پیدا شو نو هغوی هم د رباني او مسعود د ملي ضد څېرو په اړه یو شمېر رازونه رسوا کړل.

همدارنګه نظار شورا او جمعیت د کابل راډیو، ټلویزون او د خپلو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپرونو له لارې د عبد العلي مزاري، هزاره ګانو او ازبك ملېشو له ظلمونو او وحشتونو نه پرده پورته کړه. دوی ان یو د بل مخابروي تماسونه ثبت کړل او د یو بل ډول ډول ظلمونه یې ډاګیز کړل. د هزاره ګانو د "وحدت حزب" منابعو د مسعود له خوا په افشارو کې د هزاره ګانو د عامه وژنې مصور ویدیویي تلویزیوني فلم جوړ کړی و، پنجشیرانو او نورو هم د هزاره ګانو د هغو صحنو مستند فلمونه تر لاسه کړي چې د مړي نڅا (رقص مرده) یې پکې ثبت کړې ده. کله چې مسعود د کابل ښار واکمن و د هزاره ګانو د وحدت حزب یوې خپرونې مسعود ته د فاشیست خطاب کړی او په دې باب یې لیکلي دي: "فرای فاشیستان، صلح نیز جنګ است. فردی که جنایت کرده است قتل عام کرده است و اګاهانه شعار "هزاره کشی" "ازبك کشی" و "پشتون کشی" داده است چګونه می تواند به صلح تن در دهد که اولین پیمانش انحصار طلبی سیاسی و فارغ شدن پایتخت ملت و حضور نظامی سکتاریزم فاشیستی است، کابل برای مسعود حیثیت همان "تخت" را دارد که در پایش "قبر" تخت نشین تعبیه شده است.

موجودیت غیر قانونی و انحصار بیشرمانه و برهنۀ فاشیزم کابل، بر هیچکس کمان نیست، هیچکس نمیتواند انکار کند، فاشیستان حاکم بر کابل، نه تنها دشمنی خاینانه با اقشار ملت محروم نموده، بلکه بزرګترین جفا و خیانت سیاسی و اجتماعی را در برابرسرنوشت جامعه خویش نیز مرتکب شده اند. ماهیت تبلیغات جنګی فاشیزم کابل را در برابر احزاب مخالف، صرف تبلیغ در برابر ملیت ها تشکیل میدهد، اګر جنګ با جنبش ملی و اسلامی است، جنګ با ازبك ها تبلیغ میشود و حملات تبلیغاتی از طریق افواه سازی ها بر علیه کرامت و حیثیت انسانی یك ملیت سازماندهی میشود، اګر جنګ با "حزب وحدت اسلامي" است با صراحت "جنګ با هزاره و از هزاره ها انتقام بګیرید" تبلیغ میکنند که حتی خود احمد شاه مسعود، در فلمی که از حمله سه روزه ماه حوت خویش بر غرب کابل تهیه کرده است، لفظ "هزاره و هزاره" را صریحانه به جای "وحدت" میګذارد و در مخابراتش صدا میزند که "خط هزاره ها...،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنگر هزاره ها..." و وقتی جنگ در برابر "طالبان" است جنگ در برابر "پشتونها" و "پشتونیزم" و حاکمیت دوباره پشتونها تبلیغ میشود."(۲)

د "وحدت حزب" یو ویاند له بي بي سي سره په یوه مرکه کې له حکمتیار سره د خپل ائتلاف په باب وویل: "موږ تر اوسه پورې دولس ځله له مسعود سره پروتوکولونه امضا کړي او دوولس ځله هغه مات کړي دي، نو ځکه موږ له حکمتیار سره ائتلاف وکړ."

په کابل کې د رباني د څلورنیم کلنې نیمواکې واکمنۍ په موده کې دوی په اصطلاح د لږکیو د حقوقو مدعیانو په سلګونو ځله یو له بل سره ائتلافونه وکړل، خو بیا مات شول او بیا یې جګړې پیل کړې. دوی سره په سیاست کې هیڅ اخلاقي اصول او علمي معیار موجود نه و، چې د هغه له مخې د دوی سیاسي شخصیت ته اخلاقي پرستیژ ورکړي. پرهرې ډلې چې به لږه سخته راغله، نو بېرته به یې له خپلې پخوانۍ دښمنې ډلې سره ائتلاف او سازش وکړ.

د ماشومانو په څېر یې ورځ کې څو ځله جګړې کولې او بیا سره بېرته پخلا کېدل. د دوی په هره نوې دوستۍ او دښمنۍ کې به د منافقت پټ راز پروت و. د دوی په هر نوي ائتلاف او بیا د هغه په ړنګېدو سره به زموږ هېواد ته ګڼ شمېر ډرانه زیانونه واړول شول او بې شمېره هېوادوال به د ژوند له نعمت څخه بې برخې شول.

د (بچه سقاو) او (کارمل) له تجربو وروسته، له ۱۳۷۱ ل کال راهیسې دې ډلو او اشخاصو خپل هویت، سیاسي ظرفیت او کفایت نور هم څرګند کړ. د "اقلیت" په نوم شعار پورته کول او بیا د ټول هېواد د اداري چارو غوښتل او پر سیاسي چارو خېټه اچول خپله دوه متضاد فکتورنه دي. کله چې څوک په یو هېواد کې د "اقلیت" خبره او د هغو د حقوقو مسئله رامنځته کوي نو بیا خو یوازې په همدې محدود چوکاټ کې د هغه واک او صلاحیت د بحث وړ دی، نو بیا خو پر اکثریت او ټول هېواد باندې د واک خبره په خپله نفې کوي. دوی له یوې خوا د لږکیو د حقوقو چغې پورته کولې او له بلې خوا یې جمهوري ریاست، د دفاع وزارت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثره دولتي پوستونه غوښتل. نو چې جمهوري رياست، د دفاع وزارت او نور مهم پوستونه د اقليت حقوق وګڼل شي نو اکثريت ته به څه پاتې شي.؟

لکه څنګه چې دمخه يادونه وشوله د ټولنپوهنې له نظره لږکي بې ثباته وي او کله کله دخپلو ګټو لپاره پر يو دريمي ځواك او بهرني قوت ډډه لګوي، دغسې د پښتنو رښتيني واقعيت ته هم غاړه نه ږدي. په افغانستان کې هغه لږکي چې له کوم بهرني هېواد سره قومي، ژبنۍ او يا هم مذهبي اړيکي لري د هغو مدعيان ډېر زيات فرياد کوي.


"حزب وحدت" او "حرکت اسلامي" چې ځانونه د هزاره ګانو د حقوقو ساتونکي بولي، ډېرې داسې بېلګې په لاس کې شته چې دوی اصلاً د افغانستان ښتوالی نه غوښت، دوی په ايران پالنه کې دومره ډوب وو چې اصلاً د افغاني ټولنې واقعيتونه يې نه پېژندل. دوی ته د ايران داسې بې دريغه پوځي مرستې، لمسونې را رسېدلې چې هغو د افغانستان واحد جوړښت ته زيان او خطر متوجه کولای شو. د طالبانو د لوړ کچ د يو مامور په وينا موږ چې کله عبد العلي مزاري ونيو د "حزب وحدت" له دفتر څخه ځينې داسې اسناد هم لاسته راغلل چې په هغو کې دوی ته د ايران مرستې ډاګيزه شوې دي. هغه وخت چې مزاري او رباني سره مخالفين وو، نو ايران هره مياشت له مزاري سره (لس مېليونه) ډالره مرسته کوله. کله چې "حزب وحدت" پر دوو ډلو (مزاري او اکبري) ووېشل شو، نو پينځه مېليونه ډالره يې يوه ته ورکول او پينځه مېليونه ډالر بل ته!" ايرانيانو دغه راز "حزب وحدت" ته د افغانستان د وېشلو دنده هم ورکړې وه. د (اېف پي) د رپوټ له مخې "په کابل کې د احمد شاه مسعود د نظار شورا او حزب وحدت تر منځ د خونړيو جګړو په ترڅ کې حزب وحدت د افغانستان په پايتخت کابل کې د "جمهوري اسلامي هزارستان" يوه نقشه خپره کړې ده. په دې نقشه کې افغانستان د تاجکستان، بلوچستان او "هزارستان" پر سيمو وېشل شوی. په دې نقشه کې يو شعار هم ليدل کېږي:

"به پيش به طرف ايجاد سرزمين بزرګ و مستقل هزاره" نقشه د هزارجاتو هغه برخې چې له ايران سره هم سرحده دي او د "هزارستان" برخې

ګڼل شوي، ښکاره کوي.

تر ټولو جالبه خبره دا ده چې د بلوڅو، تاجکو او هزاره ګانو د تسلط له سيمو پرته نورې پاتې سيمې د افغانستان برخې ګڼل شوي دي"

وګورئ په خپله دا نقشه:



د ایران او د هزاره ګانو د حقوقو مدعیانو روابط وروسته دومره ټینګ شوي وو چې دوی هر څه له وسلو نه نیولې تر پیسو پورې نېغ په نېغه له هغو نه تر لاسه کول او هغوی هم بې له کومې پوښتنې افغانستان ته راتلل او دوی ته یې مرستې رسولې. وګورئ دا لاندې سندونه چې د دوی تر منځ انکار نه کېدونکې اړیکې ښیي:

بسمه تعالی

**حزب وحدت اسلامی افغانستان**
**شورای تصمیم گیری صفحات شمال**

**HeZb-e Wahdat-e Islami Afghanistan**
**Executive Council Northern Areas**

**Date :**
**Ref :**
**Annex :**

تاریخ: ۱۳۷۷/۳/۱۲
نمبر: ۱۳۰۸
پیوست:

برادر گرامی جناب آقای فرقانی نماینده وزارت خارجه جمهوری اسلامی ایران در مورد واگون های مواد امدادی !

السلام علیکم و رحمة الله ، و بعد ،

بدینوسیله محترم جنرال حسن علی خان مسئول انتقالات صفحات شمال، و محترم حسین فرزند مسئول [illegible] انتقالات نماینده های مرکز با بیان حزب وحدت اسلامی، در رابطه به تحویل گیری محموله مواد امدادی کمک - نماینده گان مسئول و مرکز های این حزب معرفی میشود. به آنها بذر و برنج را به نماینده گان متذکره طبق تحویل داده ممنون سازید. والسلام

حاجی محمد محقق
مسئول عمومی شمال حزب وحدت اسلامی
وزیر ...

(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسمه تعالی

برادر گرانقدر جناب سردار صاحب ناصری السلام علیکم ورحمة

بعداً!

به لطوریکه در جریان وقایع و گزارش اخیر در مورد تهاجم وحشیانه طالبان
در صفحات شمال قرار دارید که اکنون این دشمن بی فرهنگ بشهر
باستانی بلخ را در فاصله ۲۵ کیلو متری نزدیک تهدید مینماید که این تهدید
پیشا به تثبیت حاکمیت طالبان در مجموع افغانستان تلقی میگردد.
بناءً مردم باشهامت مزار شریف در کنار نیروهای رزمی جبهه متحد
ضد طالبان دارند و مصمم هستند که با تمام قوا و توان شان از حریم
مزار شریف دفاع و پایداری نمایند و هم روزه، دسته دسته نیروهای بسیجی
غرض مسلح شدن به ریاست نظامی حرکت اسلامی مراجعه مینمایند که متأسفانه
با نداشتن امکانات نظامی در برابر این جنگ گرم و سرنوشت ساز
احتیاج مبرم داریم لذا از حضرت عالی جداً توقع می رود که اقلام ذیل را
جهت تسلیح غرض بسیج نیروهای مردمی و تحکیم جبهه اطراف شهر
مزار شریف در اختیار ما قرار داده ممنون سازند:

۱- کلاشینکوف - 500 قبضه
۲- پیکا - 40 قبضه
۳- راکت - 40 قبضه
۴- هاوان 120mm - 6 عراده
۵- مهمات راکت، کلاشینکوف، پیکا، هاوان و توپ 82

از لطف سروقت و برادرانه تان متشکریم.

والسلام
رئیس عمومی ... حرکت اسلامی

(۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسمه تعالی

**حزب وحدت اسلامی افغانستان**

شورای تصمیم گیری صفحات شمال

**HeZb-e Wahdat-e Islami Afghanistan**

**Executive Council Northern Areas**

Date : ..........

Ref : ..........

Annex : ..........

تاریخ ۱۷/۱۱/۱۳۶۷

شماره ۸۴۹

پیوست ندارد

محترم جناب آقای حدادی سفیر جمهوری اسلامی ایران - مزارشریف!

السلام علیکم ورحمة ....!

ضمن آرزوی موفقیت وکامیابی شما درامور محوله آقای حاجی جواد خدمت معرفی میگردد. تا درمورد مواد کمکی که مساعدت می ورزید به ایشان تحویل نمائید.

والسلام

حاجی محمد محقق

وزیر امور داخله دولت اسلامی افغانستان

ومسئول عمومی صفحات شمال حزب وحدت

اسلامی افغانستان

جمهوری اسلامی ایران

دستر : ۱ میلیارد

ضنی : ۱٫۲ میلیارد

جواسرل ۲٫۱۰ میلیارد

عف : ۲٫۱۰ میلیارد

شیخ ابر :

(۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدغو خوړو اړیکو په ترڅ کې یو وخت د هزاره ګانو د حقوقو مدعیان دومره ایران ته نږدې شول او یا هغوی ځان ته نږدې کړل چې یو وخت ایران د افغانستان د بامیانو ولایت خپل یو ولایت ګاڼه، نو ځکه خو یې په بامیانو کې څو ځایه داسې لوحې لیکل شوې وې.

جمهوری أسلامی ایران

استان بامیان

جمهوری اسلامی ایران

ولایت بامیان.

وروستیو تجربو د دربیم ځل لپاره دا ثابته کړه - هغه څوك چې په افغانستان کې د اقلیتونو او لږکیو د حقوقو تر چتر لاندې پر افغانستان د حکومت کولو نیت لري، هغه به نه یوازې ناکامېږي، بلکې لکه د (بچهٔ سقاو، کارمل، رباني، مسعود، خلیلي او مزاري) غوندې به له شرموونکي او خندني برخلیك سره ... هم مخامخېږي. د رباني او مسعود نیمواکه واکمنې د "لږکیو" د حقوقو د مدعیانو د سیاسي شخصیت، کفایت او ظرفیت ښه څرګنده بېلګه ده.

په ټولنیز ډول ویل کېدای شي چې په هره ټولنه او له هغې جملې نه زموږ په ټولنه کې لږکي نه شي کولای له مشخص، څرګند او ناڅرګند بهرني ملاتړ پرته د ټولنې سیاسي انډول او ټولنیز ثبات ته ستر ګواښونه متوجه کړي او یا هم داسې چارو ته لاس واچوي چې په ملي کچه د دوی له ظرفیت او کیفیت څخه لوړ وي. د لږکیو د حقوقو مدعیان کوښښ کوي چې خپله طبیعي کمزوري او سیاسي بې کفایتي د منفي سازشونو، ناوړه ائتلافونو او پر بهرنیو مرستو او سرچینو باندې د ډډې لګولو له لارې پټه کړي، خو عملي تجربو ښودلې ده چې دا ډول اشخاص او ډلې په هېواد کې د ادارې او حکومت کولو نه کوم ظرفیت لري او نه هم کفایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اخځونه:**

۱) وفا جريده، پېښنور، ۱۳۷۵ ل کال، ۱۳ -۱۴ ګڼه، ۵ مخ.
۲) صفحه نو، د "حزب وحدت" خپرونه، پېښنور، ۱۳۷۴ل کال د مرغومی ۲۷ نېټه، ۲۱ ګڼه، ۲ مخ.
۳) شريعت جريده، د افغانستان د اسلامي امارت نشراتي ارګان، ۱۳۷۷ل کال، ٦۲ ګڼه، ۱مخ.
۴) // // // // //.
۵) // // // // ٦۵مه ګڼه، ۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دریمې سقاوي، د مخنیوي او د افغانستان د ملي یووالي او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په باب څو وړاندیزونه

د ټولنپوهنې علم، عملي ورځني ژوند او کړکېچونو سیاسي، پوځي او اقتصادي شرایطو او د دې تر څنګ بهرنیو لاسوهنو دا په ګوته کړې چې لږکني او د هغوی د حقوقو مدعیان د سختو بحراني شرایطو او له هغو سره د مبارزې تاب نه لري. کله کله داسې هم شي چې هغوی د تلې پلې ته ګوري، هره خوا چې درنه وي په همغه خوا کې ځان اچوي. هر کله چې پر یوې ټولنه بهرني یرغل او ناورین پیل کېږي، نو زیات ګواښ او خطر یې د ټولنې اصلي او اساسي رغنده قوم ته متوجه وي. اکثریت په هره ټولنه او هېواد کې د هغه هېواد د ثقل د مرکز اهمیت لري، هر کله چې په ټولنه او هر شي کې د ثقل مرکز له منځه ځي، نو هغه ټولنه خپل انډول له لاسه ورکوي. د بهرنیو ځواکونو یو ستر هدف همدا وي چې تر مطلب لاندې ټولنه باید بې ثباته، کمزورې او له عمومي انارشۍ سره مخ کړي او بیا پرې د خپل ښکېلاک او زبېښناك جال خور کړي. هر کله چې په یوه ټولنه کې د واك د طبیعي، حقوقي او قانوني عنصر پر ځای مصنوعي او لاس جوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکي رامنځته شي، نو په ټولنه کې په خپله د واك انډول ويجاړ شي. زموږ د هېواد په معاصر تاريخ کې درې ځله په ناطبيعي ډول او د پرديو په همکارۍ او مرسته د سياسي واك د اصلي سرچينو پر ځای د واك د يوې مصنوعي سرچينې د جوړولو هڅه وشوه. دا هڅې درې واره ناکامې شوې، خو هر ځل زموږ هېواد ته دومره زيانونه واړول شول چې رغون يې ډېر ډېره چاودون غواړي. دې هر ناتار زموږ ټولنه د پرمختګ له بهير او نړيوال تمدن څخه په لسګونو او سلګونو کاله شاته کړه او د ګران افغانستان حيثيت او نړيوال حقوقي شخصيت ته يې درون زيان واړوه. د هېواد په معاصر تاريخ کې د واك مصنوعي او کينه ييز بدلون لومړی پر ۱۳۰۷ل کال په لومړي سقاوي سره د انګرېزانو په مستقيم ملاتړ او لمسون او د کورنی ارتجاع په ملتيا د يوه غله او داړه مار حبيب الله کلکاني (بچه سقاو) په وجود کې تر سره شو. په افغانستان کې د يو نوي راټوکېدلي تمدن هيلې يې وچې کړې. انګرېزانو په يوه بله بڼه له افغانانو څخه د خپلو تاريخي ماتو غچ واخيست او افغانستان يې د نړيوال تمدن او کلتور له ثمر څخه بې برخې کړ. دې ناتار (۹) مياشتې دوام وکړ او په دې نهو مياشتو کې ټول هېواد د ناامنی، تباهی، کړاو، بدمرغی او بې کلتورۍ په رنځ اخته شو. نږدې و چې د افغانستان جوړښت او يووالی هم له سترو ګواښونو سره مخ شي. دا ناتار د افغاني غازيانو او د ملك د ژغورنديه ځواك او د واك د اصيلي سرچينو د مدعيانو له خوا ختم شو او هېواد بيا د نړيوال تمدن، پرمختګ او قانوني ژوند مسير ونيو.

دويم ځل د ۱۳۵۸ل کال د جدی شپږمه نېټه وه چې روسانو د انګرېزانو له تېښت نه په استفادې سره مستقيماً د خپلو عسکرو په زور يو مجهول الهويه شخص (ببرك کارمل) د کابل پر تخت کېناوه او يو ځل بيا ټول هېواد کې هر اړخيزه بې ثباتي رامنځته شوه، له تېرې سقاوی نه د دې ناورين زيانونه لا زيات وو. "د افغانستان په تاريخ کې دا کورټ يو ناورين دی، که له يوې زاويې څخه ورته وګورو نو په افغانستان کې د شوروي پوځ د لس کلن شته والي (۱۹۷۹-۱۹۸۹) په موده کې هره ورځ څه ناڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۴۱۸) تنه افغانان وژل کېدل (ياني د پرش تنه د رژيم ساتندويان، سل کسه مجاهدين او د ښځو، کوچنيانو او سپين ږيرو په ګډون (۲۸۸) تنه غير پوځيان).

که د پورتنيو وژل شويو کسانو د هر يوه د بدن وينه (۷,۲) ليتره فرض کړو، نو هره ورځ له دريو زرو ليترو څخه زياته وينه پر ځمکه توييدله او (۱۶۸۰) کسه نوي پر غم اخته کېدل چې په دې ډول لږ تر لږه لس ليتره ترمو اوښکو ګريوانونو ته لاره ميندله.(لېستوني مار، د نثار احمدصمد لمنليك، ۵۵ مخ)

افغانان د ډېرو سترو قربانيو په بدل کې د هېواد د کورنيو او بهرنيو دښمنانو دا ناورين پر شا وتمبوه او روسي ښکېلاك ته يې پر مخ داسې ځپېړه ورکړه چې د خپل تاريخ په اوږدو کې يې خوړلې نه وه، خو روسانو د لوبې په پای کې يو ځل بيا له شا نه پر افغان ولس ګوزار وکړ او د رباني - مسعود په وجود کې يې دا ځل د دويمې سقاوي په شان يوه بله غميزه پر افغانانو وتپله. دې سقاوي له لومړي سقاوي څخه په محتوا او مانا کې دومره توپير نه درلود، ځکه چې دواړه د پرديو په لمسه، مرسته او لاسوهنه د واك د يو مصنوعي عنصر په توګه رامنځته شوي وو. ټولنيزې او سياسي بې ثباتي، او د افغانستان د حيثيت او د افغان ملت د غرور د پيکه کولو په لاره کې يې ځغلنده منډې وکړې، خو په ځينو برخو کې ان تر لومړي سقاوي هم دمخه لاړل. د اکثريت په وړاندې د دښمنۍ څرګندول او رانېارول، د ښارونو او عامه شتمنيو لوټ او تالان، د بهرنيو هېوادونو لپاره د مداخلو د امکاناتو برابرول او په خپله د هغوی د لاس د الې په توګه کار کول، بې ناموسي، چور چپاول او نور هغه مسايل وو چې له لومړي سقاوي سره يې نه يوازې انډول برابر و بلکې له هغو څخه درونډ هم و. تر ټوله بده خبره دا وه چې دوی په شعوري ډول د هېواد د وراني، ويجاړي او تجزيه کولو ته ملا تړلې وه، مسعود او رباني خان د هغه ملي ضد ډلو ټپلو سرلاري او مخکښان ګڼل چې د پرديو په ګډه همکاري يې د افغانستان وېشل او تجزيه کول د تګلارې اساسي ټکي وو. دوی د پرديو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همکارۍ تر یوه حده د دې امکانات برابر کړي وو چې د هېواد سلامتیا ته خطرونه پېښ کړي، خو افغان ولس په بې ساریو قربانیو د دوی دا نېتونه او هیلې یو ځل بیا نهیل او ماتې سره مخامخ کړل خو له دې سره سره بیا د وخت په تېرېدو سره د دغو ډلو فزیکي او فکري شتوالي د هېواد سلامتیا د خاورې بشپړتیا، اقتصادي ودې او د ټولنیز ژوند بېپرازۍ ته یو خطر ګڼل کېږي، د دغو او دې ته ورته نورو بالفعل، بالقوه، احتمالي او اتکلیزو خطرونو د مخنیوي او بیخي له منځه وړلو لپاره دغه ځو وړاندیزونه وړاندې کېږي:

❁ د اسلام سپېڅلی دین د افغانستان د ټولو قومونو تر منځ د وصل د کړۍ حیثیت لري؛ ټول قومونه او وګړي پر اسلامي عقیده راټولېږي، نو په افغانستان کې د اسلامي عقیدې ټینګښت د افغانستان د ملي یووالي د ټینګښت سبب کېږي. د افغانستان د ملي وحدت د ټینګښت لپاره د اسلام د مبین دین، تبلیغ، ترویج او ټینګښت ته اساسي اړتیا ده، دې اصل ته باید نه یوازې زموږ د ولس د دیني فریضې په توګه وکتل شي، بلکې د هېواد د ملي یووالي د اساسي عامل په توګه هم و انګېرل شي.

❁ څرنګه چې د افغانستان د نفوس غوځ اکثریت مسلمانان دي او بیا اکثریت یې د حنفي مذهب پلویان دي، نو د اکثریت دحقوقو په پام کې نیولو سره حنفي مذهب د هېواد د رسمي مذهب په توګه منل په کار دي. ګته یې دا ده چې د افغانستان د زیات نفوس یانې (پښتنو، لږکیو {تاجکو، ازبکو، ترکمنو، بلوځو، یو شمېر هزاره ګانو او نورو لږکیو} تر منځ د وصل د کړۍ حیثت لري. د حنفي مذهب تر څنګ د بل مذهب رسمي کول په هېواد کې مذهبي او قومي اختلافونه زیاتوي او ملي وحدت ته زیان رسولی شي. البته نور اقلیتونه کولای شي په خپل چوکاټ له خپلو مذهبي مراسمو څخه برخمن وي.

❁ د دیني او مذهبي یوالي تر څنګ (افغان) او (افغانیت) د هېواد او ولس لپاره داسې الفاظ او مناسب ظروف دي چې هم تاریخي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم قومي شالید (پسمنظر) لري او هم د هېواد نوم له همدې لفظ څخه رغېدلی دی. هغه هېوادونه چې د قوم په نوم نومول شوي له رواني او سیاسي پلوه له خپل هېواد سره د خلکو د روحي پیوستون او هېوادنۍ مینې ښکارندوی کوي او د هېواد د ملي یووالي لپاره ګټور تمامېږي. نو د افغانستان ټول قومونه د (افغان) ملت په چوکاټ کې راوستل او د افغانیت د مفکورې تبلیغ او ترویج هم د هېواد او د افغانستان د ټولو قومونو لپاره په ګټه دي، نو د افغانیت مفکوره بایدد هرافغان په روح او روان ذهن او فکر کې ترزیق، تبلیغ او ترویج شي. په تېرو سترو انارشیو کې چې مخکې مو یادونه وکړه د (افغانیت) د ملي فکر او اند پر ضد په شعوري او ناشعوري ډول هڅې شوي او دا کړنې لا روانې دي، نو د هېواد د ټولو قومونو د پیوستون لپاره د اسلامیت او افغانیت د مفکورې تبلیغ او ترویج ډېر ضروري دی.

د عقایدو او مذهبونو په برخه کې لکه څنګه چې دود ده د اکثریت رایه په پام کې نیول کېږي، په ژبنۍ برخه کې هم په نړیواله کچه همدا دود دی. غوره مثال یې همدا ایران دی چې په افغانستان کې په اصطلاح د لږکیو د حقوق مدعي دی. په ایران کې ګڼ شمېر مذهبونه او قومونه شته، هلته ان قومي او مذهبي انډول داسې دی چې یو بل ته ډېر نږدې دی او داسې قوم هم نه شته لکه د پښتنو په شان چې په افغانستان کې د ټولو لږکیو د مجموعي نفوس له دوو برابرو څخه هم زیات دی. په ایران کې هغه څوك چې د اکثریت مدعیان دي.د هغوی قوم په ډېر کم تفاوت سره له بل هر قوم څخه زیات دی؛ د ټولو قومونو مجموعه له هغه قوم څخه ډېره زیاتېږي چې په ایران کې د واك پر ګدۍ ناست دی او د اکثریت مدعي دی، خو دې ډېر لږ اکثریت بیا هم په ټول ایران کې یوازې یو شیعه مذهب او یوازې فارسي ژبه رسمي کړې ده. د ایران ملت پال په دې عقیده دي چې د همدغه شیعه مذهب او فارسي ژبې رسمي کېدل او دودېدل د ایران ژوند او بقا تضمین کړې ده. دوی په دې نظر دي چې که هر کله د ایران واکمنو د مذهب او ژبې دغه مزي سست کړل، نو په همغه وخت به د لږکیو څپه راوپارېږي، ایران به له ژبني او قومي پلوه تجزیه شي. خو په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا ملتپالنه د ایران په شان پر افراطي بنسټ ولاړه نه ده. دلته پښتانه د ټولو لږکیو د مجموعې له دوو برابرو څخه هم زیات دي، نو د دې ژبې په اساسي مانا رسمي کېدل د افغان ملت یو قانوني حق او ضرورت دی. د نورو ورو قومونو لپاره هم دا په ګټه ده چې له اکثریت سره د تفاهم او سالم ژوند لپاره د خپل هېواد ملي ژبه زده کړه او هغه وپالي. د ټول افغانستان په کچه د پښتو ژبې رسمي دودېدل او کارېدل د افغانستان له ملي وحدت او د خاورې بشپړتیا ساتلو لپاره ډېره مرسته کوي او دا د مذهب تر څنګ د ملت د جوړونې او یووالي لپاره اساسي عنصر دی. تجربو ښودلې ده، د افغانستان هغو لږکیو چې د پښتنو په فرهنګي حوزه کې یې د خپلې ژبې تر څنګ پښتو هم زده کړې، نه له پښتنو سره کینه ښیي، نه د هېواد د تجزیې خبرې کوي، نه د فدرالېزم او نه هم د بېلتون. خو بر عکس هغه لږکي چې د ځینو شرایطو خصوصاً د پردیو د ژبني، فرهنګي او سیاسي نفوذ، اغېز او لاسوهنو له کبله له پښتو ژبې څخه لرې ساتل شوي، په هغوکې ځینې داسې اشخاص او ډلې تپلې راوزېږول شوي چې نه یوازې له پښتو سره خپله کینه ښیي، بلکې افغان، افغانیت او افغانستان هم نه غواړي او د تجزیې او بېلتون په لټه کې دي. د پښتو ژبې عامېدل او دفتري کېدل د لږکیو د ژبو د محوه کولو په مانا نه دي، بلکې لږکي حق لري په خپلو منځو کې خپله ژبه د پوهولو راپوهولو د وسیلې په توګه وکاروي او تعلیم پرې وکړي، خو کله چې خبره د هېواد کچې ته راوځي نو دوی مجبور دي د اکثریت حقوقي حیثیت ته غاړه کېږدي او هغه قانون ومني چې په نړیواله کچه د هېوادو د ژبني پرابلم د حل لپاره منل کېږي.

● د پښتو ژبې دولتي او دفتري کېدل به د هغې متبذلې بروکراسۍ مخه هم ونیسي چې د وخت په تېرېدو سره یې د هېواد د اکثریت یوه برخه د اقلیت په ژبني ستم کې ورګډوله او بیا ترې داسې اشخاص جوړېدل چې ذهن او ژبه یې پردي شوي وو او د خپل هېواد پر خلاف د پردیو د لاس آله ګرځېدل. د پښتو ژبې عامېدل او دفتري کېدل د افغان ملت جوړونې لپاره یو اساسي او ستر عامل دی، چې که عملي شي د وخت په تېرېدو سره به یو واحد ملت جوړ شي او د ژبنیو او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومي ستونزو مخه به ونيسي.

❁ د دې په خاطر چې د هېواد په شمال کې د روسانو او په مرکزي آسيا کې د هغوی د نويو لاسپوڅو حکومتونو اوږده ستراتيژي او هيلې د تل لپاره له ماتې سره مخامخ شي نو د هېواد له ختيځ، جنوب ختيځ او جنوب لوېديځ څخه دې ګڼ شمېر وګړي يا په ډله ييز او يا هم په انفرادي ډول د هېواد شمال ته ولېږدول شي او هلته دې شاړې ځمکې ورکړای شي، له همدغو يادو سيمو څخه دې هغه لږ ځمکي او بې ځمکې وګړي هم تشخيص شي چې اوس د ځمکې او کور د نشتوالي له کبله کړېږي؛ په پاکستان او ايران کې د کورنۍ د ژوندي ساتلو لپاره په کار پسې سرګردانه ګرځي. د دې کار ګټه به دا وي چې يو خو به له هېواد څخه يو اسلامي - عقيدوي او ملي - ژبنی کمربند راتاو شي، د روسانو او په منځنۍ اسيا کې به د هغو د لاسپوڅو حکومتونو د احتمالي فکري او پوځي يرغمل مخه به ونيسي؛ بل به دا خلك له فقر او غربت څخه خلاص شي او پرديو هېوادو ته به په کار پسې نه ورځي. د هېواد په شمال کې به د يوې ټوټې ځمکې خاوندان شي، ژوند به يې آرام شي، هغه شاړې ځمکې به آبادې کړي او د هېواد د ملي اقتصاد په وده کې به برخه واخلي. بله ستره ګټه به يې دا وي چې هېواد ته د تجزيې د راتلونکي اتکليز خطر په مخنيوي کې به مرستندوی واقع شي. د هېواد په شمال کې به قومي انډول او توازن ټينګ او د روسانو په وړاندې به د يو مدافع دېوال کار تر سره کړي. د هېواد تېرو واکمنو چې له نن څخه تقريباً اويا اتيا او يا هم سل کاله دمخه کوم وګړي له ختيځ، جنوب او لوېديځ څخه د هېواد شمال، کندوز، بغلان، جوزجان، بلخ او نورو سميو ته لېږدولي وو، هغوی نه يوازې دا چې هلته پراخه شاړې ځمکې آبادې کړې او د هېواد اقتصاد يې تقويه کړ، بلکې د روسانو د يرغل په شا تمبولو کې يې هم کارنده ونډه واخيسته او هم يې د هېواد د تجزيې په مخنوي کې اساسي رول ولوباوه. که چېرې په کندوز، بغلان، بلخ او د شمال په نورو سيمو کې د پښتنو شتوالی نه وای، نو کېدای شول د افغانستان د ټوټې کولو لپاره زموږ د هېواد د کورنيو او بهرنيو دښمنانو هيلې تر يوه حده بري ته رسېدلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

❁ د کابل ښار په شمال کې د چتملي دښته پرته ده، د کابل د دايمي امنيت په خاطر بايد دا سيمه د جنوب او لوېديځ او ختيځ پر بې سرپناه او داسې کورنيو باندې دِ کورنو لپاره ووېشل شي چې له روسانو او د هغو له پاتې شونو سره په جګړه او مبارزه کې يې د کورنۍ يو تن غړی د شهادت مقام ته رسېدلی وي. ګټه به يې دا وي چې بې سرپناه کورنۍ او د شهيدانو وارثين به پکې د يوه پناه ځای خاوندان شي او بل به له کابل نه يو عقيدوي او ملي کمربند راتاو شي.

❁ د بګرام د هوايي ډګر له څنډو څخه نيولې د کابل تر خواجه رواش هوايي ډګر پورې لويه دښته بايد د هېواد ختيزو، جنوبي او لوېديزو سيمو ځينو لږ ځمکې او بې ځمکې خلکو ته په ډله ييز او يا هم په انفرادي ډول ووېشل شي. ګټه به يې دا وي چې يو خو به دا سيمه اباده شي او بل به کابل په دايمي امن کې راوستل شي او د هغه عمل د تکرار مخه به ونيول شي چې په يوه پېړۍ کې دوه ځله دکابل په ښار کې جوړ شوی تمدن د شمال د ياغيانو له خوا د يو يرغل په نتيجه کې لوټ او تباه شو.

❁ د کابل په شمال کې دې تر سالنګه پورې شاړې دولتي ځمکې په ډله ييزډول د ختيځ، جنوب، او جنوب لوېديز پر ځينو خېلونو ووېشل شي. ګټه به يې دا وي چې په دې سيمه کې به قومي انډول مراعت شي او د مرکزي دولت په وړاندې به د بغاوت امکان له منځه لاړ شي.

❁ څرنګه چې د پنجشير سيمې اوسېدونکو ته بهرنيو او د هغو ګوډاګيانو د افغانستان د نورو ولس په وړاندې يوه ناوړه کينه او فکر ورکړی، نو د دې په خاطر چې دوی د بهرنيو توطئه ګرو د لاس اله نه شي او د دې سيمې، له جغرافيايي او پوځي موقعيت څخه د ټول افغانستان پر ضد ګټه پورته نه کړي، نو بايد دا سيمه له اوسنيو وګړو څخه تصفيه شي او اوسېدونکو ته يې د هېواد په ختيځ او ياهم جنوب لوېديځ کې د هغو انډول او يا هم تر هغو زياته ځمکه ورکړای شي. ملي حکومتونه حق لري د هېواد د ملي ګټو د تضمين او ملي يووالي د تامين لپاره له يوې سيمې څخه ځيني خلك بلې سيمې ته يا په موقتي يا هم په دايمي ډول ولېږدوي، کله چې د هېواد ټول جوړښت نه د يوې سيمې د ډېرو کمو وګړو له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيان رسېږي، نو ملي دولت مجبور دی چې هغه سيمه يا په موقتي او يا هم په دايمي ډول له هغو وګړيو تصفيه کړي.

که چېرې کومه داسې سيمه، ولسوالي او يا هم کوم بل ځای چې هلته پښتانه اوسېږي او په دې سيمه کې يې شتوالی د افغانستان ملي يووالي او دخاورې بشپړتيا ته ګواښ او زيان متوجه کوي، ملي دولت حق لري چې هغوی هم له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته ولېږدوي.

❁ د دې په خاطر چې له افغانستان څخه د ايران لاس بيخي لنډ شي، نو د باميانو سيمې په هغو ځمکو کې چې د دولت ملکيت ګڼل کېږي، بايد له ختيځ، جنوب او جنوب لوېديځ څخه ځينې نور قومونه ځای پرځای شي او هغه څړځايونه چې په دې سيمه کې پخوا د کوچيانو په واک کې وو بايد بېرته هغو ته وسپارل شي او هم د نورو څړځايونو او ورشوګانو په جوړولو کې دې ورسره مرسته وشي، دا به د افغانستان د مالدارۍ لپاره ډېره ګټوره ثابته شي.

❁ له ايران سره په ګډه پوله کې بايد جنوب اوجنوب لوېديځ څخه ځينې خېلونه ځای پر ځای شي. د دې کار ګټه به دا وي چې دا خلك له ايران سره مذهبي او ژبنی بېلتون لري، د ايران د لاسوهنې امکانات به په دې ډول له منځه لاړ شي.

❁ هغه فرهنګي، علمي، تاريخي، مذهبي او نور آثار چې له ايران څخه افغانستان ته راځي، بايد د يو کمېسيون له خوا وکتل شي او هغه کتابونه او خپرونې چې افغاني ضد او د حنفي مذهب ضد ليکنې پکې شوې وي بايد داخل ته پرېنښودل شي.

❁ د هېواد شمال خصوصاً کندز او بغلان ته د سالنګ له لارې پرته بايد له ختيځ څخه د يوې بلې لويې لارې د جوړېدو امکان هم برابر شي. کله چې د بېلا بېلو عواملو له کبله د سالنګ عمومي لاره له ګټې وځي، بايد له دې بلې لارې څخه ګټه پورته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ARIC Established 1989

## اخخونه


۱) دوکتور خلیل الله وداد بارش: امیر حبیب الله کلکاني مردی در حریق تاریخ، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.

۲) مولانامحمد صادق حسین صادق صدیقي: کابلي والا، د پوهندوی عبدالخالق رشید تبصره، هیله مجله، ۱۳۷٦ل کال، ٦مه گڼه.

۳) مولانا اغا رفیق بلند شهری: رویداد های بغاوت افغانستان، مترجم آراکوزیاوال، کراچی، ۱۳۷۴ کال.

۴) تاریخ معاصر افغانستان، از استرداداستقلال تاانقلاب ثور، کابل.

۵) میرغلام محمدغبار: افغانستان در مسیر تاریخ، کابل، ۱۳۴٦ل کال.

٦) مارشال شاه ولي خان: یاداشت های من، کابل.

۷) سردار فیض محمد خان زکریا:همدا اثر

۸) سپه سالار محمد نادر خان، // //

۹) حبیب الله کلکانی (بچه سقاو) // //

۱۰) پوهنوال ډاکتر زېورالدین زېور: د پښتو معاصر ادبیات، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی،پښتو څانگه.

۱۱) محمد اسمعیل یون: د محمد گل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه، پېښور، ۱۳۷۳ل کال، د پوهاند رشاد یادښت.

۱۲) عبدالجلیل وجدي: افغانستان د لویې لوبې ستېج، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷٦ل کال.

۱۳) واك فوندېشن د افغانستان لپاره: د افغانستان قومي جوړښت، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIC
B
4·3842
AFG
7950

- لومړی سقاوی ته یو لنډ نظر.
- په حاکمیت کې محکومیت
- اقلیت د اکثریت په رول کې.
- کارمل: پېژندنه او د شخصیت شننه.
- پرچم واکې: پښتو او پښتانه.
- د ډاکټر نجیب الله حاکمیت او د پښتنو محکومیت
- طاهر بدخشی او د ستمیانو جوړښت.
- "برابر ملیتونه" او د هغو تعبیرونه.
- دویمه سقاوی.
- رباني د کارمل په فکري او د بچه سقاو په عملي رول کې.
- مسعود د یو اتل په څېره کې یو ګوډاګی او د دویمې سقاوی یو اساسي لوبغاړی.
- د هېواد د اقتصاد ویجاړي او د پیسو انفلاسیون.
- ټولنیز حالات.
- قومي، سیمه ییزه او ژبنۍ کینه.
- د هېواد فرهنګ ته اړول شوي زیانونه.
- اقلیتونه، سیاستونه او سازشونه.
- د دریېمې سقاوی د مخنیوي او د افغانستان د ملي یووالي، او د خمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په باب خو وړاندیزونه.

دافغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR GERMANY
د خپرونو لړ: (۱)

دویمه سقاوی
سمسور افغان
۱۳۷۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**